Khyber.ORG

# Presents



څوک چې ګوري راته　　　وایم دا به ته یې
څوک چې خاندي راته　　　وایم دا به ته یې
دا به ته یې　　　دا به ته یې　　　دا به ته یې
بس په دغه رنګه　　　زه په (دا) او (دا) کې

# په لټون ستا دَ څېرې

دَ سلو یار شوم

## افضل شوق

له اړخه دَ
سکام ادبي اکېډمۍ کوئټه

# حقوق محفوظ

دَ شاعرۍ دا پښتو کتاب، چي دَ "په لټون ستا دَ ښېرې" تر عنوان دلاندي په کال ۲۰۰۳ع کي چاپ او دَ افضل شوق په نامه مارکیټ کي خپور کړلی شو .. همه حقوق یې دَ شاعر په نامه محفوظ ساتل کېږي.

# دَ کتاب په باب

| | |
|---|---|
| دَ کتاب نوم | په لټون ستا دَ ښېرې |
| شاعر | افضل شوق |
| دَ چاپ کال (اول ایډیشن) | ۲۰۰۳ع |
| دَ چاپ شمېر | ۱۰۰۰ کاپۍ |
| کمپوزنګ | قامیار خان / حکمتیار خان |
| اهتمام | اولس یار خان / عزیز یار خان |
| ټائټلز | تمثیل حفصه اسلام آباد |
| چاپ ځای | عالم پرنټرز اسلام آباد |
| له اړخه | سکام پښتو اکېډمي کوئټه |
| بیهه | ۲۰۰ کالداري پاکستانۍ<br>250 افغانۍ<br>۱۴ امریکائي ډالر |

# دَ کتاب تر لاسه کولو درک

- یونیورسټي بُک ایجنسي خیبر بازار پېښور
- صحاف نشریاتي موسسه کاسي روډ کوټه
- عظیم پبلیشرز سوئیکارنو چوک پېښور
- دانش کتابتون ډهکي قیصه خوانی پېښور
- پښتو اکېډمي بُک سټال ، پېښور یونیورسټی
- ګوشه ادب جناخ روډ کوټه

# انتساب دَ کتاب

دَ پښتو دَ جدید غزل سرخېل، نامتو محقق، سترګه ور نقاد او دَ قدر وړ انسان سعید ګوهر او وَ پښتو ژبې ته تر هر څه ور تېر بې ساري شاعر او غښتلي نثرنګار سید خېرمحمد عارف په نوم ..... چې دَ دواړو دَ مثالي دوستۍ له برکته نه یوازي دَ اُردو او پښتو ادب نابغهٔ عصر، اوچت شاعر او منلي نثرنګار پروفیسر ربنواز مایل په مشرۍ کې دَ لورالائي پښتو مکتبه فکر لومړۍ خښته کښېښول شوه ، بلکې دَ ګران سهېل جعفر او محمود ایاز په ډؤل بې شمېره پیاوړي شاعران او نثر لیکونکې یې هم دَ پښتو په چوپړ داسې بوخت کړل، چې اوس بې دَ لورالائیاتو دَ ذکر او فکر .... پښتو ژبه او ادبي تاریخ نیمګړی دی.

# انتساب دَ ژوند

زما ژوندون
دي شي لوګی په هغو
چې زما دَ هر
لیدلي خوب په شانې
پښتو کوي
او پښتونواله پالي

# انتساب دَ جذبو

زما جذبې
په نوم دَ هغه احساس
چې سرېتوب
دَ سرلوړۍ په خاطر
مرام ګڼي دَ ژوند

یوازې مینه

# انتساب دَ شاعرۍ

زما شاعرۍ
په نوم دَ هغې پېغلې
چې زما دَ خیال
دَ هر یو نقش په سمه
په نرۍ زنه
شینکی خال هم لري

افضل شوق

# ډېره ډېره مننه

- دَ پښتو نظم او نثر دواړو میدانونو دَ یو غښتلي ، منلي او ښېځي باصلاحیته او رښتوني نقاد او شاعر مشر سلیم راز صاحب دَ ژوري کتنې دَپاره ، چې هغوئ له ما سره دَ یو مشر په حېثیت مینه په وار وار رقم کوي هم او ما دَ خپل بې کچه خلوص په اثر په خپلو پلونو باندې تګ ته پاروَي هم.

- دَ عزتمن مشر او دَ جدید پښتو غزل سالار ، لوی محقق او نر پښتون نقاد سعید ګوهر دَ زړه له کُومې دَ کره کتنې او ماهرانه رائیو په حقله ، چې زما حوصله نوره نوره زیاتوي.

- دَ نظم په اړه دَ یو روشن خیال ، خو نالیدلي شاعر ګران پیر محمد کاروان.... چې زما دَ کتاب په حقله یې وړه لاکن بامعنا او خوږه رائې له کابل څخه په رالېږلو زما حوصله افزائي وکړه.

- دَ قدر وړ او زما دَ خوښې په یو ځو آزاد نظم لیکونکو شاعرانو کې شمېر سوچه او کره پېغلې حسینه ګل ، چې دَ ګټَورو رائیو دَ اظهار پرته یې دَ دې کتاب په چاپَولو کې ماته ښې مشورې راکړې.

- (دَ شګو مزل) نوموړې شاعرې ډاکټر فریده هوډ ، چې تر ارزښت زیات لیکلو سره سره یې ماته په غېر ارادي توګه دَ دې کتاب نوم هم هغه وخت راپه ګوته کړو ، چې کله یې په لومړي ځل په فون باندې ماته زما نظم (دَ سلو یار ) په یادو راتېرَولو.

- دَ اباسین یوسفزي دَ تیکنیکي هلو ځلو او مرستې دَ پاره ، چې دَ دې کتاب دَ چاپ کولو په اړه یې ارزښتناکې ګڼم.

- دَ تمثیل حفصه ، چې زما کتاب یې په خپل لاس جوړ کړل شوي ټائیټل باندې ښائیسته کړو. زه یې دَ بریالیتوب دَ پاره دُعا کوم.

- دَ سهېل جعفر، چې دَ کتاب دَ ښائيست په باب يې ماته ګټورې او ښې مشورې راکولو سره سره دَ شاعرۍ په انتخاب کې مدد هم وَکړو.

- دَ ګران ملګري محمود اياز ، چې دَ شعر او شاعرۍ په نان سټاپ مجلسونو او خبرو يې دَ ډېرې مُودې ورسته يو ځل بيرته په ما کې ويده شاعر راويښ کړو.

- دَ خوارِه يار عنايت الله ضياء چې دَ کتاب په چاپَولو کې له ما سره نه يوازې هر لور تښتېدو بلکې په ګټورو مشورو يې ماته لارې هم را هوارَولې.

- دَ خپل ژوند دَ ملګرې ډاکټر وهيبه سکاني افضل ، چې که څه هم لا تر اوسه په پښتو سمه نه پوهېږي ، خو دَ پښتو په دې کتاب چاپَولو يې وَ پارَولم څه ، چې دَ کتاب ټول خرځ يې لا هم پخپله دَ (نه هېرېدونکي ګفټ) راسپارلو په نېک نيت وکړو.

- دَ هر لوستونکې ، چې دا کتاب لولي او لائبرېرۍ ته يې په دې جذبه ور سپاري ، چې په شېرينه پښتو کې ليک دی.

*****

# فهرست

سپلانی شاعر ........................................................................................1
افضل شوق؛ دَ جمالیات شاعر ............................................................7
دَ سلو یار ........................................................................................10
دَ ښکلا لټون....................................................................................14
افضل؛ دَ خپل شوق په پړاؤ................................................................15
دَ ښکلا انځورګري...........................................................................17
لړي ترخې؛ ډېري خوږې خبرې...............................................................20

نظمو برخه
نظم ۱ ؛ حمد شریف.............................................................................**23**
نظم ۲ ؛ یا محمد صلی الله علیه وسلم....................................................**23**
نظم ۳ ؛ اتهم رنګ ............................................................................**24**
نظم ۴ ؛ اشنا به اوس له ورکو چرته غواړم ؟............................................**24**
نظم ۵ ؛ اشنا زما څه نا آشنا غوندي دی ................................................**25**
نظم ۶ ؛ اعزاز ....................................................................................**25**
نظم ۷ ؛ انسانان.. شهیدان او غازیان.......................................................**26**
نظم ۸ ؛ انصاف او عصري تقاضې ..........................................................**27**
نظم ۹ ؛ او په ما یې دائره راتینګوله...........................................................**27**
نظم ۱۰ ؛ اورونه...................................................................................**28**
نظم ۱۱ ؛ اوس تېرَېږه ، دَ یو ورک لارَوي غوندې ، څکه ..........................**29**
نظم ۱۲ ؛ اُوف کولی نه شم.......................................................................**29**
نظم ۱۳ ؛ او لا وصال ته ، بلا عُمر ګوري.....................................................**30**
نظم ۱۴ ؛ اې دَ فرعون په نوم ناوسه خُدائیه ! ...........................................**30**
نظم ۱۵ ؛ آخر تر څو... ........................................................................**31**
نظم ۱۶ ؛ آسره ....................................................................................**31**
نظم ۱۷ ؛ آئیډیل ..................................................................................**32**

نظم ۱۸ ؛ بائیللی واک ........................................................ 32
نظم ۱۹ ؛ بیا بیا توبه ماتوم......................................................... 33
نظم ۲۰ ؛ بیا هغه زه ... او زما له نوي سره سترې سفر ........................... 33
نظم ۲۱ ؛ بې اظهاره مینه.......................................................... 34
نظم ۲۲ ؛ بې تعبیره خوب ......................................................... 35
نظم ۲۳ ؛ بېرغونه ................................................................ 35
نظم ۲۴ ؛ بېلتون.................................................................. 36
نظم ۲۵ ؛ پټ پُټانې ............................................................... 36
نظم ۲۶ ؛ پټ سرې ............................................................... 37
نظم ۲۷ ؛ پټې څبرې .............................................................. 38
نظم ۲۸ ؛ پښتني بول............................................................... 38
نظم ۲۹ ؛ پښتنې په خپل نظر کې.................................................... 39
نظم ۳۰ ؛ پښتو ................................................................... 40
نظم ۳۱ ؛ پښتون کله منله ماته.................................................... 41
نظم ۳۲ ؛ پلمه دَ احساس .......................................................... 41
نظم ۳۳ ؛ په پُرسد ځان... دَ لېونی مینې له جوره زه هم.............................. 42
نظم ۳۴ ؛ په تمه تمه دَ دیدن یې لاړم زوړ شوم...................................... 42
نظم ۳۵ ؛ په ظالمو اداګانو یې مرئیې کړم........................................... 43
نظم ۳۶ ؛ پیسا ټاؤر ، دَ کبر څرګند علامت......................................... 44
نظم ۳۷ ؛ تحلیل ، که تکمیل ؟ ..................................................... 44
نظم ۳۸ ؛ تعبیر دَ خوب ، که تدبیر ... ؟............................................ 45
نظم ۳۹ ؛ تنده..................................................................... 46
نظم ۴۰ ؛ تو پیر په تور او سپین کې............................................... 46
نظم ۴۱ ؛ ته به له بل سره سیالي څه وکړې ؟......................................... 47
نظم ۴۲ ؛ ته یې منې ، که نه منې خو یاره !.......................................... 47
نظم ۴۳ ؛ جنتي دوزخیان........................................................... 48
نظم ۴۴ ؛ جنګ ................................................................... 48
نظم ۴۵ ؛ جوړه مړیمه ، یا وینمه خوبونه............................................ 49

نظم ۴۶؛ جهاد في سبيل الله ..................................................... 49
نظم ۴۷؛ چې ته خالي غېږه په ما ډکوې ..................................................... 50
نظم ۴۸؛ حاکم ..................................................... 51
نظم ۴۹؛ حقه دا ، چې داسې نه ... خو ، ګُله یاره ! ! ..................................................... 51
نظم ۵۰؛ حقه دا ، چې که حق وایم ... خفه کېږې ..................................................... 52
نظم ۵۱؛ خپل ... خو ، لکه پرېدی ..................................................... 52
نظم ۵۲؛ خپل لکه دُښمن ..................................................... 53
نظم ۵۳؛ خلک هم څومره ساده دي ؟ ..................................................... 53
نظم ۵۴؛ خو ، آئینې ته ګورم ..................................................... 54
نظم ۵۵؛ خوبونه ..................................................... 54
نظم ۵۶؛ خوبَولی تعبیر ..................................................... 55
نظم ۵۷؛ خو ، دا مې واوره اشنا ! ..................................................... 56
نظم ۵۸؛ خیالي بڼه ..................................................... 56
نظم ۵۹؛ ځناور ... خو ، دَ دوؤ پښو ..................................................... 57
نظم ۶۰؛ څوک په حق او څوک ناحقه ؟ ..................................................... 57
نظم ۶۱؛ څوک دَ چا په لټون ؟ ..................................................... 58
نظم ۶۲؛ څومره غټه ده دُنیا ، په واړه ځان هم ..................................................... 59
نظم ۶۳؛ څه نوم درکړم ؟ ..................................................... 59
نظم ۶۴؛ څېرې ، آئینې او سوالونه ..................................................... 60
نظم ۶۵؛ دا په تا څه وَشو ؟ پښتونه وایه ! ..................................................... 60
نظم ۶۶؛ دا جنۍ وې ، که دَ اور بلې لمبې وې ؟ ..................................................... 61
نظم ۶۷؛ دا خبر زما نه ، آئینه وائي ..................................................... 62
نظم ۶۸؛ داسې نه ، چې ..................................................... 62
نظم ۶۹؛ دَ امن دَ ناوې په واده کې ..................................................... 63
نظم ۷۰؛ دَ افغاني غمو خوږلیه مسیحا ! ..................................................... 64
نظم ۷۱؛ دَ انساني فطرت په سمه ..................................................... 65
نظم ۷۲؛ دَ بابا خوبونه هم واړه دروغ شول ..................................................... 66
نظم ۷۳؛ دَ پرونۍ څېرې په لټون ..................................................... 67

نظم ۷۴؛ دَ پښتون په کور تياره ده .......................................................68
نظم ۷۵؛ دَ تيارو په زد ملګري لټوؤ مورِ.......................................................69
نظم ۷۶؛ دَ خوشحال بابا دَ تورُي متېي .......................................................70
نظم ۷۷؛ دَ ځناورتون خاونده ! .......................................................72
نظم ۷۸؛ دَ دي آغاز ، انجام به څه وي ؟.......................................................72
نظم ۷۹؛ دَ زُوی په سر باندې سودا ته جوړېدليه پلاره !.......................................................73
نظم ۸۰؛ دَ ژغ څېره .......................................................74
نظم ۸۱؛ دَ ژوند سوال ، ځواب هم سوال.......................................................75
نظم ۸۲؛ دَ ژوندون څېره .......................................................75
نظم ۸۳؛ دَ سرِيتوب په اړه پرَه وروره ! .......................................................76
نظم ۸۴؛ دَ سلو يار.......................................................77
نظم ۸۶؛ دَ شملې په نوم چې مورِ نن .......................................................77
نظم ۸۷؛ دَ شېکسپئير دَ مجسمې په وړاندې.......................................................78
نظم ۸۸؛ دَ ښکلي ژغ مظلومې څېرې .......................................................79
نظم ۸۹؛ دغې رښتې له به نوم څه ورکوؤ ؟.......................................................80
نظم ۹۰؛ دغه دي مينه ، که ادا وَکنم ؟ .......................................................81
نظم ۹۱؛ دغه زَما ، هغه دَ دوئ مجبوري.......................................................81
نظم ۹۲؛ دَ فرعون سره دَ شوي قول په سمه.......................................................82
نظم ۹۳؛ دَ فرعون لوُر.......................................................82
نظم ۹۴؛ دَ کُوټل شوؤ احساساتو په تول.......................................................84
نظم ۹۵؛ دَ لارښود په مرګ .......................................................84
نظم ۹۶؛ دلته سودا ده ، دَ حاضرو سترګو .......................................................85
نظم ۹۷؛ دَ لمر، سپوږمۍ ، مځکې مجرم ګليلئيو !.......................................................86
نظم ۹۸؛ دَ مائيکل اېنجلو دَ لغَړې مجسمې په وړاندې .......................................................86
نظم ۹۹؛ دَ مقدسه ښار فرېبي ژوند .......................................................87
نظم ۱۰۰؛ دَ مفلسۍ په جُرم .......................................................87
نظم ۱۰۱؛ دَ موزارټ په موسيقۍ کې.......................................................88
نظم ۱۰۲؛ دَ ميلانو څلي.......................................................89

نظم ۱۰۳؛ دَ ناروا فتوې په سمه ........................................................................89
نظم ۱۰۴؛ دَ ننتاشا په نوم........................................................................90
نظم ۱۰۵؛ دَ نن انسان او........................................................................90
نظم ۱۰۶؛ دَ نیس شپه ، زه او یادونه........................................................................91
نظم ۱۰۷؛ دَ یوه وجود... بېل اندامونه ........................................................................92
نظم ۱۰۸؛ دَ یویشتمې پېړۍ انسانه ! ........................................................................92
نظم ۱۰۹؛ دَ هر ګور وَ سر ته شنه شول نور سرونه........................................................................93
نظم ۱۱۰؛ زړه چاوډې سانحه........................................................................94
نظم ۱۱۱؛ زما او ستا تر میان دَ مینې عجیبه تړون دی........................................................................94
نظم ۱۱۲؛ زمری څنګه غوئیی شو... ؟ ........................................................................95
نظم ۱۱۳؛ زېری دَ مینې ........................................................................96
نظم ۱۱۴؛ زه له تا ، په پټه تا رابېلومه ........................................................................97
نظم ۱۱۵؛ ژوند ........................................................................97
نظم ۱۱۶؛ ژوند او زه ........................................................................98
نظم ۱۱۷؛ ژوند... څه کم دی له دوزخه ؟........................................................................99
نظم ۱۱۸؛ ژوند ، که فرېبي جنت ؟ ........................................................................99
نظم ۱۱۹؛ سپین بېرغ ........................................................................100
نظم ۱۲۰؛ ستا په لوري در روان یم ........................................................................100
نظم ۱۲۱؛ ستا دلاس مړی به په تا پسې وي........................................................................101
نظم ۱۲۲؛ سجده ........................................................................102
نظم ۱۲۳؛ ستا خدائي نه شوه بربنډه ........................................................................103
نظم ۱۲۴؛ سرابونو غولوَلی مسافر ........................................................................104
نظم ۱۲۵؛ سر پرېکړَي انسانان........................................................................104
نظم ۱۲۶؛ سوب که ما دَ رسوائي ګنې ته .... ؟........................................................................105
نظم ۱۲۷؛ شعرونه ........................................................................106
نظم ۱۲۸؛ شک دَ ایمان زیان دی ........................................................................106
نظم ۱۲۹؛ عجبه نه ده ، چې دَ داسې پرمختګ پرته هم........................................................................107
نظم ۱۳۰؛ عجیبه انځور ګري ده ........................................................................108

نظم ۱۳۱؛ عجیبه ګلوبلائزېشن ...؟ ........................................................ 108
نظم ۱۳۲؛ غلې جذبې ........................................................ 109
نظم ۱۳۳؛ فاصلې چې څنګه رالنډېږي؛ انسان دومره له انسانه لیرې کېږي .... 109
نظم ۱۳۴؛ فېري آف لورلائي راک (دَ لورالائي راک ښاپېرۍ) ........................ 110
نظم ۱۳۵؛ کرسټوفر کولمبس ته... خو، دَ هغه دَ کشتۍ په وړاندې ........................ 111
نظم ۱۳۶؛ قتل ........................................................ 112
نظم ۱۳۷؛ کچکولی زړه ........................................................ 113
نظم ۱۳۸؛ ګلوبل سائن ........................................................ 113
نظم ۱۳۹؛ ګنهه ځان زه ځناور په دې، چې... ........................................................ 114
نظم ۱۴۰؛ ګونګۍ مینه ........................................................ 115
نظم ۱۴۱؛ ګیله ...لاکن له چا؟ ........................................................ 115
نظم ۱۴۲؛ لرې په زړه غاښونه ........................................................ 116
نظم ۱۴۳؛ لکه لېوان چې په رَمه ورګډ شي ........................................................ 116
نظم ۱۴۴؛ مُجرم ........................................................ 117
نظم ۱۴۵؛ مارشل پښتون ........................................................ 118
نظم ۱۴۶؛ مخته ستا خوښه.. ........................................................ 118
نظم ۱۴۷؛ مزل په واورو باندې ........................................................ 119
نظم ۱۴۸؛ مُعجزه ........................................................ 119
نظم ۱۴۹؛ ملامته نه یې ګُلې! ........................................................ 120
نظم ۱۵۰؛ مونا لیزا ........................................................ 120
نظم ۱۵۱؛ مینه تو پیر ختمَوي ه ........................................................ 121
نظم ۱۵۲؛ مینه څه؛ وینه هم لاړه او به شوه ........................................................ 122
نظم ۱۵۳؛ ناوئیلي رښتیا ........................................................ 122
نظم ۱۵۴؛ نور خو لا نور... عجیبه دا چې دلته ........................................................ 123
نظم ۱۵۵؛ واؤوره تا ته وایم... ........................................................ 123
نظم ۱۵۶؛ وسوسه ........................................................ 124
نظم ۱۵۷؛ ولندېزي سوشل ورک ........................................................ 125
نظم ۱۵۸؛ ونې نه شته ........................................................ 126

نظم ۱۵۹؛ ویده قام................................................................ 126
نظم ۱۶۰؛ ویرجنه آرزو.............................................................. 127
نظم ۱۶۱؛ وینسي مینه.............................................................. 128
نظم ۱۶۲؛ درې هائیکو.............................................................. 128
نظم ۱۶۳؛ هر افغاني لکه چاؤدلی پُرهار.............................................. 129
نظم ۱۶۴؛ هر چا دی په زړه کې بل ته غل ساتلی...................................... 129
نظم ۱۶۵؛ هرڅه هرڅه شته ، خو لا نه شته بیا هم..................................... 130
نظم ۱۶۶؛ هسپانۍ سترګې.......................................................... 130
نظم ۱۶۷؛ هسکه غاړه وَ ائیفل ټاور ته غم شوه...................................... 131
نظم ۱۶۸؛ هُما........................................................................ 132
نظم ۱۶۹؛ هم دي شاعر ... هم سپلاني کړم اشنا !................................... 132
نظم ۱۷۰؛ هېر به مې نه شي آستریا.. ! ستا ژمی...................................... 133
نظم ۱۷۱؛ هیله دَ سوکالۍ.......................................................... 133
نظم ۱۷۲؛ یار مې تکمیل په مرحلو کې دی اوس....................................... 134
نظم ۱۷۳؛ یَو عجیبه اطمینان........................................................ 135
نظم ۱۷۴؛ یَو مجاهد راته څه وَ وئیل داسې !......................................... 135
نظم ۱۷۵؛ یو مې یار ... خو ، سل یې بڼې.............................................. 136
نظم ۱۷۶؛ ورستۍ دُعا............................................................... 136

غزلو برخه

غزل ۱................................................................................ 139
غزل ۲................................................................................ 139
غزل ۳................................................................................ 140
غزل ۴................................................................................ 140
غزل ۵................................................................................ 141
غزل ۶................................................................................ 141
غزل ۷................................................................................ 142
غزل ۸................................................................................ 143

غزل ۹ ........................................................................................ 143
غزل ۱۰ ........................................................................................ 144
غزل ۱۱ ........................................................................................ 144
غزل ۱۲ ........................................................................................ 145
غزل ۱۳ ........................................................................................ 145
غزل ۱۴ ........................................................................................ 146
غزل ۱۵ ........................................................................................ 147
غزل ۱۶ ........................................................................................ 147

# سپلانی شاعر

افضل شوق یو سپلانی شاعر دی. دَ مزاج او طبعیت په حواله هم او دَ کار او عمل په لحاظ هم. ځکه دَ شاعرۍ فضا یې دَ ګرځې دُنیا دَ رنګونو ، آهنګونو او موسمونو په اشتراک و امتزاج ځوانه ، مسته او حسینه ده. او دَ مینې په ورېمو ، نغمو او جذبو ویښه ، ژوندۍ او متحرکه ده. او شاعري یې دَ مزاج په حواله ځان خوښه ، خُودبینه او درون بینه ده. خو دَ رُوح او رُخ په لحاظ عالمګیره او دوربینه ده. چې حقیقت او رومانویت په کې یو بل ته تر غاړه وتې دي. رومانوي حقیقت پسندي یې وګڼو او که حقیقت پسنده رومانویت یې وَ بلو. خو دَ ژوند او فن په یو نادره تجسیم کې یې فکر و نظر څه نوی او عجیبه تفهیم راوړاندې کړې دی. دَ حقیقت نګارۍ دَ اُسلوب باوجود رومانوي تصوریت پرې غالب دی. او ما ورائ حقیقت خیالونه پرې خواره دي. او دَ هغې وجه دا ده چې دَ شاعر دَ تخیل قوت ډېر مضبوط او هر اړخیز دی. چې عقل او فکر هم ورته حېران حېران ګوري. او شاعرانه وجدان یې دومره زورَور دی چې شاعري یې سوریلزم (SURREALISM) سرحدونو کې داخله کړې ده. او دَ خیالاتو تنوع او پرواز یې ژوندي حقیقتونه هم دَ وزَرو لاندې کړي او خپل ځانګونه یې پرې خواره کړي دي. او په عقل یې وجدان ته فوقیت ورکړی او ډېر وړاندې مخ په بره یې بوتلی دی. دَ حقیقت یا هستۍ تصور یې دَ انسان دَ موضوعي تجربې په حواله اخستی او دَ فرد دَ غېر مشروطې آزادۍ غږ یې پورته کړی دی. چې په نتیجه کې وجودیت (EXISTENTIALISM) په کنډر کې دَ خپل ځان ( انسان او ژوند ) قصیده هم لولي او مرثیه هم وايي. او په دې سبب یې شاعرۍ کې دَ جذباتو شدت ، دَ تخیل رنګیني ، دَ مضامینو رنګارنګي او دَ ماحول نېرنګي لیده شي .... خو شاعر چونکې جهاندیده او فهمیده شخصیت لري. دَ ژوند ، ماحول او دُنیا دَ حقیقتونو سره اشنا او بلد دی. ځکه ماورائ حقیقت تصوراتو کنفیوز کړی او مایوس کړی نه دی او ځکه په شعر و فن کې یې دَ حقیقت نګارۍ روؤنه ، ګودرونه شاړ یا بند نه دي. او دَ ژوند حقائق یې منلي او څرګند کړي دي. که غور وکړی شي نو په شاعرۍ کې یې دغه ماورائ حقیقت مثالونه او تمثیلونه هم دَ حقیقت دَ لړمون نه راوَتې رومانوي تصورات دي. چې دَ څه نآشنا حقیقت په لټون او جنون کې په سفر دي. هم دغی سفر زمونږ دا شاعر سپلانی کړی دی. او دَ یو ملک نه بل ملک ته سفر دغه دَ نآشنا منزل په طرف روان تصورات راپیدا کړي او په یوه لاره اچولي دي. او بل دَ جدا جدا ملکونو په جدا جدا منظرنامو کې مخې ته راغلو ثقافتي مشاهدو ، تهذیبي

روئيو او فکري تجربو دَ شاعر تخليقي مزاج ، نفسياتي کېفيت او اعصابي نظام متاثر کړی او منتشر کړی خو دی ولې بيا يې په يوه انساني نکته راسم کړی او متحد کړی دی. چې دَ شاعر په حسي تجربې او تخليقی روئيې کې مخې ته راځي ( چې مونږ ورته دَ تخليقي حسيت نوم هم ورکولی شو ) او دَ شعر په فني چوکاټ او فکري فضا کې ليدلی او محسوسېدلی شي.

بادي النظر کې دا تصوير دَ حقيقت نه لرې ښکاري. خو په حقيقت کې دَ حقيقت مختلف رنګونه په کې داسې منعکس شوې دي چې ټول په يو بل کې ورننوتې دي. او ځان ځان له حقيقت يې پس منظر ته تلی دی. هر منظر خپل حقيقت پخپله بيانوي خو دَ منظرونو اجتماع دَ هر منظر انفراديت په اجتماعيت کې بدل کړی او چې کله په کې دَ شاعر خپل تخيل هم شامل شي نو بيا دغه اجتماعي حقيقت هغه نه وي ، کوم چې مخ کې موجود حقيقت ؤ.

دَ افضل شوق دَ نظر وسعت ټولې موجود منظرنامې په ځان کې رانغښتې دي. او يو وجود کړي يې دي. حقيقت نه يې تېښته هم کړې ده خو حقيقت يې راتېښتولی هم دی. دَ هغه دَ شعر وفکر هم دغه أسلوب او رويه ده. چې دَ حقيقت نه باوجود دَ حقيقت نه ماوری معلومېږي. دَ حقيقت نګاری دَ مکتب نه جدا او مختلف لګي. او هغه پخپله دَ رومانويت په کېمپ کې ولاړ ښکاري. او داسې محسوسېږي چې دَ مادي حالاتو ادراک او اثبات موجودګی کې دَ تصوريت او ماورائيت په جاړو او جالو کې انښتې او نغښتې پروت دی. وجه يې دا ښکاري چې ژوند او دَ ژوند مسئلو ته په سوچ کې حقيقت پسند دی خو اپروچ يې تصوراتي او ما بعدالطبياتي دی. معروضي حقائق پېژني خو رويه يې موضوعي ده. او دَ خارجيت نه دَ اثر قبلولو باوجود دَ شاعری اهم عنصر يې داخليت دی. هم دَ دغې رومانوي طرزِ احساس له کبله دَ تخيل ګرفت پرې مضبوط او قوي دی. او دَ ژوند دَ تلخو حقيقتونو سره دَ مخ کېدو باوجود يوې روما نې يوټوپيا کې راګېر دی. ځکه يوه ګړی هم سکون نه لري. اضطراري کېفيت او متحرک نظر يې په آرام نه پرېږدي. او دَ رُوح آزادي يې تل په سفر او الوت کې دَ ساتلو هڅه کوي ـ او دَ خوب او خيال په ګلرنګه او ګل ورينه دُنيا کې ورله جُوتې او غوپې ورکوي.

ځکه زمونږ دي شاعر حقائق ليدلي او تسليم کړي هم دي خو لهجه او رويه يې بې حده شاعرانه ده. احساس او شعور يې دَ فلسفي دی خو نظر او ژبه يې دَ شاعر ده. دليل يې په حق دی خو تخيل يې شاعرانه دی. چې رومانوي طرزِ اظهار او رموز و اسرار لري. ولې دَ دې هر څه باوجود دَ انا پرستۍ، خود پسندۍ، احتجاج او بغاوت غېر ذمه دارانه نعرو او دَ جذباتيت او اذيت غېر ضروري کېفياتو نه بچ پاتې شوی دی. بعضې نظمونو کې يې دَ NASTOLGIA رومانوي احساس او تصور ډېر واضح دی خو مريضانه او مايوس کن نه دی. البته دَ احساس څرېکې او دَ نظر نبضونه يې پارَولي او تېز کړي دي. او په مجموعي ډؤل شاعر دغه دَ رومانويت مسلک او منطق ناروغه او ناړامه نه دی. غورزېدلی او پاربدلی نه دی. او دَ ژوند زور او شور په کې موجود دی. او ځکه په شاعرۍ کې يې دَ خپل عصر روح ليدلی او پېژندلی شي.

دا سپلانی شاعر چې هر چرته تلی دی خپل شاعرانه حس او نظر يې دَ ښائيست غېږه کې غورزولی دی. او دَ مينې په غږ يې پاسَولی دی. دا هم حقيقت دی چې دې سپلاني شاعر دَ ښائيست په ستائينې او دَ مينې په څرګندونې کې بخيلي يا کنجوسي نه ده کړې. افلاطوني عشق نه يې ځان ساتلی دی. ځان له يې دَ زړه نوُل نه دی کتلی. هر چرته يې دَ حُسن نه فېض موندلی او هر چاته يې دَ مينې تاؤ رسَولی دی او دَ ژوند ساز يې غږَولی دی. او دَ دغې تاؤ ساز يا ساز تاؤ دَ ده شعري الهام ته دَ ژوند دَ احساس يو تود سُر او دَ عصر دَ شعور يو سُرودي تاؤ وربخښلی دی. چې دَ ده په فن کې يې دَ ژوند حقيقتونو ته يو رومانوي پېکر او رومانوي تصوراتو ته دَ يو حقيقي نظر ورکولو هڅه کړې ده. او دغې هڅې دَ شاعر دَ فن کېنوس ( CANVAS ) نور هم وسيع کړی دی. کوم ته چې دَ هغه سپلاني نظر او وجداني فکر دَ اګاهو نه دَ احساس او شعور دَ سمندر وسعتونه او نوې اُفقونه او دَ زغل و پرواز نوې ميدانونه او لوړ غرونه عطا کړي دي.

دَ شاعر دَ حُسن لټون او دَ مينې تړون هغه دَ حُسن دَ جلوې په مخ کې لټ کړی نه دی. او دَ مينې دَ جذبې په تار کې تړلی نه دی. بلکې هغه يې متحرک کړی او وړاندې تګ ته دېکلی دی. ( آزاد رُوح پابندي نه مني او سکون نه لري) دَ حُسن او دَ مينې دغې حرارت او حرکت هغه دَ ژوند په نوؤ لارو او نآشنا مزلونو سر کړی دی. او هغه يې دَ انسان او ژوند په تعلق او رښتې په حواله نوې معنې او مفاهيم ښودلی او دَ آګهي له دريڅو يې ورته نوې منظرونه او

نوې منزلونه په ګوته کړي دي. چې شاعر يې په خپلو نظمونو کې نشاندهي او ګواهي کړې ده.

زمونږ دا سېلانی شاعر څومره دَ مزل تېز دی نو دومره دَ لفظونو په زغل کې هم وړاندې دی. دَ دُنیا دَ ګڼو ملکونو سېلونه يې کړي دي. خو تشه آواره ګردي يې نه ده کړې. دَ فکر و نظر لاره يې هم هواره کړې ده. په هر سفر کې دَ عیاشي دَ منظرونو نه تېر شوی دی خو دَ تخلیقي شعور منظرونه يې دَ عیاشي نه محفوظ ساتلي دي. دَ لیک منظرنامه کې يې ذهني عیاشي ته ځای نه دی ورکړی. ځکه په فن کې يې فکري آواره ګردي نیشته. او مقصدیت په کې خپل ځان ښاي. ولې په فکر وفن پوره دَ افضل شوق دغه مقصدي شاعری نه هغه څوک خوند او پند اخستی شي چې دَ شوق په سفرنامو کې يې ذهني سفر کړی وی. فکر و نظر يې ګرځېدلی او ټولو مقاماتو، واقعاتو او شخصیاتو سره متعارف، مخامخ او مخاطب شوی وي. ځکه چې دَ شاعر لفظیات، ترکیبات، تلمیحات او علامات يې دَ دغو سفري سیاحتونو او سیاحتي سفرونو څخه مستعار اخستې او په کار راوستې وي.

بل په دغه شاعر دَ پوهېدو دَ پاره علمي سطح هم نسبتاً اوچته په کار ده. باید چې لوستونکی دَ عالمي تاریخ، تهذیب، تمدن او فنونِ لطیفه (ادب او آرټ) نه هم باخبر وي. څنګه چې په حُسن پسې ورک دې سېلاني شاعر دَ نن په جغرافیه کې دَ دې ویړ کائنات په هره ذره کې او اُفقونو په حد بندي کې دَ ښائیست. ځواني، او مستي، ټول رنګونه.. غږونه او غورځنګونه راټول کړي او یو کړي دي. او دَ پرون دَ تاریخ دَ پاڼو نه دَ ژوند او فن دَ جمال، جلال او کمال ټول خوبَولي وجودونه راویښ کړي، تصویرونه يې ګویا کړي او غږونه يې مجسم کړي دي. او دَ زَړو تهذیبونو په کنډرونو کې يې هر عکس، هر نقش او رقص راژوندی کړی، پاسَولی او ګرځولی دی. دَ هغو دَ پېژندنې دَ پاره دَ تاریخ دَ تهذیبي سفر او دَ تهذیب دَ تاریخي سفر نه خبرېدل لازمي دي. نو ضروري ده چې لوستونکي ذهني طور خپل ماضي کې هم سفر کړی وي. او شاعر چې کومې نخښې نښانې ښاي، دَ هغو شناخت او پېژندګلوي هم کولی شي. او داسې يې دَ شاعرۍ نه مزه هم واخستی شي او پوهه هم ومومي. ګنې دَ لفظونو، ترکیبونو او علامتونو په جالو، جاړو او ځنګلو کې به ګېر وي. نښتې او ورک وي او ذهني طور به قید او بې درکه وي. نو نه به په شاعري پوهی شي او نه به دَ شاعر په مقصد او پېغام خبر شي.

چونکې زمونږ دا لوستی او سپلانی شاعر بره هم دی او لرې هم او دَ لوستونکو ذهني سطحې ته نه راکوُزېږي او نه ورنیزدې کېږي. نو باید چې لوستونکي خپله ذهني سطح اوچته کړي او پخپله ورنېزدې شي. چې څه ترې واوري او څه ترې زده کړي. په کلام او پېغام یې ځان پوهی کړي. دَ ژوند په خوږو پوهی شي او دَ فن ښکلا او مقصد وَ پېژني.

زمونږ دا سپلانی شاعر یا شاعر سپلانی دَ ښکلا په تلاش کې خپل منزل ته لا نه دی رسېدلی او سفرېې جاري دی. هغه دَ خپل مُوډ او مزاج مطابق ښکلا لټوي او په خپل شعر کې یې دَ خپل احساس او شعور مطابق اظهار کوي. هغه دَ خپل لټون نه لا مطمئین نه دی ځکه و دربدلی نه دی او په مخه روان دی. ځکه خو وائي چې....

| |
|---|
| منزل دغونې لرې لرې کېدو<br>چې څونې څونې لنډېدله لاره |

| |
|---|
| ځان کې په سوب دَ مسلسل سفر<br>تلی نشم په بله دومره ستړی یم |

( شاعر ستړی ضرور دی ، خو زړه ستړی نه دی )

په ( خیالي بڼه ) نومې نظم کې هم دغه حالت او کېفیت بیانوي او ( داسې ځینې نور نظمونه )

ممکنه ده چې څوک دغه لټون دَ شاعر ( هرجائي پن ) او یا څوک یې دغې جنون ته (په کثرت کې دَ وحدت ) نامه ورکړي او دَ ( تصوف ) دُنیا ته یې راکاږي ..... خو داسې نه ده. اصل صورتحال دا دی چې دَ حُسن مختلفو صورتونو او مختلفو معیارونو دَ شاعر سکون او صبر لوُټلی او فهم ونظر تقسیم کړی دی. او بیا چرته سترګو وژلی او چرته زلفو تړلی دی. کله لب ، کله رُخسار ځان ته پسخولی کله ښائیست ، کله ځوانۍ ځان ته راکښلی دی. او شاید هغه دغه هر څه په یو وجود کې لیدل او خپلول غواړي. دغې دَ حُسن کشش هغه دَ ژوند او کائنات په هره شعبه او هره حصه کې دَ ښکلا طلبګار کړی او دَ بدۍ ، بدرنګۍ او

بد امنۍ نه بېزار کړی دی. ځکه خو هر چرته نېکي، انصاف، صداقت، مينه او امن غواړي. کوم چې دَ ښکلا مختلف شکلونه او کېفيتونه دي. ځکه دَ هغه په شعر او فن کې دَ هغه دَ فکر او نظر همدغه حواله ډېره نمايان او زياته معتبره ده.

هغه مينه کوي او مينه عام کوي. چې نېکي هم ده، صداقت هم دی. انصاف هم لري او امن هم راولي. خو دَ امن، انصاف، صداقت او مينې دَ پاره امن ضروري دی. ځکه دَ امن تبليغ او پرچار هم کوي. او دا هر څه بنيادي طور دَ انسان سره تعلق لري. ځکه هغه په خپلې شاعرانه فلسفه کې او تر څه حده فلسفيانه شاعرۍ کې انسان ته اوليت، فوقيت او اهميت ورکوي. او داسې، انسان يې دَ فن بنيادي ټُکته ګرځي. هم دغه ټُکته دَ هغه دَ شاعرۍ محور او مرکز ثابتېږي. او هم دَ دغې ټُکتې نه ګېر چاپېره دَ هغه دَ حُسن تصور تاوېږي. او لکه دَ دائرې ترې دائره در دائره په ګرځېدو کې لوئېږي او خورېږي. او دَ شاعر سفر هم په دغه دائرو کې جاري وي .... ولې ښه خبره دا ده چې دَ دائرې کرښې بيا خپل ځای ته واپس نه راځي. تکرارېږي نه. بلکې دا دائرې ځان ځان له نه دي. يعنې دَ دائرې نه دائره پيدا کېږي. او دَ دائرو کرښې ټولې خپلو کې تړلې او مربوطې دي. او دَ دائرو دا سفر هم په شا يا دننه طرف ته نه دی. بلکې مخ په وړاندې، بهر په بهر او مخ په بره دی. هم دغه ارتقائي عمل دی. هم دغه دَ ارتقاء سفر دی چې په کائنات کې دَ ازل نه جاري دی. دَ سماج دَ ارتقاء هم دغه قانون دی. او دغه عمل دَ ژوند په هره شعبه کې روان دی. ځکه خو وئيلی شي چې ( ژوند دَ انسان دَ ارتقاء سفر دی )

او زمونږ دا سېلانی شاعر ارتفائي منزلونه سر کوي. مخ په بره او مخ په وړاندې روان دی۔ سفر کوي ... او دا سفر اختتام نه لري. هر څو که شاعر په زړه کې ځان سره لګيا دی وائي...

( مزل به کله سر ته رسي ؟ )

سليم راز
۲۰ دسمبر ۲۰۰۲ع
سکړ ( چارسده )

# افضل شوق؛ دَ جمالیات شاعر

( امکان لري چې دا مجازي مینه حقیقي وګرځي )

زه ګران افضل شوق سره له تېرو پنځویشت کلونو څخه دَ مینې ، اخلاص او وروروليْ نزدې تعلق لرم. دَ ده ټول شعري ، ادبي ، فني او فکري سفرزما په مخ کې دی. رښتیا خبره ده چې زما دَ نسل دَ شاعرانو راپس چې کوم ځلمیان وَ شعر وادب ته را داخل شوي دي ، په هغو کې دَ افضل شوق نوم خپل څرګند شناخت او جوت ځای لري. چې دَ خپل کار او زیار په حواله په وار وار ستائیل شوی دی. دَ هغه اولنۍ پښتو شعري مجموعه شلېدلی امېل دَ سهېلي پښتونخوا له اړخه دَ جدیدې شاعرۍ دَ اول نقش په دَ ذکر وړ مجموعه ده. په دې مجوعه باندې پروفېسر ربنواز مایل، ښاغلي سرور سودائي او ګران سهېل جعفر لیکل کړي وو. او دَ افضل شوق په کلام یې خپله ناقدانه رایه ښکاره کړې وه چې زه یې دلته تلخیص وړاندې کول بې ځایه نه بولم. مایل صاحب لیکلي وو ...

افضل شوق په شعر وئیلو کې پوخ کاره یادېدی شي. دَ ۱۹۷۵ع نه پس په راتلونکې کهول کې خپله څېره هم لري او خپل انفرادیت په قائمولو کې بوخت شاعر هم دی. په غزل کې دَ ده شعري رنګ دَ اثباتیت رنګ دی. خو زما په نیزدې دائی دَ نظم او په نظم کې هم دَ مختصر نظم شاعر دی. دلته دَ ده کړاؤ ، فکري وحدت او دَ موضوع تفصیل رنګ پرله پورې لیده شي.

محترم سرور سودائي کښلي وو چې....

> افضل شوق دَ سهېلي پښتونخوا یو نامتو او مخوَر شاعر دی. خپل انداز، خپل اسلوب او خپل یو فکر لري. دَ ده نوم دَ نوې کهول دَ لومړي قطارپه لیکوالو کې په ویاړ اخستل کېدی شي. نظم بالخصوص لنډ نظم دَ ده دَ خوښې میدان دی چې دَ خپل مافي الضمیر دَ اظهار دَ پاره یې خپل کړی دی.

دَ افضل شوق دَ همځولي ملګري جديد شاعر سهېل جعفر رايه دا وه چې...

شوق ، که نظم ليکي او که غزل ، دواړه ښه ليکي. زه دَ افضل شوق په شاعرۍ کې ډېره بې ساختګي محسوسوم او زما په نزد په شاعري کې تر ټولو لوی کمال هم دغه بې ساختګي ده

دَ شلېدلي امېل پس دَ هغه سفرنامه ( اووه ګامه مزل ) شائع شوې وه چې دَ عزتمن سليم راز غوندې صاحب نظر نقاد يې هم ښېخې ډېره ستائينه کړې وه. زما په خيال دا سفرنامه دَ پښتو ادب لومړۍ بهترينه ، نمائنده او معياري سفرنامه وه. تر اوسه پورې چاپ شوې ټولې پښتو سفرنامې دَ افضل شوق دَ دې سفرنامې په مقابله کې زيات ارزښت نه لري. دا يوه داسې سفرنامه ده چې دَ اُردو ژبې دَ ښو ښو سفرنامو له معياره سره څنګ وهي.

دَ ( شلېدلی امېل ) ( ۱۹۸۷- ۸۸ع) دَ اشاعت پنځلس کاله پس دا ده ، په ۲۰۰۳ع کی دَ افضل شوق دويمه شعري مجموعه ( په لټون ستا دَ ښېرې ) چاپ ته تياره ده. په دې کې زياته برخه دَ آزادو نظمونو ده. خو غزلونه هم په کې شامل دی. ماته يې کومه برخه چې دَ مطالعې دَ پاره راسپارلې ده له هغې څخه دَ ټولې مجموعې په باب اندازه لګول آسانه خبره نه ده. بيا هم زه دا هيله لرم چې دَ ( شلېدلی امېل ) شاعر افضل شوق به په خپلې دريمې مجموعې کې دَ منفرد ، اهم او پسنديده شاعر په حېث مخ ته راشي. زما وَ مخ ته دَ پراته مختصر مواد په رڼا کې که زه دا وَوايم چې دَ افضل شوق نظمونه په موضوعاتي، فکري او معنوي اعتبار خپل قاري ځانته متوجه کوي نو به غلط نه وي. خصوصاً دَ هغه مختصر نظم ډېر ارزښتناک دی. حقيقت دا دی چې دَ ارواښاد ايوب صابر راپس ښه او معياري آزاد نظم ليکل ډېر مشکل کار دی. خو افضل شوق چې په مختصر نظم کې دَ خپل فکر، خيال او موضوع دَ اظهار او ايلاغ کوم کوشش کړی دی ، هغه خپل رنګ، آهنګ، خوند او تاثير لري. هيڅ ابهام او معنوي اشکال نه لري. دَ هغه نظمونه او دَ غزلونو شعرونه دراصل دَ هغه دَ وجدان آواز دی. دَ هغه شاعري دَ ( از دل خېزد ، بر دل رېزد ) په مصداق ده. سلاست، رواني او بې ساخته اظهار دَ هغه فني کمال ته اشاره کوي. زه چې دَ هغه پخوانۍ او اوسنۍ غزلې لولم ،نو دَ سېف الرحمان سليم ، يوسف اورکزي ، عبدالله جان مغموم ، اکرام الله

ګران او ډاکټر اسرار شعري لهجه رایاده شي. البت دَ دې مطلب دا نه دی چې افضل شوق دَ هغوئ تقلید کړی دی. دَ ده اصل خوُبي دا ده چې دَ ده په شاعرۍ باندي دَ هیڅ شاعر اسلوب حاوي نه ښکاري بلکې داسې محسوسېږي چې افضل خپل اظهار پخپل انداز او الفاظ کې کوي. دَ (تقلید در تقلید) په دې شاعرانه ماحول کې زه دا دَ هغه لوی او دَ تعریف وړ جوهر ګڼم خو اسلوب یې تر اوسه دَ جوړېښت په مرحله کې دی.

دَ افضل شوق په شاعرۍ کې بنیادي موضوع ښکلا او دَ ښکلا لټون دی. هغه په حُسن نه مړېږي. دَ هغه جماتیاتي تنده دومره زیاته ده چې دَ الطاف حسېن حالي دَ (هی جستجو که خوُب سې خوُب تر کهان) غوندې مسلسل دَ تلاش په مرحله کې ښکاري. امکان لري چې دا مجازي مینه حقیقي مینه وګرځي. که داسې نه وشي هم ، جمالیات پخپل ځای ډېر اهم فکري او فلسفیانه موضوع دی او دَ تخلیقي ادب دَ رُوح مترادف دی. له دې علاوه په دې شعري مجموعه کې دَ خپلې خاورې، خپل کلتور، دَ خپل چاپېرچل او دَ خپلو قدرونو دَ اظهار سره سره دَ خپل تاریخ تراخه حقیقې او نه نظر اندازه کېدونکي اړخونه هم په ښه ډؤل نظم شوي دي. صرف دا نه ، دَ یو جهان ګښت سیاح او دَ یو بصیرت لرونکي انسان په حېث یو (ګلوبل لېنډ سکېپ) هم دَ ده په کلام کې تصویر ګرځېدلی دی. چې دَ لوستونکو دَ پاره دَ غور او فکر نوې دروازې خلاسَوي. دَ آرټ دَ دُنیا کومې عالمي حوالې چې دَ هغه په نظمونو کې راغلي دي هغه مونږ پښتو شاعرانو ته دَ موضوعاتو په اړه دَ وسعت نظر دَ اختیارولو دَ پېغام او دعوت حېثیت لري. په کار، چې زمونږ دَ نوې کهول شاعران دې نُکتې ته متوجه شي.

زما دُعا ده چې دَ ګران افضل شوق دا مجموعه ( په لټون ستا دَ خبرې ) کامیابه او په پښتو ادب کې دي دَ یوې ښې اضافې باعث وګرځي.

خاورې

سعید ګوهر
کوئټه
۱۲مه جنوري ۲۰۰۳

# دَ سلو یار

( افضل شوق دَ امن او سوکالۍ په لټون دی )

زما او دَ افضل شوق لیدل کتل اتفاقي وشو. زه عنایت الله ضیاء سره ناست وم چې دوئ راغله او ضیاء ووئیل چې ګرانه! افضل شوق صاحب دی. علیک سلیک سره یې راته کوُوز پاس کتل لکه چې هغه څېره یې نه وي لیدلې چې کومه یې لیدل غوښتل. په دې خبره مو ډېر ګپ ولګولو. دَ افضل شوق نوم ما ډېر ځله اورېدلی وو. ( اووه ګامه مزل ) کتاب یې هم ما لوستی وو. په کې دَ ډېرو ملکونو ذکر دی او دا کتاب سفرنامه ده. دا ملاقات چې ورسره وړومبی وو، خو دوئ دریابي زړه لري او سره دَ دې چې څه یې په زړه وي هغه یې په خُله وي. خپلې خامۍ هم چې ورته په ګوته کړې، سمدستي یې مني او دا شاید چې دَ هغه دَ عظمت صحیح نښه ده.

دَ کتاب نامه ( په لټون ستا دَ څېرې ) ....... دَ سلو یار شوم ده. دَ کتاب په وړومبي مخ یو مختصر نظم دی چې دې نظم کې دَ کتاب نوم هم ذکر شوی دی او په دغه فکر یو څو نور نظمونه لکه آئیډیل، خوبَولی تعبیر، شعرونه، دَ امن دَ ناوې واده کې موجود دي او دَ لوستلو نه پس ما داسې محسوس کړو لکه چې شوق صاحب په لاشعور کې، دَ ده په وجدان کې یو ښائیسته پېکر، یو ښکلی وجود ده ته ښئیلی دی. خوب کې هم ورته راشي او دا دَ هغې وجود جل وهلی دَ هغه په تکل کې سرګردانه ګرځي.

شوق صاحب چې په ژوندانه کې هم په سفر وي. دَ هغې په تکل کې سرګردانه ګرځي، دَ خپل فکر او په دښتونو، ښارونو کې هم او په ښکاره هم دَ دغې ( پېکر ) دغې ( ښاپېرۍ ) تر لاسه کولو او دَ موندلو هڅې کوي. ډېر مخونه وَویني او یقین یې په هر مخ راشي چې دا هم هغه ده. خو دا دَ یقین اوبه یې سراب وَخېژي او دَ مینې تنده یې ماته نه شي. او دَ شوق دَ وینا مطابق ( دَ سلو یار شوم ).

دا دَ خپل زړه مسافر، دَ خپل عشق مسافر دَ حُسن هغه منزل ته نه دی رسېدلی چې قرار پرې بیا مومي. بنده حېران شي چې دَ شوق صاحب دا آئیډیل څوک دی؟ دغه پرې پېکر څوک

ده، چې دوئ ورپسې پرېشانه سرګردانه ګرځي. او ده له دَ خلوص په قافله کې راځي او دوئ له په ځوليو ځوليو دَ سرو ګلونو هارونه راوړي او چې سترګې يې وَ غړېږي نو بيا غائبه وي. دا تجسس ( دَ امن دَ ناوې په واده کې ) تر سره شي او بنيادم پوهی شي چې دَ شوق صاحب آئيډيل ځوک دی. دَ امن په نامه ځوک نه پوهېږي. هغه امن چې په مينه او ورورولۍ قائم وي. چرته چې ظلم ، زور او استحصال نه وي. چرته چې دَ جنګ توري تيارې نه وي خورې، چرته چې دَ بارُودو بُوی هوا نه وي بدبُويه کړي او چې دَ مينې آب حيات په کۍ دَ انسانانو په خُله شي. او دَ يو بل نه ځارېږي ، قربانېږي. دې سکون ته شوق صاحب په علامتي توګه دَ امن ناوې وائي. او دا دَ شوق صاحب هغه پري پېکر ده چې دوئ يې خوب کې ويني او دَ دوئ په لاشعور کې يو حسين ترين وجود لري. دې نظم کې چې شوق صاحب ورته يو خوب وائي ... دَ ارمان په سيمه ورته يو تصور وائي ... چې دَ دوئ په ذهن کې راغونډ شوی وي. په دې تصوراتي محل کې اما کما ملکونو سندرغاړي دَ خپل ثقافت ، تهذيب او ژبه کې لګياوي دَ خپل فن مظاهره کوي ، ګډاګانې او ډانسونه کوي .... سندرې وای. په دې فنکارانو کې دَ برطانيې ، جرمني، امريکې، ايران، مصر، جاپان، هسپانې وغېره هم موجود وي . دَ مختلفو قومونو نمائندګان وي، خو هيڅ تنارعه تر منځه نه وي، يو بل نه ځارېږي، ټول دُښمنان خپل شوي وي يا ياران شوي وي. شوق صاحب هم په زړه کې دَ سوکالۍ آرزو شدت سره محسوسوله. ځکه يې دَ امن ناوې ودَوله. ما په خپل ناقص خيال دَ شوق صاحب دَ ارمان دغې محبوبې ته رسائي کړې ده کومې ته چې شوق صاحب دَ امن ناوې وائي. که زه خطا شوی نه يم ... نو دَ شوق صاحب ټول نظمونه په روزمره او ساده الفاظو کې دي خو علامتي رنګ لري او ژور مفهوم په کې پروت دی.

شوق صاحب دَ پښتنو په نا اتفاقۍ او تربګنو هم ډېر درد محسوسوي. دَ هغې اظهار په ببرغونه نظم کې په ښکاره ډؤل پروت دی. پښتنه سيمه، چې دوئ ورته مور وائي، چا چې دَ خپل اولاد پسته غېږه کې روزنه په پښتو او پښتني سپېڅلي مينې سره کوله. خپل ځان به يې دَ لمر په سرو لمبو سېځلو ، خو دوئ به يې دَ خپل پړوني په سيورې کې ساتل.... نن دغه ځامن لګيا شوي دي چې دَ خپلواکۍ په نامه دغه دَ دوئ دَ سيورې پړونی يې دَ يو بل په ضد داسې څيرې ويرې کړلو چې دَ هرې يوې تګۍ نه، دَ مور دَ پړونې توکرې نه هر يو او هر چا ځان ځان لره ببرغونه جوړ کړو. مطلب دا چې دَ پښتنو هره يوه ډله ځانته دَ پښتنو نمائنده

ډله وائي او دَ پښتنو او پښتو دَ حقوقو خبره کوي. خو يوه ډله هم بله ډله نه زغمي او په خپلو کې نا اتفاقه دي.

شوق صاحب دومره دَ جرأت خاوند دی چې خپله خامي او کمزوري نه پټوي او په ډاګه يې ښئيي. ( قتل ) کې خپلې ويرې او خوف ته اشاره کوي. دوئ څوک وَويني او ويره يې واخلي او په زړه کې وائي چې جوړ زما مرګ پسې راغلی دی ما وژني ، راشه ته پرې لومړی شه. چاړه راواخلي او چې په تُوندۍ ګوُزار وکړي. نو ګرنجی يې تر غوږو شي .... شيشه غوټه ماته شي. يعنې خپل ځان يې شيشه کې ليدلو ، خو پوهی نه وو ، چې دا زه يم. وئيل يې چې څوک سړی مې دَ مرګ هڅه کوي.

په سواليه نظم ( چې اوس يې دَ بابا خوبونه هم واړه دروغ شول دی ) کې يې هم دَ پښتنو نااتفاقۍ ژړولې ده. دَ غيرو په لمسه دَ بل چا په جوړ کړي توپکو يو بل وژنو او دَ خپل جبر دلاسه مو خويندې خاورې يرې درپدر دي. پښتنې مياندې مو په ځامنو پسې په هديرو کې ګرځي. دَ پښتو ناوې په مرۍ غلې شوي يُو او دَ پښتو ناوې مو دَ خپله لاسه خاورو ته سپارلې ده. اوس ورپسې ژړاګانې کوؤ خو مړه آرزو چا په ژړا رسولې ده.

پښتون کله منله ماته نظم کې خپل عزم او حوصله ښئيي. چې کله په ځوانۍ راغلم. دَ زړه غُوټۍ مې ګل شوه. دَ خپلې ځوانۍ په دُرشل باندې مې قدم کښېښود او ځان مې فاتح وګڼلو. نو دَ ژوندون کوربه غمونو داسې ځاپېرې په مخ راکړې چې دَ رُوح تنده که په اوښکو ماتومه ، خو دغه دَ مينې ګل، دَ آرزو ګل هم رژېدلو ته نه پرېږدم. ځکه چې زه پښتون يم او پښتون کله هم شکست نه مني . ( ځناور .... خو دَ دوؤ پښو ) کې هم دَ انسان درندګي او ځناورتوب ښئيي. چې دَ يو بل ويني څيښي. يو بل داړي او بغير له دې يې بل کار نه شته. هغه کار چې پرې دائی انسان دوسته ياد شي او يا چې خلک دَ پښتنو په باره کې دا وَوائي چې پښتنو کې دَ ارتقائي او هنري تغير راروان دی. ( پټ پُټانی ) نظم کې دَ غمونو نه تېښته کوي. خپل خپلوان پرېدي او هغې نړۍ ته لاړ شي .... چرته چې دَ خوشحاليانو موسم وي، غم تر لرې لرې پوري نه وي. دَ خپلو غمونو نه پُټېږي خو هغوئ ورپسې لکه دَ سيوري هم روان وي په منډو نه خلاسېږي. ساه يې حلق ته راشي. په خپلو پلونو بيا کور ته راواپس شي. او دغسې ورسره ژوند پټ پُټانی کوي.

شوق صاحب خپلې فطري او ذاتي مينه کې هم خپله محبوبه داسې ښئيي چې سره دَ ډېرې مينې محبوبه يې دَ خپلې معاشرتی حدونو نه بهر ته نه وځي. لکه ( دَ ژغ ځېرې ) چې محبوبه يې دَ حياء پلو دَ مخه نه دی لر کړی.

سوب که ما دَ رسوائي ګڼې ته .... دې نظم کې دغه خيال ښئيي. غرض دا دی چې افضل شوق دَ امن او سوکالۍ په ارمان دی. چرته چې دَ مينې ټول عمري سپرلی وی. زور ظلم نه وي. استحصال نه وي. خوشحاتيانې ، سوکاليانې وي. دغه ځېره ده چې شوق صاحب يې په لټون پسې اوس هم خپل کوشش جاري ساتلی دی. او دَ مايوسۍ ښکار شوی نه دی. دغه ځېره دَ امن ښاپېرۍ ، دَ امن ناوې ده. ليک يې جرأت مندانه او بېباکه دی.

دا وضاحت ضروري ګڼم چې زما دا تحرير شوی تاثر دَ شوق دَ هغې شاعرۍ پورې محدود دی چې کومه برخه يې ما ته حواله کړې وه.

اکرام الله ګران

# دَ ښکلا لټون

افضل شوق دَ ایډیال او معشوق لټون کوي

ښاغلی افضل دَ ادب دَ لیلا مئین دی او دَ مینې په دښته کې یې دَ شوق کیږدۍ جوړه کړې ده. پر دې دښته دَ ښکلا قافلې ځي او راځي او شوق دَ ښکلا کرشمې ترې راټولوي. کله کله خو دَ شعر دَ پرۍ دَ غاړې امېل ترې دانه وانه کېږي او شوق په ډېر شوق دَ شلېدلي امېل دانه دانه ملغلرې راټولوي. دَ ادب دا لېونی او لالهانده مجنون دَ شوق دَ پریانو خولۍ پر سر ږدي او دَ ښکلا اووه ګامه مزل کوي.

اوس نودا دی ( په لټون ستا دَ څېرې ) راوتلی دی. دا سفر یې بس ولوله لکه ابراهیمي عشق. ستا څېره به کله دَ ستوري په رَپه رَپ کې کي او کله به دَ تمامې سپوږمۍ پسته مسته رڼا کې ګوري. خو کله چې لمر دَ شپې پر دُرشل دَ شوخو وړانګو یرغل وکړي، بیا به نو نه دَ ستوري رَپ ویني او نه دَ سپوږمۍ پړک. هغه دی چې لمر ته به دَ سوال ځولۍ غوړَوي او ستا دَ څېرې تصویر به ترې غواړي.

په دې لنډه کتنه کې، زه پر دې نه ګډېږم چې (په لټون ستا دَ څېرې) شعرونه څنګه دي. هسې ماته دا لټون ډېر ښکلی ښکاري. افضل دَ خپل ایډیال او معشوق لټون کوي. دا ډېر ښکلی ارمان دی. شوق چې په څه کې دا ښکلی معشوق لټوي ، هغه شیان هم ښکلي دي. افضل شوق بختور دی ، چې یوه ښکلا په بله ښکلا کې لټوي. دَ مور شُودې دې یې شي. او ډېر ډېر یې مبارک شه دا لټون، ( په لټون ستا دَ څېرې ).

په ډېره مینه او ادب

پیر محمد کاروان
افغانستان. کابل
خبر خانه مېنه
۲۸ .۱۰ .۲۰۰۲

# افضل؛ دَ خپل شوق په پړاؤ

یو خیالي ، ورک ...خو مثالي لارَوی

دَ افضل شوق سره زه دَ هغه دَ فن په حواله ډېره موده وړاندې آشنا شوې یم. کله چې مې دَ ده وړمبۍ شعري مجموعه ( شلېدلی امېل ) اولوستو ، نو دَ دغه کتاب په ټولو نظمونو کې ما دَ یو نوې انسان ، نوی فکر او نوی لټون محسوس کړی وو. دغه وجه وه ، چې ما دَ هغه په ټولو نظمونو کې هغه دَ یو رېښتوني ، سپېڅلي فنکار په څیر دَ فن په ښائیسته او حسینو جزیرو کې په یو نامعلومه لټون سر محسوس کړی وو. خو کله چې دَ هغه ( اووه ګامه مزل ) چاپ شو ، نو دَ افضل شوق دَ شاعرانه فکر یو بل نوی تصویر دَ یو پښتون سپلانې په شکل کې دَ فن دَ مینه والو مخې ته پروت وو.

اوس دَ افضل شوق نوې شاعري ته چې ګورم ، نو په دې دَ څه وئیلو او لیکلو په وخت دَ ( شلېدلي امېل ) ټولې جذبې ، دَ هغه دَ ( اووه ګامه مزل ) ټول لټون په یوه نوې جذبه کې په دې شاعرۍ کې دَ ورایه ښکاري. هغه دَ یوې ښهرې په لټون ، دَ کوم ځای نه تر کومه ځایه رسېدلی دی. دغه ښهره اګرچې یوه انساني ښهره ده .... خو دَ افضل شوق وَ دغه ښهرې ته که دَ هغه دَ لېوني لټون په آئینه کې اوګورو ، نو دغه ( ښهره ) مونږ په ډېرو علامتونو ، ډېرو معنو او ډېرو حقیقتونو اخلو ... لکه انساني مینه محبت ، انساني رښتې ، انساني او پښتنې جذبې ... داسې به اووائیو ، چې دَ افضل شوق دا نوې شاعري دَ مزې او خوند په دې ده چې په دې کې دَ نوؤ نوؤ موضوعاتو سره لوستونکی په یو نوي انداز آشنا کوي. داسې موضوعات ، چې تر اوسه په پښتو شاعرۍ کې نه چا راوړې دي او نه چا پېژندلي دي. زما مقصد دَ جدیدو رُجحاناتو او نوؤ انکشافاتو نه دی ... چې افضل شوق دَ خپل سپلانې طبعې او فطرت له رُویه خپلو شعري او تخلیقي هنر ته هم دَ یوې نوې دَنیا ، نوي آسمان او نوي لمر رڼا راولې .... هغه داسې ښکاري لکه چې دَ شعري هنر په میدان کې دَ پښتو شاعرانو په مقابله کې نه ښکاري ... بلکه دَ هغه شعري موضوعات دَ یو نوي عالمګیر جهان دَ مقابلې وړ دي. که چرته دَ افضل شوق جنتي دوزخیان ، سرپرېکړي انسانان ، مونا لیزا ، دَ یویشتمې پېړۍ انسانه !، ولندېزي سوشل ورک ، شک دَ ایمان زیان دی ، دَ امن دَ ناوې په واده کې ، اتهم رنګ ، سپین ببرغ ، دَ مفلسۍ په جُرم ، مجرم او داسې نور نظمونو ته فکر

اوکړو.  نو دّ خپلو موضوعاتو تر مخه داسې شاهکار نظمونه دي ، چې دَ عالمي ادب دَ معيار او مقابلې دي.  دَ افضل شوق دغه ټوله شاعري ... دَ لفظونو دَ ټنه بُودۍ لوبه نه ده . بلکه دَ مهذبه پښتون هنرمند دَ يو سپېڅلي فکر داسې آئينې دي ، چې دَ هر لوستونکې دَ ذهن او شعور تيارې او ژوند رڼوي. افضل شوق ، لکه څنګه چې ما اووې ، يو پښتون شاعر دی.... هغه په خپل قام يعني په خپلو پښتنو سر تېره مئين دی. خو افسوس چې دَ نن پښتون او دَ افضل شوق دَ  فکري پښتون  لفظونو که خپلې معنې بائيللي نه دي ... نو لرې لرې خامخا دي ... لکه دَ  هغه  ( دَ ناروا فتوې په سمه )  او ( بېرغونه ) ، ( دَ ځوی په سر باندې سودا ته جوړېدليه پلاره )  ، ( ځناور ... خو دَ دوؤ پښو )  ، ( جهاد في سبيل الله )  ، ( لکه لېوان چې په رمه ورګډ شي )  او دغه رنګه نور نظمونه ... چې هغه په کې دَ نن دَ پښتون په الميو او نفسياتو ژړا کوي.

دَ افضل شوق دَ درې واړو کتابونو وَ تخليقي زور او هنري کمال ته چې سوچ کوؤ ، نو دا خبره مخامخ راځي چې هغه څه هم محسوس کړي دي ... نو په عمل کې يې انتها ته رسولي دي... او دَ هغه دغه تخليقي جنون او فکري لېونتوب نن هغه دَ فن په انتها او دروي. غرض، دَ هغه شعر دی او که نثر، په دواړو کې هغه يو لاره ورکی ، لارَوی ليدی شي. دَ هغه سفر، دَ هغه دَ ذات سفر نه دی.  بلکه دَ ځان دَ پېژندنې ، دَ ځان دَ بيا بيا پيدا کونې سفر دی. دَ هغه دغه ورکوالی هغه ته دَ لټون او تلاش يوه جذبه ورکړې ده.  خو کله کله دغه ورکوالی دَ هغه جسماني وجود هم مشکوک کړي... خو داسې نه ده ، هغه شته ، او شُکر دی ، مونږ ليدلی هم دی. ډېرو به ليدلی وي ... خو دَ ده وجودي اظهار کور نيشته ، کلی نيشته ، وطن يې نيشته. خو بيا هم دَ ده هره رشته زمونږ سره په هنري او فني جواز موجوده ده ، قدر يې کوؤ او منو يې هم.  او بله دا ، چې دَ هغه هنري او تخليقي وجود دَ يو ژوندي او متحرکه تحريک په شان ځمونږ نه ګېر چاپېر ليدی شي... نه يو اځې دا ، بلکه دَ نوي شاعرۍ دا مجموعه دَ هغه دَ دغه تحريکونو يو جواز هم دی او اعجاز هم ....

منِنه

حسينه ګل

# دَ ښکلا انځورګري

( شوق سره دَ ډېرو ناهيلو ، ناهيلی نه دی )

په لټون ستا دَ څېرې دَ سلو يار شوم ....... هسې پخوا مې هم دَ افضل شوق شعرونه لوستي وو ، خو په ( اووه ګامه مزل ) کې هم په دغه نوم يو شعر ( دَ سلو يار ) راترسترګو شوی وو ... ګوا زما تر اوسه دَ شوق دَ ځينې نورو نظمونو رنګه دا نظم هم په يادو په زړه دی. بيا يوه ورځ داسې هم راورسېده چې دَ شاعر ناچاپ اثر همدغه ( په لټون ستا دَ څېرې ) ما له خپلې خوا دَ شوق په شاعرۍ باندې خبره نه يم چې ولې په ليکلو پارَوي ؟

زه افضل شوق دَ نيزدې نه نه پېژنم ، نه ما تر اوسه ليدلی دی. خو دَ شاعرانو سره هماغه دَ تخيل په تار دَ ښکلا دَ ملغلرو پئيل يوا ځينی. اړيکه ده ... ښاي په دې ملغلرو پئيلو کې زما قابليت دَ هغوئ په اندازه نه وي ، خو دَ ملغلرو په قدر دواړه ښه پوهېږو. دائی هم شاعر دی او زه هم. خو دَ شوق شاعري راته دَ طبعي ښکلا هنداره ښکاره شوه. هغه هنداره چې انسان په کې دَ يوه زړه دَ تودې مينې او هيلو تصوير ليدی شي. او دا تصوير برداري يا انځورګري په ښائيسته ټکو او لوړ فکر داسې شوې ده. چې لوستونکي يې لولي ، نو يو ځای ته يې بوځي. ولې ، هر تصوير ځانته يوه طبعي ښکلا او ډېري ژوَري معناوې هم لري. مطلب مې دا دی چې شوق دَ حقيقت پېژندګلوي او څېړنې په شاعرۍ کې په ښه هنر کړي دي. او ښکاري راته دا چې دغه شاعر ډېر ژورنظر او ژورفکر هم لري.

ګوا دَ شوق په شاعرۍ کې دَ سفر تو‌م که زيات دی نو دَ پرله پسې لټون څرک هم په کې په ښېلو ښېلو ښو دَ ورايه برېښي. هغوئ په ساده الفاظو کې لوي خبرې داسې په خوند او ښه طريقه کوي ، چې لوستونکي به يې بيا بيا لولي ... په نظم ( آخر تر څو ... ؟ ) کې کاږي

> اې دَ لالي دَ مجسم تصور
> خيالي پرۍ
> بادرجمالې ! وايه
> ما به په ځان پسې په غرو رغو کې

لکه سپف الملوک
تر څو ځغلوې ؟

شوق دَ سپف الملوک او بادر جمالې دَ مینې دَ یو لوی سفر کیسه په یو څو مصرعو کې سر ته ډېره په خوند رسولې ده. ولې ، دا سفر دَ یوې تودې مینې انځور دی ، هغه چې دَ شاعر خپل زړه یې هم شاعر ساتلی دی او ترانو ته یې راکاږي. ګوا په خیالي پری، پسې ډېر ستړی شوی دی ، خو مُدام دَ لټون په لارو باندې روان بیا هم برېښي. او پښتون زړه یې ماته نه ده منلې. ځکه خو هغوئ خپله هم په یو بل نظم ( خیالي ښه ) کې داسې مني .....

ستا دَ لټون
په مست جنون کې اشنا !
دَ مُسلسل سفر له جوره زه هم
لکه پېری
اوس په نامه یاد ېږم
او ښه زما هم
څه خیالي غوندې شوه

په دغه نظم کې شوق څنګه په خوند دَ خپلې مینې دَ جنون او دَ عمرونو دَ لټون کیسه په اختصار او ساده خبرو کې تېره کړې ده. همدغه رنګه په دې کتاب کې بې شمېره نور هم داسې نظمونه او شعرونه شته چې نه یواځې ډېر ښه او په زړه پورې دي. او دا هیله کوم چې تر ډېره به یې لوستونکي یادَوي هم.

ښکاري چې شوق سره دَ ډېرو ناهیلو ناهیلی نه دی. ځې او دَ هیلو دَ کاروان سره سم ځې. هغه چې یوه هیله ورسره وي ، اودرېدلی چرته شي. شوق خپل لټون انتها ته رسولی دی. په دې خو په مُسلسل سفر کې ورک دی او ځانته پېری هم واي. او بله مهمه خبره دا ده ، چې هغوئ خپلې کیسې هم په زیات کمال او په ډېر شوق وړاندې کوي. په کومو کې چې دَ ده دَ جذبو صداقت برېښي. زه ورته زَړور او ریښتونی شاعر په دې وایم چې خبره ښکاره کوي څه چې احساسوي ، هغه په شعر کې راکاږي هم. دَ هغوئ په دې کتاب کې زیاتره نظمونه

داسې دي چې خوښ مې په دې خبره شول ، چې حقيقي او رېښتونې ښېرې په فکري هنر او دَ نوي سوچ له لارې داسې ښېرل شوي دي. چې هر کيسه دَ لوستونکي په مزغو کې رقم رقم تصويرونه جوړوي. او زما په اندازه ، همدغه لفظي او فکري انځورګري خو شوق په پښتو شاعرۍ کې له نورو شاعرانو نه منفرد کوي.

افضل شوق دَ پښتو شعر په دُنيا کې په سفر ډېر په برياليتوب او دَ خپل شوق سره اوږه په اوږه مخ مخته روان دی ځي او لا برياليتوب دَ پاره زه ورته دُعا کوم.

ډاکټر فريده هوډ سېفي

# لړي ترخې؛ ډېري خوږې خبرې

دَ يو چا ، چې دَ ژوند دَ نورو خوږو او ترخو لمحو دَ ګاللو په چپه لا هم زياتره وخت په لاره وهلو ، او دَ سفر سامان يا بستره تړلو راتړلو کې دَ مشغلې يا وچې کلکې مجبورۍ په ځير تېرېږي ... نو حقه خبره ده ، چې دَ هغه چا ناسته پاسته ، روئيه او ښکاره ښه څه ... وايم چې دَ دننه سړی به يې لا هم دَ نه غوښتلو په چپه لړ ډېر دَ سوچ او فکر يا اپروچ په اړه تر هغو خلګو زما په ناقصه خيال چې ببېل او بدل وي.. چا ، چې ټول عُمر په ځان ځان کې فقط دَ ځان دَ پاره يا مکان کې تېر کړی وي.

زما مقصد دلته دَ ځان سپينولو څخه ګرسره نه ، بلکې فقط دا وئيلو څخه دی ، چې له مروجه رواياتو په چپه ، زما دغه شاعري ... که څه هم شاعري ته مونېږي او نقادان دَ زمانې به يې هم په ببېلا ببېلو نومونو لا جلا غندي. خو زه يې يوازې شاعري بيا هم ځکه نه ګڼم ... چې دلته هر يو غوره شوی خيال او تهيم ، که يوې خواته دَ يوې نا يوې ستونځې يا رېښتونې او نه هېرېدونکي پېښې په ردِعمل يا اثر کې په ګوته کړل شوی دی. نو بلې خواته زما ځاني، چې تر ډېره هانده سېلاني مشاهدې دي ، هم دَ دې رقم رقم فکرونو په زېږَونه کې لوی لاس لري. لاکن دا ببېله خبره ده چې هره کيسه زما له ښه بختته اوس ځانته يو نظم ښکاري او بس..... ګوا په نورو آسانو او کره ټکو کې به لا دا هم وَوايم .. چې ، دا هر څه زما دَ زمينی مزلونو دَ خوږې ستړيا او دَ چيچلي سفري حال يا کيسو سره سره ، زما دَ قلبي ، ذهني، رُوحاني، شعوري او هن دَ فکري يُون په سمه زما او زما دَ ژوند منظومه ډائرۍ يا تر غاښ دلاندې ليکل شوې آټو بائيوګرافي هم ده. ولې چې دلته په هر غوره شوي خيال کې زه دَ ګواه او راوي په حېث څه، بلکې خپله هم يو نيم ځای دَ ښه يا بد کردار په ښه کې ښکلې او بدرنګې ... لاکن پټې څېرې ( په ډېرو معناؤ کې ) چې نېکيانې او بديانې زېږَوي ، يو په يوه دَ حقيقت په آئينو کې اول خپله ليدل ، بيا نورو ته ښپړل غواړم. ځکه خو متحرک او دَ ملګرو له خياله ورک ورک يم له جهانه ، خو په جهان کې دننه. اوس خبره دا ده ، چې زه څومره په خپل دې نېک مقصد کې بريالی شوی يم ؟ فېصله دَ حاضرو سترګو په سوداګرانو يا دَ نن په (سپېشل براند) نقادانو بيا هم نه .... خو دَ وخت له قيده آزاد، په درنو لوستونکو باندې ځکه پرېږدم. چې زما مقصد مينه دَ ژوند مرام ګرځولو پرته وَ حق ته اوږه ورکولو ، له حقيقته سترګې نه اړَولو او دَ ضمير دَ اطمينان تر حده دَ ناحقۍ غندلو څخه دی



ليک: افضل شوق

، دَ سند او تش په توره دَ نېکنامۍ او بدنامۍ دَ ټائيټل ترلاسه کولو څخه نه .... ګړسره نه دی. ځکه خو مې لېونيان (پُرسد) او پُرسد خلګ لېوني بولي.

په آخر کې زه دَ خپلو زيږو لاکن زما دَ مانده سوچ په سمه کره او حقيقي خبرو يا افکارو دَ پاره دَ بخښنې دَ خواست سره سره دَ ټولو انسانانو ، په تېره دَ سپېڅلو پښتنو او همه مسلمانانو تر منځه دَ امن، سوکالۍ، خوشحالۍ او دَ وختي ژوند دَ انساني يا فطري لاکن هر اړخيزو تقاضو په سمه دَ پرمختګ په هيله او دُعا باندې خپلې خبرې سر ته رسوم.

وما علينا الاالبلاغ
خاوري

افضل شوق

۹ نېشنل چمپئين سوسائټي
جوډيشل کالوني، چکلاله،
راولپنډۍ اسلام آباد
afzalshauq@yahoo.com
www.tolafghan.com/afzalshauq
http://postpoems.com/members/afzalshauq
کور تېلي فون؛ (+ 92 – 51 – 5954687)
سيل؛ (0300 – 5206095 و 0346-5455414)

*****

# نظمونو برخه

## نظم ۱ ؛ حمد شريف

دَ غرضي فطرت له جوره
دوزخي ښكلاؤې
كه څه هم بيا بيا غولوَي ما
دَ شيطان په لارو ،
خو ، لويه ربه !
ستا له ستر عظمته شمه لوګى،
چې په ګُناه پسې ګُناه
پرته مې هم توبه لا
قبلوې ته ،
چې څنګه زه په سجده شم درته

( اسلام آباد ... ۲۰۰۲ع )

## نظم ۲ ؛ يا محمد صلى الله عليه وسلم

دَ وخت له جوره چې پُرهار پُرهار شم
او هر پُرهار لكه غوټۍ چې ګل شي
دړدمنې څړيكې مې اخته كړي په وِير
او په وجود كې مات رامات شم داسې
لكه شيشه چې څوک په كاڼو وَلي
يا زلزله راشي او هر څه وران شي
لاكن له هر ستمه پرته چې زه
دَ زغم په تول څنګه مانده اوو ځم
نو ، مې له ستر ګو لوَمړۍ اوښكه لا هم
سمه باړخو ته رسېدلي نه وي
چې مسيحا غوندې راوَرسېږې



ليک: افضل شوق

او ملهم زما په پُرهارونو کښېښېږدي

(پشين ... ۱۹۹۵ع)

## نظم ۳ ؛ اتهم رنګ

ما ګڼل
چې وينم خوب
جوړه ويده يم،
دا چې زه
چرته په يو منظر کې نه يم
بيا چې ښه مې ورته پام شو
نو څه ګورم ؟
چې ښکلاوې وې
اووه رنګيځه ټولې،
خو ، دا زما
دَ وجود رنګ په کې اتهم ؤ

(تهيم : - دَ جرمني په دَرو کې دَ سوئټزرلېنډ په لور په سفر کې غوره شوی ... ۱۹۹۶ع
/ نظم:- کوئټه ۱۹۹۷ع)

## نظم ۴ ؛ اشنا به اوس له ورکو چرته غواړم ؟

دا چې يې
پلونه دَ پېښو ګار شولو
په نيمه لار کې .....
ګُمان مې دا دی،
چې لالی مې اوس کوي

لګيا دی ...
دَ سمندر سره سره
په پستو شګو مزل

(تهيم :- دَ الجئيرز - الجزائر په يوه سمندري څنډه سيدي فرج باندې.... ۲۰۰۰ع /
نظم:- په حتمي بڼه ... پېښور ۲۰۰۲ع )

## نظم ۵؛ اشنا زما څه نا آشنا غوندي دی

تر څو به لار
څارم دَ هغه اشنا
چې زه يې
خپله هم لا نه پېژنم
ځکه چې
ما کله ليدلی نه دی
دَ سر په سترګو
خو ساتم يې زړه کې
په مينه مينه همېشه
لکه خدائی

(په لېک ډسترکټ انګلېنډ کې دَ سفر په وخت ... ۱۹۹۶ع)

## نظم ۶؛ اعزاز

ته يې ځواب هم راکوې
او که يَه ...
زه به دغه رنګه ليکمه درته،
په تا خبر نه يم

چې څه سنجَوې؟
وَ ما ته دا اعزاز لا ډېر دی یاره !
چې زما له خوا در رسېدلی هر لیک
که څه هم ستا په زړه اثر نه کوي
خو تا ته زما نامه
حتماً یادَوي

(هیتهرو ائیرپورټ - لندن... ۱۹۹۶ع)

## نظم ۷؛ انسانان.. شهیدان او غازیان

که زه خبر وای پخوا
او یا یې وم پُوښتلی
نو ، ما به ځان لره جُوته دَ انسان
څله غوښتله له خُدائی ؟
چې ټولې مېني دَ ژوند
ورانې ... انسان دَ لاسه،
لکه نړاندې هدیرې دَ پښتون ،
چې یې په هر یو ګور کې
ښخ شوی هم سړی دی
ښخ کړی هم سړي دی
بیا لا برسېره دَ دې ټولو ظُلمو
دَ سړیتوب دعوې هم
دَ شهادت رُتبې هم
دَ غازیتوب تمغې هم

(ژوب ... ۲۰۰۲ع)

## نظم ۸ ؛ انصاف او عصري تقاضې

دَ چا ، چې
څلې لړلي دي په وينو
هغوئ
سُرنا دَ سوکالۍ ژغوی،
خو ، څوک چې
شو لُوګې لُوګې په امن
باداران واي....
ترهه ګر هغوئ ته

( راولپنډۍ.... ۲۰۰۱ع )

## نظم ۹ ؛ او په ما يې دائره راتينګوله

اې په سلو لارو وېښ
دَ سلو ياره !
که ناڅاپه زه هم ستا دَ خيال په سمه
ستا دَ زړه په سلطنت باندي
بريد وکړم
او جذبې دي کړمه ځانته را تسليمې
وايه شوقه !
چې دا زما به کوم مقام وي ؟
ما به ته ورستنۍ وَګڼې
که بيا هم ....
ته دغه رنګه خوبونه دَ بل ويني؟
دا پُوښتنه يې له ما ، چې په فون وکړه ،
زه په ځای دَ ځواب چپ، ځکه شوم پاته

چې خبره خو دَ زړه وه ،
او دا زړه مې
ارواوړی او هغه تږې سارا ده، چې
ډک آسمان که را سُوری شي له بالا هم
دَ سراب به یې سره نه شي پرې تنده .... ،
خو عجبه دا ،
چې پرته له دې هر څه،
ها دَ هیلو دَ کاروان پښتنه میره
لا هغسې ژغېدله ... خندېدله
او په ما یې دائره راتنګوله

(پېښور ... ۲۰۰۲ع)

## نظم ۱۰؛ اورونه

دا چې
ستا په نامه ګُله !
زه سازه اسوېلي باسم،
نو خو ، پوهی شه
چې په ما کې
ستا دَ مینې بل اورونه
لا هغه رنګه بلېږي
لا هغه رنګه تاؤېږي

(بنکاک .. تهائي لېنډ ... ۱۹۹۴ع)

## نظم ۱۱؛ اوس تېرَېږه ، دَ يو ورک لارَوي غوندې ، څکه

چې کله تا ترله ملا
په لُومړي ځل
سفر ته ....
په کار خو دا ؤ ،
چې خبر وای ښه په دې هم شوقه !
چې کومه لاره ته وهې
هغه به مخته
يو ورځ ...
په داسې لارو باندې هم تا سمَوي ،
چې بيا به ...
دَ کور په لورې بې لارښوده
راغبرګ نه شې کله

(کولمبو - سري لنکا ... ۱۹۹۴ع)

## نظم ۱۲؛ أوف کولی نه شم

څه دي وَ خوړم په سترګو
څه دي چُور کړمه په حُسن
څه دي خپل کړم په نازونو
څه دي يُوړم په خبرو ...
بس که پاته دي نور څه لا ،
زما په دې خالي وجود کې
نو هغه دي ستا غمونه
او يا هغه حسرتونه
ارمانونه او يادونه

چې هم ستا په ذکر فکر
ما په ځان ځان کې دننه
په مزه چیچي او خوُري ، خو
زه خوار اُوف کولی نه شم
داسې نه ، چې ستر خالق دي
زما په آه باندې وَ نیسي

(پېښور ... ۱۹۹۳ع)

## نظم ۱۳؛ او لا وصال ته ، بلا عُمر ګوري

په صبر صبر مې
زړه راغلو څلې ته
خو لا اشنا دی
چې په نن سبا کې
په بېلا بېلو بهانو باندې ما
له ځانه داسې تېرَوي له مُودو ،
لکه اوس اوس
چې مئین شوي يُو موږ
او لا وصال ته بلا عُمر ګوري

(قاهره - مصر... ۱۹۹۸ع)

## نظم ۱۴ ؛ اې دَ فرعون په نوم ناوسه څُدائیه !

ستا دَ خدائي دعوې
که نه هم منو ،
خو بیا هم، غوټ انکار کولی نه شو

ځکه چې ستا دَ لوظ په سمه مصريان
ښکاري، چې ستا دَ مرګه ورسته لا هم
ستا په نامه
له مُودو ژوند ته اوړې ..
داسې په وياړ او په مزه ورکوي،
لکه نعوذوبالله ته چې خُدائی يې
که څه هم حقه دا
چې مړی يې ته....
او مړی تل وي دَ ژوندئيو په لاس
نه چې ، ژوندي وي
دَ مړه بُت په تمه

(قاهره - مصر... ۱۹۹۷ع)

## نظم ۱۵؛ آخر تر څو...

اې دَ لالي دَ مجسم تصور
خيالي پری،
بادرجمالي ! وايه
ما به په ځان پسې په غرو رغو کې
لکه سېف الملوک
تر څو ځغلوې ؟

(دَ پېښور په لور په سفر کې ... ۲۰۰۲ع)

## نظم ۱۶؛ آسره

دَ راتګ په آسره دي

په سبا سبا کې ياره !
دومره زه يم کړولی
ځورَولی ... ژړَولی
چې اوس ستا تر وصالونو
دَ هجران دغه اورونه
زحمتونه او غمونه
که څه هم ، ډېر زاوالجن دي
خو ، خوا ږه ترې محسوسېږي

( زيارت ... ۱۹۹۲ع )

## نظم ۱۷ ؛ آئيډيل

ما چې کله هم دَ ژوند په ګودر باندې
کومه پېغله
ژغولې ستا په باب ده
هغې ماته سر تر پايه دي کتلي
بيا يې دُومره دي فقط راته وئيلي
چې ، دَ خيال په نيلي سپور
اې لېونيه !
دا جنۍ زموږ په کلي کې نه اوسي
ښاپېرۍ زموږ په کلي کې نه اوسي

( کوئټه ... ۱۹۹۱ع )

## نظم ۱۸ ؛ بائيللی واک

تا دَ ډوډۍ دَ رانيولو په نيت

دَ پلار نيکه
په ميراث پاته تورُه
چې دَ خپلو اکه ژوند
ورستې نخښه وه،
فقط په څو نوټونو څه خرڅه کړه؟
چې لوهارانو
دَ بادار په حُکم
وَ تاته بيرته ترې بېړۍ جوړې کړې

(دَ لندن څخه دَ دُوبۍ په لور په سفر کې... ۱۹۹۶ع)

## نظم ۱۹؛ بيا بيا توبه ماتوم

زه چې څنګه
توبه وَباسم له مينې،
ليلا خپله بېه بيرته په يَو چا کې
رابنکاره داسې له خياله کړي
چې زه هم
دَ تقوى برسېره
زړه ته ماته وَخورم

(کوئټه... ۲۰۰۲ع)

## نظم ۲۰؛ بيا هغه زه... او زما له نوي سره سترې سفر

اوس به لا ما
زياته نيوله تر مړوند، چې هغې
چپه کړه لار

او دَ سارا په لور يې وَ ځغاستلو
داسې په تېزو
او په غټو قدمونو ...
چې زه
پاته شوم شاته له هغې
او هغه والوتله
بيرته زما دَ خوب او خيال
وَ جزيرو ته ځکه
چې دَ پښو پلونه يې
دَ شګو مزل
څه وَخوړل؟
چې زه دَ وخت په لوُخړکو کې
ايکړ پاته شوم

(قاهره - مصر ... ۱۹۹۸ع)

## نظم ۲۱ ؛ بې اظهاره مينه

خبره دا نه،
چې په ما به ته مئينه نه يې
يا به کومه
زه په تا او ستا په مينه کې شک
خبره دا ده،
چې دَ مينې دَ دستور په سمه
راکوې مينه
خو، دَ مينې ته اظهار نه کوې

(ډائرۍ پاڼه:- کارډيف، وېلز برطانيه... ۱۹۹۶ع / نظم:- کوئټه... ۱۹۹۷ع)

## نظم ۲۲ ؛ بې تعبيره خوب

زه چې يې له خوبه څه،
په ويښه هم
پاس په خلاګانو کې ليدل غواړم
هغه ننګياليان
په سر دَ مځکې هم،
ژوند ته ورکوي لا
په وچ زور اوږې

(دَ زيارت او تاندوانۍ په لور په سفر کې... ۱۹۹۸ع)

## نظم ۲۳ ؛ بېرغونه

تر پرونه يې دَ مرګ له فرښتو ، چې
په پښتو
او پښتني سپېڅلي مينه
کوم زامن
په پسته غېږه کې روزلو
لا چې، ځان به يې سپېڅلو په لمرونو
خو ، هغوئ به يې په خپل سيوري ساتلو ،
نن دَ هغې
پښتنې مورکۍ پرونی،
دَ خپل واک په غال اخته
هغو زامنو
دَ يو بل په زد کړو داسې خيرې ويرې
چې تګۍ تګۍ يې ځانته

يو بېرغ شو

(کوئټه... ۱۹۹۰ع)

## نظم ۲۴ ؛ بېلتون

ما چې دَ عُمرونو
دَ سفر او دَ ستړيا ورسته،
څنګه ستا دَ کور په دُرشل
کښېښېښودو لوُمړی قدم،
کريژي دَ ژړا
او دَ غم ساندې مې تر غوږه شوې
نور نه شومه پوهی
خو، بس دا ستا په نامه وِير کېدو

(دَ لوالائي په لور په سفر کې... ۲۰۰۲ع)

## نظم ۲۵ ؛ پټ پُټانی

چې له ګرمو مې دا زړه بډه وکړي
مځکه آسمان راباندې تنګ شي دُوني
چې دَ مرګ ويره ما په تېښت مجبور کړي،
پربږدم خپلوان او وَ پرېدو ته لاړ شم
دَ نړۍ هغو هېوادو ته لاړ شم
چرته، چې غم نه وي تر لرې لرې
چرته ، چې وي دَ خوشحاليانو موسم...
خو ، دربغه دربغه ځان ساتلی نه شم
که هر څو پټ شم او ترې منډه وکړم

غمونه زما په تعاقب وي هر ځای
زه یم دَ مخه او دوئ ټول راپسې
بیا چې مې ساه راولي ځُلې ته څنګه،
په خپلو پلونو شم راغبرګ وَکور ته
او بس په داسې رنګه پټ پُټاڼې
ټوکې کوي راباندې ژوند هر کله

(دَ سنګاپور څخه دَ کوالالمپور ملائیشیا په لور دَ ټرېن په سفر کې ... ۱۹۹۲ع)

## نظم ۲۶؛ پټ سړی

دا چې له تا سره په نوم دَ شېطان
څنګه وسواس درځرمه شوی دی نن
هغه بل هیڅ نه
ستا دَ خپټي غم دی،
هغه څه نه
ستا دَ هوَس تنده ده،
بس که څه دی هم ...
خو، په بڼه دَ نفس
په تا کې پروت
هم هغه پټ سړی دی،
چې څومره څومره خوُري په سر خاپېړې،
دومره دائی هم دَ محروميانو په زد
وَ بغاوت ته خپل لستوڼي غړي
او په تا باندې کاني داسې کوي
چې ځناور درته عاجزه ښکاري
لکه چې دی هم،
او تر هغو به وي ...

چې تا په سمه پېژندلی نه وي
یا دي په مینه ښه روزَلی نه وي
هغه سړی ....
چې پټ په تا کې اوسي

(پېښور ... ۲۰۰۲ع)

## نظم ۲۷ ؛ پټې خبرې

دا چې
کومه خبره زه تل لټومه
هغه سپینه تر شُودو ده
او په سپین کې
دَ نقشونو دَ فطري ښکلاؤ پرته ،
دَ ژوندون
هغه یو څو پټې خبرې دي
چې دَ رُوح او دَ زړه تنده
پرې ماتېږي
خو ، دَ سر سترکې یې بیا هم
لیدی نه شي

(دَ سپنټس په لور په سفر کې ... فرانس .. ۱۹۹۶ع)

## نظم ۲۸ ؛ پښتني بول

که په ما دَ ړلې غوندې ټکې اوري
لا دَلاري دواړو خواته ولاړ خلګ
ما په سر سر په زیږو کاڼو وَهي هم

زه به ځمه
نه درَم تر هغه دمه
چې وَ نه رسم دَ لوظ تر ورستي ټاکه
که یَه ،
چا نه ده ترِلي دَ مرګ لاره
ځمه ځمه
دَ مرګي په لاره ځمه
او تر تا پورې به ځان در رسَومه
ګني زما دَ ژبې دا ښتني بول به
زما وَ لوُښو او زامنو ته پېغور شي

(زیارت ... ۱۹۹۱ع)

## نظم ۲۹ ؛ ښتنې په خپل نظر کې

ګنډلي څٌلې
که ښتنې نه شي خپرلی چاته
خو ، دا تپوس یې
دَ مخ ګونځې له هر نره کوي،
چې که دا زه هم
ستا په رنګه یم له غوښو جوړه؟
یا ستر خالق به له ما هم
غواړي حساب دَ انسان؟
نو زما او ستا تر میانه
دُومره توپیر چا روا کړو؟
چې بې له تا
دَ ژوندانه هر څه نیګړي ښکاري
خو ، بله زه یم

چې له ما سره خبرې لا هم
په کرږې خُلې کوي مُدام راته له قهره داسې
لکه دا زه چې دَ الله بنده نه ،
ستا بنده يم

( په لنډي کارېز نامي مهاجر کېمپ چمن کې دَ مشاهدې په رڼا کې غوره شوی نظم ...
۲۰۰۲ع)

## نظم ۳۰ ؛ پښتو

دا دَ غرو رغو او دَ درو ژبه دي خدائی لري
دا دَ سېلاونو دَ څپو ژبه دي خدائی لري
پت ، ښېګړه، تُوره او وفا چې يې معنا خېژي
دا دُعا کومه چې پښتو ژبه دي خدائی لري

سيال يم دَ سيالانو ، له چا کم نه يمه ، واک لرم
ناست نه يم وَ بل ته ، خپله خورمه خپل وتاک لرم
څله بيا دَ بل په شؤل شؤ لارو ژوند وکړم
زه چې دَ پښتو سره سره پښتني ژواک لرم

څنګه چې پښتو نه ! ته دَ لاسه خپل تقدير ليکې
لا چې دَ ژوندون په حقله ته کله تدبير ليکې
وَ منه دَ شوق دغه خبره او پښتو ليکه
هسې خو هم ته دَ ناليدلي خوب تعبير ليکې

(پښين ... ۱۹۹۴ع)

## نظم ۳۱؛ پښتون کله منله ماته

دلته مې ګُل چې شوه
غُوټۍ دَ زړګي
هلته ما هم دَ ځناورې ځوانۍ
په دُرشل باندې خپل لومړي ګامونه
څه دَ فاتح په حېثيت کښېښول ؟
چې دَ ژوندون کوربه غمونو داسې
په ما څاپېرې کړې راسمې ، چې اوس
له هغې ورځې .... تر دې دمه پورې
تنده دَ رُوح که ماتوم په اوښکو
خو دَ زړه ګُل هم رېږېدو ته کله
پرېږدمه نه ، ځکه چې
زه پښتون يم
او پښتنو کله منله ماته

(کوټه ... ۱۹۹۲ع)

## نظم ۳۲؛ پلمه دَ احساس

ته به کېدی شي چې ما نه پېژنې
خو ، زه دې ښه پېژنم
اې لالیه !
ته يې پلمه زما دَ احساس
چې ما ويده په رُوڼو سترګو ساتې
هم ته سوب يې
زما دَ هغه تحريک ،
چې ويښَوي ما په خوبونو کې تل

ما خندَوي،
خو، ژړَوي هم بيا بيا

(قاهره - مصر ... ۱۹۹۷ع)

## نظم ۳۳؛ په پُرسد ځان... دَ لېونیِ مينې له جوره زه هم

که مجنون نه يمه
خو، بيا هم دَ جنون دَ لاسه
ما په لټون کې دَ خيالي ليلا
عُمرونه تېر کړل،
او په انجام کې
دَ مجنون په شانې ماته هم غم
دَ ايکړیِ
داسې راڅرمه شو
چې اوس که ليلا،
راته ولاړه مخامخ وي
زه يې نه پېژنم

(اسلام آباد ... ۲۰۰۱ع)

## نظم ۳۴؛ په تمه تمه دَ ديدن يې لاړم زوړ شوم

لا خو دَ ژغ هغه څېره ده
چې هغسې له ما،
ځان په پړدو کې پُټوَي
خو، راته واي په فون ...
چې،

ته وَما ته تر هر څه
او تر چا راتېر يېږ
خو ، ښه بيا هم
درته نه شمه ښئيلی ، ځکه
چې لا په سمه ستا دَ خيال
زه سنګهار شوې نه يم

( پېښور ... ۲۰۰۲ع )

## نظم ۳۵ ؛ په ظالمو اداګانو يې مرئيې کړم

دا چې لاس راغزَوي
نو راته خاندي
خو ، چې زما لاس شي ورپورې نابېره
نو زيږه شي ... تکه سره شي
هم له سوځته ،
سپين غاښونه دا سې وَچيچي وَماته
لکه اوس اوس چې به زما غوښې اومې خوُري ،
ځکه زه هم بيا له واهمه چې بس څنګه
ورستې هڅه دَ ساتنې ترې کومه
نو ، دا ماته په ځير وَګوري
موسکې شي ....
او په سرو نازکو شُونډو يې لا ژبه
تېره کړي سمه نه وي
چې تسليم شم

( ډائرۍ پاڼه :- سدرسينائي کې دَ اختر په لومړۍ ورځ ... خو ، دَ نظم باقاعده بڼه په قاهره کې دَ نه هېرېدونکې ياد په توګه ورکړل شوه .... مصر .. ۱۹۹۷ع )

## نظم ۳۶؛ پیسا ټاؤر ، دَ کبر څرګند علامت

تا به هم کړی غرور وي
خود په هسکه غاړه باندې
چې سرګوزی نن ولاړ یې
لکه ته چې شرمنده یې
او ډېر ژر به خاورې څپ کړې ،
خو ، حېرت دَ دې خبرې
چې لا هغسې ولاړ یې
کبرجنه ! په خپل کبر
که څه هم نور نور کړېږې
دَ انسان غوندې زړَېږې
خو ، بیا هم نه دنګېدی شې
او نه سر وړې سجدې ته

(تهیم:- پیسا ټاؤر ، اټلي په وړاندې... ۱۹۹۶ع
نظم:- کراچۍ څخه دَ کوئټې په لور په سفر کې... ۱۹۹۶ع)

## نظم ۳۷؛ تحلیل ، که تکمیل ؟

هغې مې شُونډې
په شُونډانو باندې
په لومړي ځل
چې څنګه ږدلې راته ،
ما یې په مړو مړو څُماري سترګو کې
خپلې څېرې سره سره
خپل نوم هم

دَ زمانو زورِ او زنګ وهلی
خو نېغ په زړه کې نوشته ... وَلیدلو

(کوئټه ... ۲۰۰۳ع)

## نظم ۳۸؛ تعبیر دَ خوب ، که تدبیر ... ؟

ستا دَ انتظار په تمه
زما هغه نیازبینه لُور
دا ده ، چې تر تا دَ مخه اووته
په کټ کې اوس،
څه ورځه په منډه
لاېې خاک دَ قبر وَچ نه دی
دغه وِیر دَ مور دې څه ؟
چې ماً دَ لېونو په شان
واچول لاسونه خپل ګرېوان ته
او په چیغو شوم ....
لا ، به مې اوس ستا دَ دُرشل خاورې
په خپل سر باندې
نورې بادَولې ستا په غم کې، چې
په زنګ دَ فون
زه راویښ له خوبه شوم
که څه هم ، په خولو کې ډُوب ... ،
شُکر مې دَ خُدائی وکړو
چې ستا ژغ مې تر غوږه شو
تا راته وئیل ، چې
ما نن سره جوړه اغوستې ده ،
ښکارم لکه ناوې

راشه شوقه ! که مې ګورې ته

(دَلورالائي په لور په سفر کې ... ۲۰۰۲ع)

## نظم ۳۹؛ تنده

زړه به تر زړه پورې
په داسې حال کې لارې څنګه ؟
رسَوي سرته
دَ اخلاص په دې ژغلنو دښتو
چې مینه وینه
په کې بې دَ فرېب جن سرابه
که څرته بل څه هم لري ،
هغې ته تنده واي

(دَ قاهره څخه دَ دُوبۍ او کراچۍ په لور په سفر کې ... ۱۹۹۸ع)

## نظم ۴۰؛ تو پیر په تور او سپین کې

دَ ښېرو په چپه هم
که څه تو پیر شته ،
نو هغه ...
په ما او تا کې فقط دا ، چې
ته ټالۍ وَهې تیارو ته
پُتهوې څه ...
او زه هر څه څپړل غواړم

په رڼا کې

(قاهره - مصر ... ۱۹۹۷ع)

## نظم ۴۱؛ ته به له بل سره سيالي څه وکړې ؟

ژړا په دې خبره نه
چې ته بې کوره شولې
يا له بچيانو څخه لرې
او بې اوره شولې ،
ژړا په دې باندې کوم
چې ستا پتمنې جامې
دَ شپرين وروړ سره په غال
داسې پينې پينې شوې ،
چې ته اوس شرم لا هم
سم پرې پټولی نه شې
چرته شمله ؟
او دَ شملې دَ بيا ساتلو پښتو ؟

(ډېره اسماعيل خان ... ۲۰۰۲ع)

## نظم ۴۲؛ ته يې منې ، که نه منې خو ياره !

ستا دَ ګمان بنده پيښو
کېدی شي
چې په تيارو کې دَ زندان
يوه ورځ ،
له ساه تنګۍ په تا غوټه شي داسې

لکه زمری
چې په خپل ښکار وردانګي

( مغل کوټ ته نیږدې په سفر کې ... ۲۰۰۲ع )

## نظم ۴۳؛ جنتي دوزخیان

نه سجده
نه یې ایمان شته
کُفر وزمه یې خوُې لا ،
خو ، بیا هم
په جنتي رنګ
رنګېدلي دوزخیان دي ...
چې، دَ زړونو په ګرجو کې یې
جذبې کوي لمونځونه
احساسات کوي نفلونه
دَ ضمیر په امامت کې

( برسلز - بلجئیم .... ۱۹۹۶ع )

## نظم ۴۴؛ جنګ

چې زه یو تر مرۍ نیسم
دَ بل سر وي راشین شوی
چې دا بل له سره نیسم
ګورم، بل وي زیږېدلی،
زما دَ ژوند په کرونده کې
غمو کر دی دُومره کړی

چې نه زه شوم ترې بې غمه
او نه بُوټې دَ دوئ وَ تلی

(کوئټه .... ۱۹۹۱ع)

## نظم ۴۵؛ جوړه مړیمه ، یا وینمه خوبونه

دا چې هرې خواته سترګې غړَومه ،
زه دَ خپلې برخې حُورې لټومه
که څه هم ، جنتي نه یم
خو ، بیا هم
جنتي جنتي ځان ځکه ګڼمه ،
چې ګوټ ګوټ دی زړه راکښونکی
ګُودر وزمه
او انجونې په کې مستې له خُماره
لکه څانګې دَ ګُلونو
ځانګې هر لور
او زه هم لکه بورا
په کې بُونېږم

(ډائری پاڼه:- دَ سکائینګ سپاټس دَ منظرونو او رنګینیانو دَ لیدو وروسته غوره شوی -
نظم :- ویانا ،آسټریا ... ۱۹۹۶ع )

## نظم ۴۶؛ جهاد في سبیل الله

په وینو زما
که تنده ته دَ جهاد
وَ سرَولو ته چمتو ښکارې ، نو

دَ خپل ساتُول را اخیستلو رُومبی ،
بس فقط دغه
یَو ورستی خواهش مې
ته راپوره کړه ... مجاهده وروره !
چې کله ما
په سره کفن کې ګور ته
دَ میراث خور په حېثیت ورسپارې،
نو ګوره ګوره
چې په لمسه دَ بل
دَ خپلې کونډې او تور سرې وربندار
لاسونه بیا سره په نُکریزو نه کړې
ګنې ،
دا زما او ستا شریکه وینه
شریک مذهب
او هم شریکه پښتو
به تا غازي او ما شهید نه مني

(ژوب ... ۲۰۰۲ع)

## نظم ۴۷ ؛ چې ته خالي غېږه په ما ډکوې

دا ته چې
تنده دَ هوَس مې ځومره
راسرَوې په اخلاصمنو جذبو
دُومره دي خورِ
خو ، لکه اور تصور
زَما په زړه بلې ساتې سکروټې
هم دي دَ مینې جنوني کېفیت

ما ځورَوي
او سوځوي په شدت
دَ بل وصال تر هغه دمه پورې
چې ته خالي غېږه په ما ډکوې

( په توري بيچ انډونيشيا کې غوره شوی تهيم ... ۱۹۹۳ع )

## نظم ۴۸ ؛ حاکم

عجيبه غوندې حاکم يم
ستا دَ زړه دَ سلطنت زه
چې دَ واک خبره راشي
نو ، پخپله شې واکمنه
او په قهر دَ جمال مې
کړې مرئيی ،
لکه دا يم چې ....

(کوئټه ... ۱۹۹۱ع)

## نظم ۴۹ ؛ حقه دا ، چې داسې نه ... خو ، ګُله ياره ! !

ما او تا چې
 څومره څومره نيزدې کېږو
د ومره زمونږ دَ مينې تنده
نوره نوره
هم غمبږي تر دې هانده
چې مونږ دواړه
که څه هم جوړه جوړه

جهان ته ښکارو
خو ، ببل ببل مو سرابونه غُولوي اوس
ما او تا هم له يو بله بېلوي اوس

(له ډي آئي خان څخه دَ ملتان په لور سفر کې ... ۲۰۰۰ع)

## نظم ۵۰ ؛ حقه دا ، چې که حق وايم ... خفه کېږې

که هرڅو مې خوُرې په مينه
قسمونه
شک دې نه شته په اخلاص کې
خو ، اشنايه !
اعتبار درباندې ځکه کوى نه شم
چې تر تا له مخه هم
سلو يارانو
که څه هم داسې وئيلو
خو نن نه شته

(لندن ... ۱۹۹۶ع)

## نظم ۵۱ ؛ خپل ... خو ، لکه پرېدى

منم به څنګه ؟
چې ته هم زما په غم اخته يې
زما په رنګه
چې په وينبه لا څه ،
په خوب کې هم له تا سره وَهېږم
او بله ته يې ....

چې ښېره هم له ما
پُټوَې دا سې دَ حياء په پلؤ
لکه دا زه چې دي خپل نه،
پرېدی يم

(دَ پېښور په لور په سفر کې ... کوهاټ ته نيږدې ... ۲۰۰۲ع)

## نظم ۵۲ ؛ خپل لکه دُښمن

دا ته مې خپل که نه يې
نو مې بيا ځله په زړه
رالګوې منګولې ؟
او هم په ځای دَ ملهم
زما پُرهارونه پڑَې
لکه دُښمن
خو ، په جار
او لکه ، خپل په خپلوۍ
مالګې لا هم پرې پاشې

( دَ لوکسور او آسوان تر منځه په رودِ نيل کې دَ يوې هفتې دَ کشتۍ په سفر کې مصر ...
۱۹۹۸ع)

## نظم ۵۳ ؛ خلګ هم څو مره ساده دي ؟

خلګ هم څومره ساده دي ؟
تا په ما پورې رانيسي
ما په تا پورې در نيسي
لکه جوړه چې مورِ دواړه

نه یُو ببل ، سره پیوند یُو
ته په ما کې
زه په تا کې
که څه هم حقیقت دا ، چې
تا په ځان کې عُمر تېر کړو
ما په ځان کې عُمر تېر کړو

( کوئټه ... ۱۹۹۳ )

## نظم ۵۴ : خو ، آئینې ته ګورم

له خوبه څه ،
وینم دي زه په وینبو سترګو هم تل
او په سوچو کې
تا له بنه درکومه داسې
لکه دا ستا څېره چې
خپله نه ...
زما څېره وي
او زه له اصله
ایکې یو
خو ، آئینې ته ولاړ

( قاهره ، مصر ... ۱۸۸۷ع )

## نظم ۵۵ : خوبونه

رښتیا که نه دي
خو ، دروغ هم نه دي

لکه هنداري، دا خوبونه واړه
چې دَ ژوندون هره اړخېزه ښېره
ويني په موړ
په ښېلو ښېلو ښو
او هره ښه
ځانته ښو ښو ښېري
په تعبيرونو کې لا نوري ښېړي

(ارضٍ روم ترکي ښخه دَ بازرګان ايران تر منځه په سفر کې ... ۱۹۹۳ع)

## نظم ۵۶؛ خوبَولی تعبير

ستا په ليدو راته زړه وَوئيل
هېر زړيه شوقه!
په فرېبي نظر دَ سترګو
غُولېدليه شوقه!
دا ملاقات هم دَ خوبونو يوه برخه بوله
ځکه چې دا ښېره ... هغه ښېره وه ... بله نه وه،
چا، چې دا ستا قلم په تورو باندې وَژغوئ
چا، چې په ځان پسې په روغ ځان لېونی کړلې ته
که يَه، ته وائې ...
چې دا خوب نه ؤ
تعبير ؤ دَ خوب،
نو دا ښائيست دَ جنۍ نه
دَ يَو پرۍ کېدی شي
او په دې ته هم ښه خبر يې لېونيه شوقه!
چې ښاپېريانې خو اکثره

په خوبو کې راځي

( پېښېن ... ۱۹۹۰ )

## نظم ۵۷ ؛ خو ، دا مې واوره اشنا !

تا سره وَس چې څومره
ما سره زغم دی دُومره
که ته غره په حُسن
ما ته خدائی زړه راکړې،
ګوا ته چې څو په جبر
په جلادي اداؤ
او مه فصلونه رېبې
دَ آرزوګانو مې تل ،
مینه زما زېږَوي
هغومره هیلي نورې

( پېښور په لور وَ اټک ته نیږدې په سفر کې... ۲۰۰۲ع )

## نظم ۵۸ ؛ خیالي بڼه

ستا دَ لټون
په مست جنون کې اشنا !
دَ مُسلسل سفر له جوره زه هم
لکه پېری
اوس په نامه یاد ېږم
او بڼه زما هم
څه خیالي غوندې شوه

(اسلام آباد ... ۲۰۰۲ع)

## نظم ۵۹؛ ځناور ... خو، دَ دوؤ پښو

دغه لا بخت ګڼه
او شُکر کوه
چې تګ کولی شې په دوؤ پښو باندې
وا ښه هم نه خوُرې
نه بربنډ يې په تن
لکه انسان
خو، انسان وزمه حېوان
يا دَ قديمې زمانې دَ چُوختو
دَ وينې تږی سړي خوره انسان،
ولې چې بې دي له داړلو په ژوند
داسې بل کار هم کله کړی نه دی
چې پرې انسان
يا انسان دوسته ياد شې
او لا څوک وَوائي په هېره دا، چې
په پښتنو کې هم راځي لګيا دی
ارتقائي او معاشرتي تغير

(دَ ژوب څخه دَ ډي آئي خان په لور په سفر کې ... ۲۰۰۲ع)

## نظم ۶۰؛ څوک په حق او څوک ناحقه؟

چا، چې
په حقه پورته کړی وُژغ

او په مرمۍ مرمۍ يې ليک ؤ الله
هغه عسکر
نن دَ غزا په جنون
ځيګر دَ چا ، چا چې پڅَي
لګيا دی ،
هغه هم پور
په نوم دَ خدائی پرې کوي

(دَ پېښور په لور په سفر کې ، تترخېل ته نيږدې ... ۲۰۰۲ع)

## نظم ۶۱ ؛ څوک دَ چا په لټون ؟

ما به ځان او زړه
څپرَلو ورته
چې ما ته هغې نابلدې جنۍ
له خپلې خوا
دَ ډائرۍ په پاڼو
زما په نامه باندې ليکلې مينه
ټکي په ټکي
داسې وَلوستله
لکه هغې چې زه له ورکو غوښتم
نه چې
دا زه وم په لټون دَ هغې

(کوئټه ... ۲۰۰۳ع)

# نظم ۶۲ ؛ څو مره غټه ده دُنيا ، په واړه ځان هم

ښکاري داسې
که يو څو ګامه لا نور هم
مخته لاړم
نو دُنيا به شي تمامه
لاکن بيا چې په مزل مزل شم سترړی
نو مې سترګو وړاندې
هر يوه لاره
لکه مار مخته غزېږي
او وشېږي
فاصلې هم ورسره سمې
زياتېږي

(له مصر څخه دَ الجزائر په لور په سفر کې ... ۲۰۰۰ع)

# نظم ۶۳ ؛ څه نوم درکړم ؟

څنګه راغلې ؟
څنګه لاړې ؟
په هيڅ پوهی نه شوم جانانه !
خو ، چې ځانته مې لږ پام شو
نو زما دَ ځوانۍ ونې
نه يو ازې سره ګلونه
تکي شنې پاڼې هم ټولې
رېږولي وې په مځکه ،
خدائی خبر ،
چې ته اوس څه وې ؟

انجلۍ ، که ښاپېرۍ وې
او که يَه ...
دَ وخت سيلۍ وې ؟

( پېښين ... ۱۹۹۲ع)

## نظم ۶۴ ؛ څېرې ، آئينې او سوالونه

زما سترګې چې څه غواړي ،
که څه هم هغه څېرې دي
چې دَ زړه په آئينو کې
که راسپاري خوشحالياني
خوږ سکون
يا سوکالياني
خو ، زما دَ خوب په سمه
تعبيرونه يې ځان ځانته
دَ ځواب په ځای سوالونه
نوي نوي زېږَوي لا
ما په شپو کې ويښ ساتي لا

(کوئټه ... ۲۰۰۰ع)

## نظم ۶۵ ؛ دا په تا څه وَشو ؟ پښتونه وايه !

هغه هم ته وې
چې په پلو دې لاره ورکې خلک
تر منزلونو رسېدلو
بې خطره پرون ،

او نن هم ته يې
چې تر کوره دي لا بل رسَوي
لکه ټپ ړُوند ...
خو ، حقه دا ،
چې روغې سترګې لرې
وينې هر څه
خو ، حقائقو ته کتل نه غواړې
وخت سره تلل نه غواړې
ځان پېژندل نه غواړې

(اسلام آباد ... ۲۰۰۰ع)

## نظم ۶۶ ؛ دا جنۍ وې ، که دَ اور بلې لمبې وې ؟

دَ زرينو لمبه وزمه زُلفو شپول کې
سپينې ، سرې څېرې
سکروټې مُونبدلې
خړې ، شنې او زرغونې سترکې لا ببلې
دَ بڅرکو غوندې وې ،
چې کوکېدلې
او ما داسې سنجَول
لکه دا اور چې
زما دَ سترګو وړاندې نه
په ما کې بل وي
او په دې خو ....
ويلېدمه په ځان ځان کې

که څه هم ، لوګی کېدمه په جهان کې

( په آکسفورډ یونیورستۍ کې دَ سپل کولو په وخت ... ۱۹۹۶ع )

## نظم ۶۷ ؛ دا خبر زما نه ، آئینه وائي

چا ، چې پیاوې
تر پرونه پوري غواؤې
حېرت دا ، چې
دَ هغو څوري بچي هم
دَ شعور دَ مشالونو په رڼا کې
بې ډنډې
نن دَ رَمې غوندې مورِ پیاي
او بل مورِ یُو
ګرندیان په شملو څه ، چې
دَ بابک په زنګ وهلې تورُې هم لا
ویاړو داسې
لکه جوړه چې بري یُو
که څه هم حقیقت دا ، چې
ټول مرئیي یُو

( پېښور ... ۲۰۰۲ع )

## نظم ۶۸ ؛ داسې نه ، چې

له ما مه کوه پُوښتنه
ته دَ ځان په باب هیڅکله
داسې نه ،

چې تر څُلې راشي
دَ ځواب دَ پاره ګله !
زما زړګی درته پخپله

(تفتان ... ۱۹۹۳ع)

## نظم ۶۹؛ دَ امن دَ ناوې په واده کې

دغه خوب ؤ
که په سمه دَ ارمان زما
تصور ؤ
زما په ذهن راغونډ شوی ؟
چې سندرې ناشناس په انګرېزۍ کې
که وئيلې دَ موزارټ په موسيقۍ کې
نو ، ګوګوش په پښتو ژبه
او هلټين هم
له کلثوم سره په ګډه په روسۍ کې
وَ سندرو ته ؤ داسې جوړېدلي ،
چې عربۍ پېغلو کولو اتڼونه
ټُرکو والز
او جاپانيو بوليرو رقص
که چينۍ جُونې په تال دَ هند وې مستې
پښتنې هم ګډېدلې په ببلې ډانس
هن تر دې ، چې
دَ نړۍ درست شاعرانو
هم دَ خپل خپل خوب او خيال په سمه غبړې
ډکولې په راڼيانو په ټېنګو څه ؟
چا په فاکس

چا ، چا پولکا او فلېمنکو کې
حقه دا ، چې دَ عالم په دې محفل کې
جاربدلو انسانان له یوه بله ،
هیڅ توپیر نه ؤ تر منځه
ټول خپلوان ؤ
که څه هم حقیقت دا ،
چې دُښمنان ؤ ....
خو ، بس هسې مې آرزو دَ سوکالۍ نن
په دې زړه کې په شدت احساسوله
ځکه ما دَ امن ناوې ودَوله

وضاحتونه؛

| | |
|---|---|
| مشهوره موسیقار؛ | موزارټ ... دَ آسټریا یو تاریخي موسیقار، چې هر کال یې لس ورځې لمانځل کېږي |
| مشهوره سندرغاړي؛ | ( ناشناس ... پښتو ) ، ( ګوګوش ... فارسي ) ، ( هلټن ... انګرېزي ) ، ( کلثوم ... عربي ) |
| مشهوره رقصونه؛ | ( اتڼ ... دَ پښتنو ) ، ( والز ... دَ جرمنیانو ) ، ( بولیرو ... دَ هسپانویانو ) ، ( بېلي ... دَ عربیانو او تُرکیانو ) ( ټېنګو ... دَ سهېلي امریکیانو ) ، ( فاکس ... دَ امریکایانو ) ( فلېمنکو ... دَ هسپانیانو ) ، ( پولکا ... دَ آسټرینو ) |
| دَ نظم دَ لیکلو نېټه او ځای؛ | ( اسلام آباد ... ۲۰۰۲ع ) |

## نظم ۷۰؛ دَ افغاني غمو خوړلیه مسیحا !

وایه !
ستا دَ زړه له سره غمرازیانې
زړخوښیانې
او په سترګو کې ولاړې

دغه اوښکې
ستا دَ مکر به اوس څنګه؟
دا زَېلي
او پُرهار پُرهار وګړي
بيرته ښاد
او روغ رمتې کړي پخوا غوندې
چې هم ستا له لاسه
دي خو ژوبل شوي

( دَ لورالائي کټوي مهاجر کېمپ په ليدو ... ۲۰۰۲ع )

## نظم ۷۱؛ دَ انساني فطرت په سمه

چې له دې مځکې څخه
پاس تر شنه آسمانه پورې
بيا له سپوږمۍ څخه هم
رَک تر هر هر ستوري ښېلي
دَ سرې او شنې په شان
که پرانستل شوې لارې لا هم ،
خو دا نړۍ
او په نړۍ باندې مېښته خلګ به
دَ رنګ او نسل
يا مذهب او دَ وطن په نامه
دغسې ښکاري
وېښل شوي غرضي کرَکو کې ،
هم به يې وي ولاړ
تر منځه دېوالونه .... ځکه
چې چرته وَ نه داړي دغه ځناور

خپلو کې

(راولپنډۍ ... ۲۰۰۱ع)

## نظم ۷۲؛ دَ بابا خوبونه هم واړه دروغ شول

نه هغه پښتون دی ، چې بابا په خوب لیدلی ؤ
نه هغه ژوندون دی ، چې بابا په خوب لیدلی ؤ
هغسې تر منځه مو ولاړ دَ انا غرونه دي
لا ، هغه بېلتون دی ، چې بابا په خوب لیدلی ؤ

یو دَ بل دَ لاسه موږ په لمسه دَ اغیارو مرو
نه رسېږو موږ تر منزلونو او په لارو مرو
لا هم هغه موږ یُو او زموږ تر میانه هغه جنګ
څه هم که بې واره دَ انګرېز په هتهیارو مرو

زموږ له جوره خویندي نن اکثره بې مړو ګرځي
زموږ په لټون میندې هم همېش په ادیرو ګرځي
ښار دَ ژوندانه مو دی پرېښی وَ اغیارو ته
موږ ګرځو په غرو کې او مرګی مې په سرو ګرځي

ناوې دَ پښتو مو تر مرۍ خپله نیولې ده
بیا مو خپل دَ لاسه سپېرو خاورو ته سپارلې ده
اوس که یې په اوښکو دَ ګور سنختې لا هم پرېمنځو
مړه آرزو وَ سر ته په ژړا چا رسَولې ده؟

څوک چې زموږ غوښې په مزه مزه دَ زړونو خوُري
څوک چې زموږ وینې په کاسو کې دَ سرونو څکي

لا هم یُو دَ ښو په تمه ناست وَ هغو خلګو ته
څوک چې جنازې راته په ملا دَ خپلو وروڼو ږدي

ژوند که په سپیتانه وي ، نو وایم چې مرګی ترې ښه
ننګ که په سرې کې نه وي وایم چې نر سپی ترې ښه
پت ، ښېګړه ، توُره او وفا چې شوقه! نه لري
اور دي په هغه پښتون پسې شي، فېرنګی ترې ښه

(کوئټه ... ۱۹۹۵ع)

## نظم ۷۳؛ دَ پرونۍ خبرې په لټون

هغه هنداره
زما دَ سوچ هنداره
هغه هنداره
زما دَ خوب هنداره
چې یو خبره یې په ما تل لیدله
داسې خبره
داسې ژوند وزمه خبره
چې هم مې خپله وه ،
هم خپله نه وه
ځکه خو ما به په هنداره باندې
دَ تجسس او دَ حسرت منګولې
په مینه مینه لګولې مُدام
په دغه نیت
چې زه یې وَ پېژنم
لا یې دَ خان په باب څه وَ ژغوم
خو ، دَ نصیب لکه چې نه وه خوښه

چې يوه ورځ
هغه وړه هنداره
زما له لاسو ناڅاپه ولوېدله
او دَ طلب هغه ماشومه څېره
په سل توکرو ځله وَوېښل شوه ،
بس له هغې ورځې تر ننه پورې
زه په لټون دَ هغې ښکلې څېرې
هرې جنې ته زړه په لاس کې ږدمه
او لا ، دَ سترګو په کچکول کې ځينې
په ماته څُله خېرات دَ مينې غواړم
ځکه چې څوک په رنګ مُونېږي ورته
دَ چا په سترګو کې هغه سترګې دي
څوک په تندي
او څوک په زَنه هغه
څوک په شُونډانو
څوک په پوزه هغه

( کوئټه ... ۱۹۸۸ع )

## نظم ۷۴ ؛ دَ پښتون په کور تياره ده

زما په ياد دي
ښه په ياد دي
چې ، دَ نيمې شپې وَخواته
ما په مخ دَ کاغذونو
هغه ټول څه ؤ ليکلي ،
کوم چې زما دَ قلم څُوکې
نه ؤ کښلي بيا دَ مخه ،

هم په دې خو مې دا سترګې
څڅېدلي وې څه دا سې
چې دَ سرې سياهي ټول تورې
په يو بل کې سره ګډ شول..
بس که نه وه رنګه شوې
زما دَ اوښکو په سېلاؤ کې
نو دغه يوه فقره ، چې
شوقه ! پورته څراغ بل کړه ،
دَ پښتون په کور تياره ده

(تاند وانۍ ، زيارت ... ۱۹۸۹ع)

## نظم ۷۵؛ دَ تيارو په زد ملګرې لټوؤ موږ

موږ دَ مينې دَ جذبو له برکته
دَ جنون دَ ورستنې پُولې په خوا کې
دَ ښېلتون په نوم
نفرت په دېوالونو
نوشته کړو او په ګډه مخته تېر شؤ ،
څنګ په څنګ
له تاندو هيلو سره داسې
چې که څه هم
اوس لرو بېل بېل نومونه ،
خو ، له اصله دواړه
يو تن او سايه يُو
او دَ لمر سره سره په وړاندې ځو موږ
دَ تيارو په زد

ملګري لټوؤ موږ

( پېښور ... ۲۰۰۲ع )

## نظم ۷۶؛ دَ خوشحال بابا دَ توُري متهي

۱

دَ چا په ننګ
چې خوشحال خان ترِله توُره پرون ،
نن دَ هغو په خاوره کې
دَ هر شنه شوي فصل
بُوټي تک سره
او بُوی دَ وينو ترې ګُلېږي ځکه
چې ، دلته دې قام
دَ غزا او دَ جهاد په نامه
خپلو کې لوبې دَ سرونو
دومره کړي دي ، چې
اوس دَ اوبو په ځای
ويالې په کې دَ سرو سرو وينو
تنده دَ مځکې ماتوَي
او لور به لور بهېږي

۲

دَ چا په ننګ
چې خوشحال خان ترَله توُره پرون
نن دَ هغه قام
وراړې بُورې ، کوُنډې رنډې لا څه

چې پېغلې خوېندې
او ورېږي ماشومې لوُنې لا هم ،
پينې پينې زړَو جامو کې دَ بل چا
بې ستره ....
لکه سوالګيري
کور په کور ګرځي ، خېرونه غواړي ،
خو ، بلې خواته يې نرګاړي
دَ دې هر څه پرته
مرمياني خوُري په سينو باندې
دَ غېرت په نامه

۳

دَ چا په ننګ
چې خوشحال خان ترَله توُره پرون
نن دَ هغه قام
سرې خپلو کې ، دَ بل په لمسه
دَ وينو تنده
ماتولَو ته جوګه دي داسې
چې ماشومان يې لا هم اوس
په امبارونو باندې
ځانته خواړه
دَ بودګانو غوندې څه لټَوي ؟
چې له لمرونو که ساتي ځان
دېوالو سيورو ته ،
خو يخو شپو کې
ځان په اور دَ اخبارو تودَوي

(کوئټه ... ۲۰۰۰ع)

## نظم ۷۷؛ دَ ځناورتون خاونده !

منمه دا
چې ، تا په زور دَ سوتې
له ځناورو دي جوړ کړي دي سړي
خو ، دا به ته هم منې
اې باداره ! !
چې که افغانـ نن دَ زمري په بڼه
تنده په وينو دَ انسان ماتوَي
خو ، دَ دې جُرم قصور واره ته يې
ته يې ... بل څوک نه
سزا واره ته يې ،
ولې چې ....
دائی خو ټېَي کړی تا دی ،
اوس يې لا
مالګې په زخمونو هم ږدې... ؟

(کوئټه ... ۲۰۰۲ع)

## نظم ۷۸؛ دَ دې آغاز ، انجام به څه وي ؟

ما دي لاس
په لاس کې واخيست په دې نيت ، چې
دَ وجود له حرارته مې
دَ زړه حال
ستا وَ کانې زړه ته لږ خو درمعلوم شي ،
خو په هيځ نه شومه پوهی ، چې

ګله یاره !
ستا په زړه کې هغه وخت څه ؤ ؟
چې لاس دي...
زما په خوا راغزَوئ
نو ، دي په وار وار
سترګې مړې مړې زما په لور را اړَولې
هم دي شُونډې په غاښو راته چیچیلې

(کوئټه ... ۲۰۰۲ع)

## نظم ۷۹؛ دَ زُوی په سر باندې سودا ته جوړېدلیه پلاره !

ښه خو به دا وي
چې دَ لاسه یې مری، خپَه کړې
په وخت دَ زو کړې
دَ هغه زُوی
چې سبا یې تربُور
هغسې هم
په غال کې ستا
او ستا دَ ورور دَ شملې
ککړ په وینو
ځواني مرګه مړی تا ته
که په زړَو اوږو در ړدي...
نو په تا غر نړَوي

(راولپنډۍ ... ۲۰۰۱ع)

# نظم ۸۰؛ دَ ژغ ښېره

هغه ښېره
چې ما په سترګو کله
دَ درست جهان ښېرو کې وَ نه ليده
هغه ښېره
لاکن په هغه بڼه
دَ ټېليفون په وسيله وَ ما ته
دَ خپل زړګي په پُرهارونو کې اوس
دَ خوږو څړيکو په رِدم کې راته
پوهېږم نه
چې محسوسېږي څله؟
چرته زما شاعرانه جذبې خو
دَ سُر او تال په افسون نه شوې لاهُو ،
که يَه ...
هم دا خبره نه ده ، نوبيا
دغه زما په رنځ رنځوره جنۍ
چې ځانته زما يَو پرستاره واي
کېدلی شي... ،
چې هم هغه پېغله وي
چې لا تراوسه يې
پلۇ دَ حياء
له خپله مخه ليرې کړی نه دی

(کوئټه ... ۱۹۹۰ع)

## نظم ۸۱؛ دَ ژوند سوال ، ځواب هم سوال

هر څه هر څه دی
خو بیا هم
دغه ژوندون خار مړی
دی هغه سوال
چې په ځواب کې لا
بلا سوالونه
زېږوي څه چې ،
مورې هم تل په امتحان کې ساتي

(تیپازه ، الجزائر... ۲۰۰۰ع)

## نظم ۸۲؛ دَ ژوندون څېره

ستا دَ څېرې تکمیل چې څنګه وکړم
ما اند ېښنې په سر لا نور هم واخلي
او شمه بوخت په رنځ دَ هغو څېرو
چې تصویرونه یې خوندي لرمه
زه دَ یادونو په البم کې اوس هم
هغه څېرې
په شمېر سلګونو څېرې
دَ بېل بېل رنګ
بېلو نسلونو څېرې
هغه څېرې چې فقط نه وې څېرې
هغه څېرې
هغه پې مخې څېرې
غلط به نه یمه ،

که وَوایم، چې
هغه ښځې نه، آئینې وې ټولې
چې ما هم ته په کې لیدلې مُدام
هغه ښځې نه وې،
ۀ ښلې دَ لار
چې ستا دَ ښکلي مخ په لور یې اشنا !
زما دَ خیال راهنمائي کړې ده
زه یې تر تا در رسَولی یمه
زه یې په تا پورې تړلی یمه
اوس که څه هم
په ایکې یَو وجود لا
زه په څو لارو وېشل شوی ښکارم
خو ، ستا ښځه
ستا نازنینه ښځه
زما دَ سکون
زما دَ ژوندون ښځه ده

(دَ پېښور په لور په سفر کې ... ۲۰۰۲ع)

## نظم ۸۳؛ دَ سړیتوب په اړه پرَه وروره !

څومره اشرف المخلوقات دی انسان.. ؟
دَ دې ځواب
راته زړه راکړو هله
چې، ما په خپلو ګناهګارو سترګو
تر محلتونو هم ښائیسته هدیرې
دَ بختَورو
وَلیدلې هلته ،

چرته چې ستا په خيال
دَ کُفر راج دی

(ساراګوسا ، سپېن ... ۱۹۹۶ع)

## نظم ۸۴؛ دَ سلو يار

څوک چې ګوري راته
وايم، دا به ته يې
څوک چې خاندي راته
وايم، دا به ته يې
دا به ته يې
دا به ته يې
دا به ته يې
بس په دغه رنګه
زه په دا او دا کې
په لټون ستا دَ څېرې
دَ سلو يار شوم

( دَ کراچۍ څخه دَ بنکاک په لور په هوائي سفر کې ... ۱۹۹۴ع)

## نظم ۸۶؛ دَ شملې په نوم چې مورِ نن

په وړو وړو خبرو
که سرونه په لاسو ړدو
نو ، کاسو کې دَ سرونو
خو ، سرې وينې هم څيښو مورِ ،
غرض دا چې که مورِ څه هم

انسانانو ته مُونېږو
خو ، په پټه په فطرت کې
له هرڅه پرته
والله چې
سړي خوره حېوانان يُو

(دَ پېښور په لور په سفر کې .. لکي مروت ته نيږدې ... ۲۰۰۲ع)

## نظم ۸۷؛ دَ شېکسپئير دَ مجسمې په وړاندې

ستا له عظمته انکار کُفر ګڼم
خو ، بيا دې هم چې ترانې ته څنګه ،
څُله جوړَومه
نو ، اروا دَ خوشحال
زما ضمير په کاڼو وَلي ځکه
چې ما يې حق څه ؟
نوم په سمه لا هم
په باباګانو کې ليکلی نه دی ،
او دلته ته يې
چې تراشلي بُتان
ستا دَ ډرامو دَ کردارونو لا هم
تا وَعالم ته
په بيا بيا يادَوي

(تهيم :- ستيراټ فورډ . انګلينډ ۱۹۹۶ع / نظم:- کوئټه ... ۱۹۹۷ع)

# نظم ۸۸؛ دَ ښکلي ژغ مظلومې څپرې

نن يې په سترګو کې
دَ ژوند په ځای مرګی نڅا کړي
او په تنديانو کې يې هم
لا نرۍ ګونځې دَ وير
يَو يَو داستان
دَ ظلم جبر که ليکلی بربښي
نو، هغه څُلې هم
دَ سندرو او اشعارو په ځای
ژړَوي غم
او په سُلګيانو باندې داسې سر دي
چې زما په زړه کې يې
دَ ژغ هغه خيالي څپرې لا
که څه هم شته
خو، ښکاري نه سترګو ته هغسې اوس
کومې چې ماته پخوا هره شپه
کابل ربړه يو
ناستي دَ باد په اوږو
بيا بيا رالېږلې څه، چې
زه يې له ځان سره هم
خوب وَ جزيرو ته بوتلم

(په افغانستان کې دَ حق او دَ جهاد په نوم دَ جوړ شوي ځناوري غوبل ورسته دَ کابل راړيو دَ ځينو خوږ ژغو اناؤنسرانو او سندرغاړو وَ پاکستان يا يو نيم بل هېواد ته دَ هجرت کولو سم دستي دَ هغوئ حالت زار په ليدو ... يا دَ هغوئ په در پدرۍ له يو بل څخه خبرېدلو ورسته دا نظم وَ ليکل شو - پېښور... ۱۹۹۹ع)

# نظم ۸۹؛ دغې رښتې له به نوم څه ورکوؤ ؟

( يوه ريښتونې کيسه )

خاورې په ځان راباډَولو ورسته
چې څنګه ما
تندی په قبر کښېښود ،
دَ ځواني مرګ زُوی
اروا واې راته ....
مه کوه وِير په ما بابکه پلاره !
زه اوس بزګر نه
شهزاده يم ...
راشه
زه به دې لاره په کعبه کې ګورم ،
دومره وئيل ؤ ....
چې زاړه افغاني
سترګې کړې پټې ...
په سُلګيانو سر شو
او رَپېدلي ...
کپَېدلي ژغ کې
وائې ... بيا هغه ورځ هم راغله په ما
چې په لټون دَ شهزاده بچي مې
دَ خدائی په کور کې په ژړا باندې سر
هغه شېطان هم ولَيدو
اې ځوانه !
چا ، چې له ما سره بازی کولې ،
په يوه غولي
چې ماشوم ؤ کله

خو ، اوس نیولی دی په خون دَ هغه
چا ، چې به ده ته ګل کاکا وئیلو

( دا کیسه په محمدخېل مهاجر کېمپ ، پنجپائي کې یوه زاړه افغاني ورور راته کړي وه ،
چې ما یو څو ورځې ورسته نظم کړه ... ۲۰۰۲ع )

## نظم ۹۰ ؛ دغه دي مینه ، که ادا وَګڼم ؟

چې تر څپلو
راڅپړې ترلي ګنډې ،
زما په زړه کې
داسې خیال کړي سر راپورته
لکه زه چې دي
وَزړه ته له پخوا لا
تېر ایستلی وم په مینه
خو ، په پټه ...
لاکن بیرته حق حېران پاته په دې شم ،
چې ته څنګه وَ خوږي ماته
زما له سترګو
نو ، خبرې هم په بله واړوې ته

( کوئټه ... ۲۰۰۲ع)

## نظم ۹۱ ؛ دغه زَما ، هغه دَ دوئ مجبوري

په هلو ځلو
دَ لوُمړي نمبر مې
په درځنو یاران په دې وَ بائیلل

چې نه خو
دوئ رابېلېدل له ډلو
او نه زه
خپله درېدلی شومه
دَ اشنايانو په قطار کې ورته

( پېښور ... ۲۰۰۲ع )

## نظم ۹۲ ؛ دَ فرعون سره دَ شوي قول په سمه

دا کېدی شي
چې په ورځ دَ حساب دغه
دَ رښتيا په تول پوره وتلي خلګ
دَ انصاف په جوارۍ کې دوزخونه
اوګټي په دې خبره ، چې بې صبرو
دَ خالق دَ يو جنت په سر
ځان ځانله
دَ دروغو جنتونه دومره جوړ کړل
چې اوس حُورې په کې
بارِ دَ جنتي ژوند
ماتوَلو ته جوګه ښکاري هر لوري

( دَ مونټې کارلو دَ يوې مشهوره کاسينو دننه او دباندې ماحول تر اثر دلاندې غوره شوی تهيم ... مناکو ، ۱۹۹۶ع / نظم:- کوئټه ... ۲۰۰۰ع )

## نظم ۹۳ ؛ دَ فرعون لوُر

" دَ جلال او دَ جمال توان به مې شوقه !

وایه.. ځنګه ته راوړې په خوار غوښین زړه؟
زه یم لُور دَ فرعونانو
او په ما کې
دَ هغو دَ ویني جوش او ولولې لا
په غورځنګ لکه څپې دَ رودِ نیل دي"
تنا وزمه دا خبري یې لا څه چې
په موسکا یې برېښناګانې پړکولې
په خندا یې تندرونه غورځولو
هم کړو کتو یې لا دَ نظر غشي
دَ زړلیانو په حساب را تاوَولو،
حقه دا، چې دَ ځوانۍ زور او له کبره
دَ لمبې په شان دَ اور به وشېدله
ځنګېدله.. غوړېدله
هن تر دې چې
غزېده به لکه مار، خو
ماره نه وه
هو، دَ مار تر سیورې لاندې دغه پېغله
بله څوک هم نه
هغه قلوپطره وه،
چې په رُوح راورېدله له پېړیانو
او په ما یې دَ عمرونو واټنونه
دَ وصال وَ دې ساعت ته ؤ سر کړي،
ځکه ما کې هم سیزر کړو سر راپورته
په لیدو دَ هغې ورکې ملائیکې
او دَ میني عسکري جذبې مې واړه
دَ هغې په فولادي زړه شوې ورماتې
او بې غاله چې راماته شوه په عجز
زه یې هم په حاکم ځان،

ځانته مرئيي کړم
او دَ عشق دَ تقاضو په سمه دواړو
يو ځل بيرته
فرعوني تاريخ ژوندی کړو

(قاهره - مصر ... ۱۹۹۷ع)

## نظم ۹۴؛ دَ ګُوتِل شوؤ احساساتو په تول

وايمه دا ،
قيامت کېدی شي
راشي ....
خو ، دا خبره هيڅ امکان نه لري
چې پښتانه به هم په نره کله
لکه سړي
ژوند ته لستوڼي غړَي
يا به په هېره
پښتو هم درَنوي .... ؟

( ژوب ... ۲۰۰۲ع )

## نظم ۹۵ ؛ دَ لار ښود په مرګ

چا ، چې وَ ماته
بندي لارې پرانستلې دَ ژوند
چا ، چې وَ مخ مخته
په تګ زه پارَولم همېش
نن دَ هغه دَ ګور وَ سر ته يم

ولاړ په دُعا
اوښکې مې څاڅي که له سترګو
خو ، زړه ژاړي په دې ،
چې دَ ژوند کډه به له دې ځلي
په کومه وړم اوس
دا چې ، دَ مړو سنختو ولاړې
شاوخوا دي راته

( لورالائي ... ۲۰۰۲ع )

## نظم ۹۶؛ دلته سودا ده ، دَ حاضرو سترګو

کله په ځان باندې غره شم په دې
چې زه به هم په خپلو ګران یم داسې
لکه دا زه ، چې
پرې غوَړیږم په جار ...
خو ، بیا چې کله مې نړاند قبرونه
دَ هدیرو راته په زړه شي څنګه
ما ته خپل ځان
دَ دوؤ پیسو ښکاره شي
ولې چې مړه
دَ ژوندي سرو په سر
په پښتنو کې وي بې قدره مُدام

( له زیارت څخه دَ کوئټې په لور په تګ کې ... ۲۰۰۱ع )

## نظم ۹۷ ؛ دَ لمر، سپوږمۍ ، مځکې مجرم ګليلئيو !

کليسا دَ جهالت دَ زمانې ، چې
تور به تا ځنګه تپَلو
هم هغسې ،
دَ دې وخت عادلان هم په پټه سترګو
ما مجرم ځکه ګڼي
چې، رڼا خوُرمه ،
رڼا اغوندم او اوسم په رڼا کې
لکه ورځ
چې وي روښانه په لمر باندې..
او يا هغه شپه
چې رُوڼه په ځراغ وي

( تهيم :- دَ اټلي په فلورينس ښار کې دَ سېنټ کروس په چرچ کې ، چې چرته دَ سر ګلېلئيو
تابوت / قبر دی ... ۱۹۹۶ع )

## نظم ۹۸ ؛ دَ مائيکل اينجلو دَ لغړې مجسمې په وړاندې

دَ بُتانو په جوړښت کې
لاهوُ شو يه سنګ تراشه !
تا وَ چاته ساه ور نه کړه
نه يَو بُت وَ ژغېدلو ،
که څه هم هغه موسیٰ ؤ ،
فرښته يا دَ شېطان بُت ،
خو ، نن ګوره ته هم بُت شوې
تراشل شوی په لاسو خپل
خو ، بيا هم مړ نه شوې ځکه

چې ، اعضاؤ کې دي ژوند لا
سنجَوي دَ يورپ پېغلې
او سلام لره هر کله
درته ځي راځي په ډلو

( تهيم : - فلورينس ، اټلي ۱۹۹۶ع / نظم : - لورالائي ... ۱۹۹۹ع )

## نظم ۹۹ ؛ دَ مقدسه ښار فرېبي ژوند

چرته
چې فرېب هنر ګڼي خلګ
هلته
مينه وينه څه ؟
اقدار لا هم ،
پاي په اغراضو باندې داسې تل
خاص لکه دَ روم مستې انجونې چې
بې له سرو او سپينو
که بل څه غواړي ،
هغه ... مدهوشي ده
يا توده غېږه

( ډائرۍ پاڼه : - روم ، اټلي ... ۱۹۹۶ع )

## نظم ۱۰۰ ؛ دَ مفلسۍ په جُرم

ما چې يې نورو ته مثال ورکوئ
هغه په ما باندې
مئينه لا هم ،

لاړه په بله ... تش په دې خبره
چې ، زما تر جېبه غزَولی لاس یې
ځانته لا
نه ؤ سم غبرګ کړی خالي
چې ، زما په نوم یې وَلیکله کرَکه
او دَ بازار په لور یې
مخه وکړه

( ډائری پاڼه:- پتایا بیچ ، تهائي لېنډ ... ۱۹۹۴ع )

## نظم ۱۰۱؛ دَ موزارټ په موسیقۍ کې

راته داسې محسوسېږي
لکه ټولې نظارې چې
دَ موزارټ په موسیقۍ کې
نن سندرو ته جوګه وي
که یَه ... ،
داسې کیسه نه ده
نو ، بیا زه ځله ځنګېږم ؟
چرته زه خو موزارټ نه یم
چې ، له څو پېړیانو ورسته
یو ځل بیا نن سرودونه
ژغومه په فضا کې

( سېلزبرګ ، آسټریا ... ۱۹۹۶ع )

## نظم ۱۰۲؛ دَ میلانو څلي

نور دي دَ مینې په افسون
که څه هم نه پوهېږم
خو ، کله کله سنجَومه داسې ،
لکه له ورکو چې خپل ځان لټوم
او یا یَو شی دی تعاقب کې زما
چې زه امان ترې غواړم
ځغلم ... تېښتم ،
خو ، بیا چې شاته ګورم
هیڅ هم نه وي ،
که وي هم څه ...
نو ، فقط پلونه زما
او یا سر شوي ، دَ میلانو څلي

( منصوره ، مصر ... ۱۹۹۸ع )

## نظم ۱۰۳؛ دَ ناروا فتوې په سمه

تاسو څه غواړئ ؟
دَ چا په زَد جنګېږئ ؟
دا پُوښتنې چې مې ځنګه ځینې وکړې
نو ، په ځای دَ ځوابونو
وسله والو ...
وَ یَو بل داسې وَکتل په ځیر ځیر
لکه هر یَو چې له بله کړي پُوښتنه
او خبر په څه
هیڅوک نه دی ، چې څله ؟

خو ، بيا هم دي جوړېدلي وَ غزا ته
دَ يو بل په زَد دغه سکني ورُونه
بس دَ داسې ناروا فتوې په سمه ،
ـ که دي بُوره خپله مور کړه ، نو غازي شوې
او يا مړ دَ ورور دَ لاسه شوې... شهيد يې

( تهيم:- مصر ۱۹۹۸ع / نظم:- کوئټه ... ۲۰۰۰ع )

## نظم ۱۰۴؛ دَ نتاشا په نوم

دَ ښېرې ښکلا دې هم زه
متاثره نه کړم ځکه
چې ، دَ ګل ګل نقش تر شا دې
دَ ازغو په چپه داړې
دَ داړلو په نيت وازې
زما وَ زړه ته دې ساتلي
خو ، دا زه يمه ، چې ژغورم
ځان او زړه څه ؟
هم جامې لا ...
لاکن ته يې چې هغسې
راسره يې لکه سيورى

( ډائرى پاڼه:- ګلاسکو ، سکاټلېنډ ... ۱۹۹۶ع )

## نظم ۱۰۵؛ دَ نن انسان او...

ثومره چې بد غواړي
دَ بل دَ پاره

هغومره ښه کوي
دَ ځان په حق کې
دغه خاصې لري نن
هغه انسان ،
دَ چا په سر باندې پرون ...
چې ابليس ،
له فرښتې څخه شېطان وَ ختو

( راولپنډۍ ... ۲۰۰۱ع )

## نظم ۱۰۶ ؛ دَ نيس شپه ، زه او يادونه

ما وئيل
نه شته په جهان کې بل څوک
چې ، زما په رنګه تود خلوص وَ لري
خو ، چې دَ اور سَکنۍ خويندې په ما
لمبه لمبه څنګه را وَتاوېدې
نويې په بېل بېل نغَري کې زه هم
په تاؤ دَ مينې
سَوی سکور کړم داسې
چې ، اوس که څه هم روغ رمَټ مُونبرِم ،
خو ، حقه دا ،
چې دَ يادونو په څير
لکه يَره ...
سهار ، ماشام دُورېږم
په لورې زه

دَ جېن ، کرستېي او تېينا

( ډائرئ پاڼه:- نيس ، فرانس ۱۹۹۶ع / نظم ، کوئټه ... ۱۹۹۹ع )

## نظم ۱۰۷ ؛ دَ يوه وجود... بېل اندامونه

دغه دَ ژوند په اوږو بار
بې حرکته مړی
ممکنه نه ده ، چې راپورته شی
که وَ نه لري ...
سر دَ پښتون
خو ، دَ تاجکو او اُزبکو لېچي ،
يا هم په پښو
دَ هزاره او دَري والو بيرته
دَ يَو افغان په تشخص
مزل ته ملا نه تړي

( قاهره - مصر ... ۱۹۹۷ع )

## نظم ۱۰۸ ؛ دَ يو يشتمې پېړۍ انسانه !

وايه... ستا په خيال به هم
داسې ښه نه وای؟
چې له پاڼو او وښو جوړي جامې مو
اغوستلی
او په غارو کې دَ غرونو
يا ځنګلو کې
اوسېدلی .. غړېدلی

آسائش دَ ژوندانه هم نه وای داسې
ښائش دَ ژوندانه هم نه وای داسې
هلې ځلې ... نه لالچ دَ پرمختګ وای
نه خو ، پوهه او نه علم .. مړ شعور وای
وی ... خو بس چې لږ احساس دَ سړيتوب وی
او يا وينه دَ انسان
انسان دَ لاسه
دريغه دريغه کله هم نه بهېدلی

( نوښار سره نيږدې دَ پېښور په لور په سفر کې ... ٢٠٠٢ع )

## نظم ١٠٩ ؛ دَ هر ګور وَ سر ته شنه شول نور سرونه

(دَ افغانستان دَ نوي انقلاب تر اثر دلاندې )

دَ چا په لمسه
چې په بېلو بېلو بڼو
تر پرونه پورې تا رېبل سرونه
او پئيل دي ترې وَ چا ته امېلونه ،
هم ، هغو سوداګرانو برايه شپه
ستا دَ سر سودا هم وکړه ، مخته تېر شول
خو ، ستا سر شو له خطرو په امان ځکه
چې شپه تېره شوه ،
سهار شو ستا له بخته
او دَ غرو له څوکو لمر څه راښکاره شو ؟
چې دَ ګڼو هديرو په دې هېواد کې

یو ځل بیا دَ ژوندانه په تاندو هیلو
دَ هر ګور وَ سر ته شنه شول نور سرونه

( اسلام آباد ... ۲۰۰۲ع )

## نظم ۱۱۰ ؛ زړه چاؤدې سانحه

( دَ ډاکټر نجیب په ناروا قتل )

مړ به شم زه
خو ، زما به هېره نه شي
دا واقعه زړه چاؤدې
چې ګاونډیانو مو آخر هم لوبه
دَ خپل وحشت چې رسَوله سرته
نو ، په ښادۍ کې یې
په ځای دَ پُسونو ،
دَ پښتني دود او دستور په چپه
کړو راځوړند هغه سپین ږیری مشر
څوک چې دَ امن پیامبر یادېدو
چا ، دَ دوئ تر منځه صُلح غوښته

( کوئټه ... ۱۹۹۷ع )

## نظم ۱۱۱ ؛ زما او ستا تر میان دَ مینې عجیبه تړون دی

زه دَ جنون په لار تالۍ وَهم
لګیا یم ځمه
او واټونه

لنډَومه دَ منزل په لورې ....
ته لا تر اوسه نُوک وَهې په هر قدم
چې راځې ،
خو بیا هم دواړه په یو بل
مشهوره یُو سرتېري

(تهیم:- پرستین... ۱۹۹۶ع / نظم کوئټه ... ۱۹۹۷ع)

## نظم ۱۱۲ ؛ زمري ښنګه غوئیی شو... ؟

چې له خوبه را بېدار شوم
نو څه وینم ... ،
چې په کور کور او کوڅو کې زما دَ کلې
دَ زمریانو په ځای سپیان دي ،
چې غپېږي
او دَ هر سپي داړي سرې دي ،
هم تېږي دی ...
خکه ما کړې سترګې پټې یو ځل بیرته
په دې هیله
چې بهتر به سباؤن وي ،
لاکن ما چې ښنګه ښنګه واتېنونه
لنډَولو دَ طلب دَ خوب په لورې
سپیانو هم پوستکې اغوستل ... لګیا ؤ
چا پوستکې دَ جونګي ،
چا دَ غوئیانو
خود په دې نیت
چې له خوړو په امان شي
یا په دې ،چې

ماته وَنه خوُري دښمن ته ،
بس چې کله خوب څادر په ما راخپور کړو
نو څه وینم .. ،
چې زما دَ قام هر غړی
په اوږو او په ملا بار لري غمونه
اندېښنې دَ بې وسۍ
احساس دَ ماتې
خو ، کولی بیا هم هیڅ نه شي خوار ځکه
چې دَ ده باګې
دَ بل په لاس کې وینم
او ده سر دی ګوز نیولی په دې فکر
چې
دائی ځنګه په زمري ځان نن غوئیی شو ؟

(اسلام آباد ... ۲۰۰۱ع)

## نظم ۱۱۳ ؛ زېرى دَ مينې

دا چې ماته
ته په برګو برګو ګورې
او چیچې راته
له خشمه شُونډې سرې هم
دا اظهار دی
ستا دَ کرکې په ښکاره ، خو
په کې زېرى هم
زما دَ مينې پټ دی

(تهیم:- لېچستېنستاېئن... ۱۹۹۶ع / نظم:- کوئټه ... ۱۹۹۷ع)

# نظم ۱۱۴؛ زه له تا ، په پټه تا رابېلومه

ستا دَ زنې
وَ شنه خال ته چې په ځیر ځیر
داسې ګورمه ...
نو ، پوهی شه چې اشنا !
زه دَ غله غوندې په پټه
ستا له سترګو ،
دَ ځوانۍ او دَ خُمار
خوند او رنګونه
دَ بېو په څوکو یَو یَو که پئیمه ،
زه له تا ....
په پټه تا رابېلومه

(کوئټه ... ۲۰۰۲ع)

# نظم ۱۱۵؛ ژوند

بند کړه کتاب... که معنا غواړې دَ ژوند
په توکل سفر ته ملا وَ تړه
شه مخامخ دَ موسمونو سره
کائینات وَ څېړه په خپلو سترګو
او په رنګونو کې ځان وَ رنګوه
بیا مې یقین دی ، چې دَ غرو لمنې
ساحل ، ګودر او دَ اوبو شنې چینې
غتې ، وړې او زرغونې جزیرې
سوئمنګ پوُلونه ، او پارکونه به ستا

دا مضطربه رُوح کړي تږی دومره
چې دي دَ وَچ حلق تر دُرشله زړګی
داسې په منډه ، په ټوپونو راشي
لکه ژوندون چې وي فقط یو تنده
او ته دَ تږو آرزوګانو کاروان
چې مزلونه لنډوَي همېشه
خو ، تر مرامه نه رسېږي کله

( دَ کراچۍ څخه دَ کوئټې په لور په سفر کې ... ۱۹۹۴ع)

## نظم ۱۱۶ ؛ ژوند او زه

یو تجسس دی
پارَوي ما
په پلټنو باندې..
بل اضطراب دی ځاره چاؤدی
دَ پُرهار په رنګه
چې ما په څړیکو کې دَ درد
که بې قراره ساتي
خو ، لا هم زه یم
چې ټالۍ وَهمه ژوند ته مُدام
او ځمه ځمه
خپلو هیلو سره وړاندې ځمه

( ډؤر بندرګاه ... لندن څخه دَ انګلش چېنل په سمندري لاره ، دَ ډنکارټ بندرګاه فرانس په لور دَ لانچ په سفر کې ... ۱۹۹۶ع)

## نظم ۱۱۷؛ ژوند... څه کم دی له دوزخه ؟

منم دا
چې حقه نه کول ګناه ده
او نا حقه ، دوزخيان دي
لکه يُو ، چې
هم په صبر صبر باندې يې
زغمو ، چې
خو عجبه دا ،
چې څوک هم خبر نه دی ...
چې هغه په کوم قصور
ژوند ته جوګه دی ؟

(کوئټه ... ۲۰۰۲ع)

## نظم ۱۱۸؛ ژوند ، که فرېبي جنت ؟

دا چې هر څه هر څه ښکاري
ګېر چاپېره
هم دغه خو دي ...
خورې ورې ښکلاؤې ،
چې که سترګې کړو پرې پټې
نو به خوب شي
او دَ هر خوب
ځانته سل سل تعبيرونه ،
بيا چې ګورو يې په وينبه
نو جنت دی ...
او موږ واړه جنتيان شو ... په کې ګرځو ،

خو جنت ورته وئیلی ځکه نه شو
چې دَ ژوند دغه جنت
په هر دویم ګام
یَو دوزخ هم دی
په ځان کې خوندي کړی

(دَ سوئټزرلېنډ په جنت وزمه درَو کې دَ سفر په وخت ... ۱۹۹۶ع)

## نظم ۱۱۹؛ سپین بېرغ

دا چې ځان
زه په هر رنګ کې رنګومه
که څه هم حُسن پرسته یم
خو، غواړم
چې اووه واړه رنګونه
سره یَو کړم
او په زَړه
دَ خوُني کښو تورتمونو
سپین بېرغ
دَ سوکالۍ ورڅخه جوړ کړم

(دَ بلجئیم څځه دَ هالېنډ په لور په سفر کې ... ۱۹۹۶ع)

## نظم ۱۲۰؛ ستا په لوري در روان یم

زه هم ستا غوندې انسان یم
ژمی، دوبی
سپرلی، منی

په وجود محسوسومه ،
اوبه ځيېنمه
ډوډۍ خوُرمه
او ساه ګاني لوبَومه
خو ، که فرق شته ما او تا کې
نو هم دومره
فقط دومره
چې ته اوسې په خپل ځان کې
دَ شيشې غوندې مکان کې ،
او ما ستا دَ غم دروند پېټی
په اوږو باندې اخيستی
ستا په لورې در روان يم

(کولمبو ، سري لنکا څخه دَ بنکاک ، تهائی لېنډ په لور په سفر کې ... ۱۹۹۴ع)

## نظم ۱۲۱ ؛ ستا دلاس مړی به په تا پسې وي

دَ ورو په وينو اې ککړ انسانه !
اې دَ ضمير په اړه مړ انسانه !

تا چې چاړه را اخيسته کله
زړه له دې دا خبره رانغلله
چې ته دَ چا ځيګر څيرې په چړَو
هغه به هم تعبير وي چا دَ خوبو
بچيان به لاره دَ هغه هم ګوري
کور به يې ناسته وي يوه سرتورې
دَ زړه ټوټه به وي هغه هم دَچا
لرې به ځان لره وړه شان دُنيا

خو ، دربغه دربغه چې تا پورته کړو لاس
نه درَغلو مزغو ته دغه احساس

اوس که هر څو په خپلو کړو وَ ژاړې
یا دَ بدل په اخیستلو ویاړې
خو ، دا مې یاد لره ترمرګه پوري
ستا په ضمیر باندې به کاڼي اوري
ته به قرار غواړې ، قرار به نه وي
دَ تېښتې لار به غواړې ، لار به نه وي
دَ غلو په شان به له هر چا پُټېږې
له خپله سیورې به لا هم وېرېږې

تر څو چې ستا او دَ ژوندون رشتې وي
ستا دَ لاس مړی به په تا پسې وي

( کوئټه ... ۱۹۹۳ع )

## نظم ۱۲۲ ؛ سجده

خپل مې ګڼې ،
که نه ګڼې
خو ، یاره !
ما دي دَ خیال
په هر مندر کې بُت ته
لکه هندو
تل سجده کړې ده

( کوئټه ... ۲۰۰۲ع)

## نظم ۱۲۳ ؛ ستا خدائي نه شوه بربنډه

چې مې زړه غواړي الوت ته
نو ، لاسونه مې وزَر شي
او په بڼه دَ مارغه شم
دَ هوا په اوږو کښېنم
او آسمان ته په ختو شم
بیا چې څو په ما کې وَس وي
الوځمه
الوځمه
هن تر دې ... چې ستړی شمه
او وزَر مې دواړه شل شي
بې وسي راسره مل شي
هم په سترګو تیاره راشي
هر څه زما وړاندې فنا شي
په فضا کې معلق شم...
په دې خیال ، چې
لویه ربَه !
څونې پورته دی ،
دا عرش ستا
دَ انسان له خاورین فرشه ،
چې مزل کې دَ پېړیانو
فاصله نه شوه رالنډه
ستا خدائي نه شوه بربنډه

(دَ کراچۍ په لور کې په سفر کې ... ۱۹۹۲ع)

# نظم ۱۲۴ ؛ سرابونو غولوَلی مسافر

څوک چې ستا تپوس له ما وَکړي لاليه !
زه دَ سوچ په توُنده اسپه باندې کښېنم
او ګودر ګودر دَ ژوند وَلټَوِمه
خو هيچرته چې تا نه وَوينم ، راشم
او خولې دَ تندي وچې په دُسمال کړم
بيا څوکه غوندې په ماتو ګوُډو تورو
وَ هغه سړي ته زه داسې ګويان شم
ٓ ما په سترګو دَ څېرې نه ده ليدلې
ها جنۍ چې زه يې تل خبرې اورم
دَ دفتر دَ ټېلي فون په رسيور کې
نو زما په دې ځواب هغه مُوسکی شي
خُله کږه کړي او پسخوند کې راته وائي ....
شوقه ياره ! واقعي چې ته شاعر يې
سرابونو غولوَلی مسافر يې

(بنکاک څخه دَ کراچۍ په لور په هوائي سفر کې... ۱۹۹۵ع)

# نظم ۱۲۵ ؛ سر پرېکړَي انسانان

تر پرونه خو لا زما هم ښه په ياد دي
چې سرونه په اوږو باندې ؤ نښتي
ښورېدل به
ژغېدل به
خندېدل به
لاکن ګوره چې دا نن ،

څه شوه وَر پېښه ... ؟
چې سړي سړي خپل سر دی را اخیستی
په لاسو کې
او سرې وینې ترې څڅېږي ،
څه خو وائي ... ،
مګر څوک پرې نه پوهېږي
هغه ځکه چې سرونه یې بې حسه ،
ځُلې تړلي
ژبې ګونګې
سترګې پټې ،
بس که نه دی لا شل شوی
نو ، په دوؤ پښو
چې دَ نن مړی یې ګرځوَي په لاره
او لا هغه ځنېدلي دوه لاسونه ،
چې نه سر په اوږو ږدی
نه ژغېدی شي

( کوئټه ... ۱۹۹۱ع)

## نظم ۱۲۶ ؛ سوب که ما دَ رسوائي ګڼې ته .... ؟

وایه.... !
بې ما که دي ، زما په نامه
کله په ژوند کې
بیا څوک نه تنګوي ،
نو خو مې وَ شړه دَ زړه له کوره
که یَه ...
دا نوم به مې له تا سره تل

دغسې ليک په دېوالو وي بيا هم
نو خو دَ مينې تقاضې پوره کړه
پرېږده دُنيا
چې هرڅه هرڅه وائي

( کوئټه ... ۲۰۰۲ع)

## نظم ۱۲۷؛ شعرونه

دَ خپل رُوح له اضطرابه
راته داسې ځرګند ېږي
چې هم ته هغه رانۍ يې
چې دَ زړه له سلطنته
دَ خلوص په قافله کې
زما دَ سترګو تر چوکاټه
هره شپه راوړې وَ ماته
په ځولۍ کې ډېره مينه
او دَ سرو ګلو هارونه ،
خو چې څنګه بيا سهار شي
نو دَ درَستې شپې خوبونه
تېر له تا سره وختونه
په ما وَليکي شعرونه

( له ژوب څخه دَ کوئټې په لور په سفر کې ... ۲۰۰۲ع)

## نظم ۱۲۸؛ شک دَ ايمان زيان دی

نه زه هندو

او نه ته بُت دَ کانړي ،
نه مې وصال دَ تقاضو په چپه
کله دی کړی
پوجا پاتې او اشنان ....
خو ، ستا دَ مينې تهمتونو داسې
زه په جهان
لکه کافر مشهور کړم ،
چې اوس که هرڅو سُولوَمه تندی
خلګ کوي
زما په ايمان باندې شک

( له ژوب ښخه دَ کوئټې په لور په سفر کې ... ۲۰۰۲ع)

## نظم ۱۲۹ ؛ عجبه نه ده ، چې دَ داسې پرمختګ پرته هم

لا چې دَ امن
دَ ښېرې ګرځجن او تت نقشونه
دَ تصور په سمه
څو څو پاکوَم په دُسمال
ما ته يې ګوُنځو کې ښکاريږي
سرې په وينو باندې
دَ انسان وزمه ځناورو
غابښَورې ښېرې

( کوئټه ... ۲۰۰۲ع)

# نظم ۱۳۰؛ عجیبه انځورګري ده

ما چې دَ چا په نوم
کوله شاعري
هغه نن ... ،
زما دَ نظمونو
په مصرعو دَ ګنېدو پرته هم
کوي پُوښتني
دَ خیالي پېکر په باب لا داسې
لکه دَ خپل کور او کوڅې
درک چې غواړي له ما

( پېښنور ... ۲۰۰۲ع )

# نظم ۱۳۱؛ عجیبه ګلوبلائزېشن ... ؟

څوک چې نړۍ ته
نوم دَ کلي ورکوي ... او وائي
ټول هېوادونه
په محلت کې دَ کورونو په څیر ،
باید چې خپلو کې
دَ تلو راتلو غوره کړي لارې
خو حقه دا ، چې هغوئ خپله
په ښارونو لا هم
دي جارباسلي دېوالونه
په دې نیت ، چې چرته
يَو مسافر دَ دوئ په لورې
لاره نه کړي خطا ....

( ډائرۍ پاڼه:- چېسټر انګلېنډ چې په زياتره ښار يې د بوال راجارباسلی دی ، په ليدو ...
١٩٩٦ع / نظم: - کوئټه ... ١٩٩٦ع )

## نظم ١٣٢ ؛ غلې جذبې

څو ځله دي ما هم
دغه مړې سترګې په غلا باندې
ستا دَ نرۍ زنې
دَ شنه خال په ګواهي کې لا
دي نيولې ياره !
خو وئيلی ځکه نه شمه ،
داسې نه ،
چې ، ستا دَ مينې
غلې جذبې رسوا نه شي

( کوئټه ... ٢٠٠٢ع)

## نظم ١٣٣ ؛ فاصلې چې څنګه څنکه رالنډېږي؛ انسان دومره له انسانه ليري کېږي

دا نړۍ دومره وړه ده
لکه کلی ،
او په کلي کې آباد کليوال هم ،
خپل تر خپلو
که وَغواړي ، ګرځېدلی شي
او په حال هم دَ يوه بل خبرېدی شي ،

لاکن پرته له دې هر څه
دغه کلي ...
دَ ژغلنو مځکو او دَ غرو په څپه ،
دَ عُمرونو دَ مزل په سمه ، ډَنډي
دَ وینس دَ ښار په رنګه
دَ اوبو هم
لور په لور لرې ولاړې
په کوڅو کې

( ډائری پانه :- له وینس څخه دَ مارګېرا په لور په لانچونو کې په ښېلا ښېلو وړو ټاپوګانو باندې دَ نابلدیا دَ لاسه دَ سترپیا دَ یَو نه هېرېدونکي سمندري سفر په وخت غوره شوی نظم ... ۱۹۹۶ع)

## نظم ۱۳۴ ؛ فېري آف لورلائي راک ( دَ لورالائي راک ښاپېرۍ )

چا وئیل ...
چې داسې نه ، بې وخته مړ شم
چا وئیل ...
چې داسې نه ، ته مې اجل شې
او چا ایښې په غوږو ؤ خپل لاسونه
داسې نه ،
چې ستا خوږې سندرې واؤرې
او په سمه دَ زاړه روایت مړ شي ،
یا سرُور کې
دَ شنه رائن اوبو ته ټوپ کړي
خو یَو زه ومه
سرتېره په درست لانچ کې
چې نیولي مې ؤ شک درته غوږونه

او خوږې سندرې ستا مې اورېدلې ،
خو دا بخت ګڼمه خپل
چې ، زه مړ نه شوم ...
او نه شومه دَ ماهیانو دَ خوراک زه
لاکن کله چې دَ سپند په بله غاړه
زه له لانچه کوُزېدمه ...
نو مې خپل ځان
داسې ووړ
او داسې سپک غوندې محسوس کړو
لکه زه چې وَچه پاڼه دَ خزان یم
او دَ باد څپې به ژر کړي ما دَ مخه

( دَ رائن په دریاب جرمني کې دَ لورالائي راک نامې ځای ته نیزدې چرته چې دَ یَو زاړه روایت په سمه وئیل کېږي چې دلته لورالائي ښاپېرۍ داسې خوږې سندرې وائي ... چې که چا دَ هغې سندرې واورېدې ، نو به یې دَ سرُور له خونده دریاب ته حتماً ټوپ کوي ... او داسې ډېر سېلانیان دَ دې دَخواړه ژغ په سرور کې دَ ماهیانو خوراک شوي دي دَ لانچ په چکري سفر کې ... ۱۹۹۶ع)

## نظم ۱۳۵ ؛ کرسټوفر کولمبس ته ... خو ، دَ هغه دَ کشتۍ په وړاندې

تا هم نړۍ کړله تر پښو دلاندې
او زه یې هم هڅه کوم دَ کتو
خو ما او تا کې بس توپیر دغه دی ،
چې تا سېلونه دَ شاهین په شانې
په آزادۍ باندې کولو مُدام
او بل دا زه هم سېلاني یم مشره !
چې ، سرحدونو او دَ کرښو تر میان
داسې راګېر یم ،

چې په خپله خوښه
دوه درې قدمه مخته نه شمه تلی ...
خو بيا هم غوارمه ،
چې ستا په پلونو
له خپلو دغه هتهکړيانو سره
دَ نړۍ هر ګوټ ته ځان وَ رسَوم
چې بيا سبا ...
له لوُمړي ځرک سره سم
ټول سپلانيان له سپين بېرغه سره
په کرَکو وېښ ټول هېوادونه يَو کړي
او کرښې وَباسي له منځه يېرته

(بارسلونا ، سپېن ... ۱۹۹۶ع)

## نظم ۱۳۶ ؛ قتل

ما وئيل ....
چې کښېنه هله
وار لوُمړی کړه له قاتله
داسې نه، چې تر تا راشي
او تا مړ کړي بې اجله
ځکه زما دَ سترګو وړاندې
ورځ په شپې کې شوه بدله
او راپوره شوم له وامه
نه يوه شوه
او نه بله ،
وار خطا دَ مرګ له سامه
ما چاړه را واخيستله...

اوس به ما لا نوره نوره
دَ هغه سينه خيرله ...
چې ګرنجی مې تر غوږو شو
شيشه غوټه ماته شوله

( کوئټه ... ۱۹۹۰ع)

## نظم ۱۳۷ ؛ کچکولی زړه

دَ خپل کلي له ګودره
بيا تر غاړو دَ سيندونو
هن ، نړۍ تر ساحلونو
ما دا خپل کچکولی زړه تل
دی نيولی وَهر چاته ...
او دَ مينې خېر مې غوښتی ،
لاکن ګوره چې دا زړه دی
که سراب دی اروا تږی
چې يې څومره اوبَومه
دائی لا تږی وي هغسې

(له ايران بارډر څخه مخته په ټُرکي کې دَ آګره تر ښاره پورې په زمينې سفر کې ... ۱۹۹۳ع)

## نظم ۱۳۸ ؛ ګلوبل سائن

فلوريتا ، عقود ، رانا او مديحه څه
منوېلا ، بېسنک ، بوبُا او لومائي هم
له سوفيس او پوُ سامنانګ سره په ګډه
دَ ګڼ شمېرو بهرنئيو هېوادونو

دا راجمه مېلمنو تر منځ په خوند خوند
په رډم کې زما دَ زړه دَ درزاګانو ،
په سندرو دَ خالد ، نوال ، پاسکل ... که
ګډېدلو او په ما راغورېدلو ،
نو هم هلته
په محفل کې وَ بل کونج ته
خديجه ، منال ، مُونا او خاتونا هم
په ژړاؤ باندې سر ،
خو په تمبل يې ...
دَ عربو دَ دستور په سمه ساندې
دَ فرعون په هغې لوُر باندې کولې ،
چې دَ مينې په خاطر يې
په رانۍ ځان
دَ خپل زړه دَ فېصلې په سمه
تاج هم .... ،
دَ پښتون سيزر په پښو کې
نن ور ړدلو

( دَ ستوډنټس انټرنېشنل ډې په موقعه قاهرو ډېموګرافک سېنټر ، دَ اقوام متحده دَ آبادۍ فنډ په مرسته او په نظم کې دَ ذکر شوؤ ملګرو په خواخوُږۍ زما کوژده او واده دَ ګلوبل سائن په ټائيټل باندې په قاهره ښار کې په يادګاره خوشالۍ سرته شو ... دا نظم دَ هغه موقعې په مناسبت کې ليکل شوی دی ... قاهره ...۱۹۹۸ع )

## نظم ۱۳۹؛ ګنمه ځان زه ځناور په دې ، چې ...

دَ ژوند دَ نورو اند ښښنو په چپه
که په دې زړه کې
زه لرمه بل څه

هغه ... ارمان دَ سوکالۍ دی
چې ما
دَ وخت په ځامو تل چیچې
خو ، کله
تر خپل مرامه ځکه نه رسېږي ،
چې زه هم اوسم
انسانانو سره

( قاهره - مصر ... ۱۹۹۷ع )

## نظم ۱۴۰ ؛ ګونګۍ مینه

زما هم زړه غواړي
چې هرڅه
درته وَوایم په نېغه
او دا زړه درته ښه سپک کړم
خو ، ملا ماتی مې همت شي
په دې خیال باندې ،
چې چرته
غرضي نه وَګڼې ما

( پورټ سعید - مصر ... ۱۹۹۸ع )

## نظم ۱۴۱ ؛ ګیله ...لاکن له چا ؟

زه به ګیله
دلته له چا کومه ؟
زَما چاپېره ، هغه خلګ اوسي

چې زما يې څومره زړه
خپلوی ته غواړي
هغوئ هم
دومره له ما ليري ځغلي ،
ځکه چې زه ورته دَ زړه په رباب
نغمې دَ مينې ژغوَم ، لګيا يم
او دوئ پيسو ته
په هر ډهول ګډ ېږي

(تهيم:- سان مرينو ... ۱۹۹۶ع / نظم:- تاندواني ... ۱۹۹۷ع)

## نظم ۱۴۲ ؛ لرې په زړه غابښونه

زه دي نازونه او نخرې اخلم
دَ سر په سترګو
ته لا ،
برسېره دَ دې هرڅه
دَ زړه سره ! ما ته
دَ لباسي خندا تر شا
لرې په زړه غابښونه

(ډائرۍ پاڼه:- ايډنبرا – سکاټلېنډ ... ۱۹۹۶ع)

## نظم ۱۴۳ ؛ لکه لېوان چې په رَمه ور ګډ شي

عجبه دا نه،
چې انسان ستورو ، سپوږمۍ ته خېږي
عجبه دا ده ...

چې دَ پت ، ښېګړې ، توُرې ، وفا
څېښتنو هم
ګورئ ... په زَد دَ رڼا
وَيويشتمې انساني پېړۍ ته
په سرو لاسونو
او په سرو سرو داړُو
داسې په نره
او ويارمنو ستړګو
په جهادي نارو وَر وَدانګلو
لکه لېوان
چې په رمَه وَر ګډ شي

( کوئټه ... ۲۰۰۱ع)

## نظم ۱۴۴؛ مُجرم

زه چې ګورمه
هر لورې
را چاپېر دي دېوالونه
دريابونه
هسک هسک غرونه
او يا غم او وسوسې دي
چې زما په شاوخوا کې
اتڼونه کوي ، غُورځي
دائرو غوندې راترځي ،
خو ، برسېره لا دَ دې هم
په قصور دَ خپلواکۍ زه
نيول شوی يم

مُجرم یم

( کوئټه ... ۱۹۹۰ع)

## نظم ۱۴۵؛ مارشل پښتون

دائی چې څنګه په خواب کې
تاریخي آثار په ګوتو
یَو په یَو راته شمېري ، نو
ژبه زما شي ورته ګونګه
په دې فکر باندې ځکه
چې ، تاریخ دَ کرښو پرته
ما ته پلار نه ده پرېښې
یوه هم داسې ورثه ، چې
زه پرې ځان ورته ثابت کړم
دَ مارشل پښتون په بڼه

( دَروم اټلي په لور په زمینی سفر کې ... ۱۹۹۶ع)

## نظم ۱۴۶؛ مخته ستا خوښه...

که غل نه یې
نو دَ غله غوندې بیا څله ؟
ته تر ورځې یې خوشحاله په هغو شپو
چې هم تا
په تورتمونو کې له ځانه
دَ پېرې رنګه
جهان کې ورکوي هم

تا ته بڼه
دَ دېبانو درکوي هم

( راولپنډۍ ... ۲۰۰۰ع)

## نظم ۱۴۷ ؛ مزل په واورو باندې

لاري غوارو وَيَو بل ته
خو ، مزل دی
چې اوږد ېږي
واټنونه نه کمېږي ،
که څه هم
دوارو دَ زړونو
مېنې دي خالي ساتلي
له ډېر عُمره وَيَو بل ته

( چمن څخه دَ کوئټې په لور په سفر کې ... ۱۹۹۰ع)

## نظم ۱۴۸ ؛ مُعجزه

انسان څه دی ؟
څومره ارزي ؟
څه کوی شي ؟
ځوابونه دَ دې درې وارو پُوښتنو
دَ لټونه پس مې راغلو
په لاس هله ...
چې دَ خدائی
خدائي مې ولَيده بربنډه

په لاسو کې
هم دَ دغو انسانانو
چې عاجزه او ناتوانه بلل کېږي

( ډائرئ پاڼه:- مېډرډ - سپېن ... ۱۹۹۶ع)

## نظم ۱۴۹ ؛ ملامته نه يې ګُلې !

ته چې ځان غواړې په بل کې
لکه ګل په تور اوربل کې
ملامته نه يې ګُلې !
تا وَ ځان ته دي کتلي
هر سهار په آئينه کې
په خمُار
او په نشه کې

(تهيم :- ايران ... ۱۹۹۳ع)

## نظم ۱۵۰ ؛ مونا ليزا

ستا موسکا ګوره چې څله؟
پارَوي په دې ګمان ما
چې هم ته هغه جينئ يې
چې مې تل دَ خوب او خيال په
ټاپُوګانو لټوله
او يا لئيو نارډو يم خپله
چې دَ څو پېړيانو ورسته
قسمت بيا راويستم تاته ،

خوبس.. دغه المیه ده
چې دعوه کولی نه شم
زه په تا باندې اوس څکه
چې دا زما ځویم جنم دی
او ته یې په خپله بڼه
موسکنۍ غونډې هغسې

( تهیم :- دَ مونا لیزا دَ اصل تصویر په وړاندې ... پېرس ...۱۹۹۶ع / نظم :- کوئټه ... ۱۹۹۹ع)

## نظم ۱۵۱ ؛ مینه تو پیر ختمَوي ه

دا زه او ته ، چې نن په مینه مینه
تنده دَ رُوح ...
لوږه دَ زړه ماتوَو ،
نو دَ یو بل
په رنګ رنګېږو خو هم...
دغه خو وجه ده
چې ګله یاره !
په ښځې ځان کوې نن
ژوند په نره ....
او ما ته هم ګوره ،
چې زه هم دَ ښځو
په حق کې
څومره هلې ځلې کوم

( پېښور ... ۲۰۰۲ع)

## نظم ۱۵۲ ؛ مينه څه؛ وينه هم لاړه اوبه شوه

څوک چې خاندي په تا باندې
نو خو خبر دی ،
څوک چې ژاړي ستا په حال
پرېدی يې بولې ،
اوس نو ... ته وکړه انصاف
تربوره وروره !
چې په سمه ستا دَ دې دستور به څنګه ؟
ځان په تول کې
دَ خپلوۍ درته تلمه ،
په پښتو به دي سر
څنګه خلاسَو مه ... ؟

( پېښور ... ۲۰۰۲ع)

## نظم ۱۵۳ ؛ ناوئيلي رښتيا

نسبت هم
ساتو له پلاره سره ځکه
چې مشهوره
حرمونې نه شو چرته ،
ګنې مورِ خو
په نامه دَ ښکلو حُورو
ژبه ژواک څه ...
هغه ننګ هم لا لُوګی کړو
چې ټائيټل يې
دَ مارشل قام ؤ راکړی

( دَ ډېره اسماعیل خان څخه دَ ژوب په لور په سفر کې دَ دوؤ پښتنو دَ پوُچي او له اخلاقه لوېدلي پښتو ، چې دَ پښتني ژواکونو او پښتو ، پښتونوالي په زد يې دَ دُښمنانو غوندې دَ سپېڅلي قامي نظريو په حقله په واز کوُمي کولې ...... تر اثر دلاندې ليکل شوی نظم ...
۲۰۰۳ع)

## نظم ۱۵۴؛ نور خو لا نور... عجيبه دا چې دلته

مور دَ رنا په ملګرتيا کې هم
ماښام وَ خواته
له يوه بله څه؟
له ځانه لا تيارو کې ورک شو ،
خو هغه خلګ
چې په تورو شپو کې اوسي
لاکن
ستر ګې دَ لمر په وړانګو باندې
رُونوَي هر سهار

( قاهره – مصر... ۱۹۹۷ع)

## نطم ۱۵۵؛ واؤوره تا ته وايم...

دا چې زه درته ژغېږم
ته دَ لاس ورغوې څله ؟
ګيروَې په نرۍ ګُوتو
او په نيغه ورته ګورې
لکه جوړه ، چې ليکې څه
او لا کرښې ورانوَې ته

هرڅه هرڅه
خو بیا هم زه
نه رسېږم تر مطلبه
ستا دَ زړه تر پټ طلبه
که څه هم کلونه تېر شول
که څه هم عُمرونه تېر شول
خو ، یَو ته یې ... چې لا چپ یې
او بل زه یم ، چې ژغېږم
لا ژغېږم
لا ژغېږم

( سیوری ... ۱۹۹۳ع)

## نظم ۱۵۶ ؛ وسوسه

ما یې زړه ته لاره وکړه
هم یې سترګو کې مېښته شوم
خو ، چې څنک ته یې ورتلمه
لا به نور نور ورڅکېدمه
چې ناڅاپه مې ورپام شو ،
نو خولې شولې راماتې ...
پښې مې ځای په ځای شوې شلې
په وجود کې مات رامات شوم
او له ډاره دَ مرګي زه
په هیڅ هم نه پُوهېدمه
چې ، په کومه وَ تېښتمه
شاته بند دَ خوُنې ورځ
دواړه اړخ مې دېوالونه

او همت مې کوی نه شو
دَ یُوپا پـه لورې ځکه
چې یې څُلې کې کوکېدلې
دَ غاښو پـه ځای سکروټې
او لـه پوزې یې اورونه
غورځول اژدها غوندې

(تهیم:- پتایا بیچ - تهائي لېنډ ... ۱۹۹۴ع / نظم:- پېښین ۱۹۹۵ع )

## نظم ۱۵۷ ؛ ولندېزي سوشل ورک

څوک چې راشي زما وَ در تـه
خالي لاس یې نـه پرېږدمه
سرَوم دَ ترِو تنده
ماتوَم دَ ورِو لوږه ...
دا پـه دې چې زه یم ښځه
او دَ ښځې دغه کار دی
دا خبرې چې یې وکړې ،
نو یَو ترِی شو ور پورته
او چې څُله یې لا پـه سمه
کچکول کړي ورته نه وه ،
چې هغې غوزې لـه جوړ کړو
بیا پړده هم وَلوېدلـه

(ډائرې پانه:- ایمسټرډم - هالېنډ ... ۱۹۹۶ع)

## نظم ۱۵۸؛ ونې نه شته

زما هم زړه غواړي
چې لږ دمه شم
دَ يوې ګڼې ونې يخ سيوري ته ،
خو، ظلم دا ، چې
دَ دې ژوند په دښت کې
تر لرې لرې پورې
ونې نه شته

( دَلورلائي څخه دَ ژوب په لور په سفر کې ... ۲۰۰۲ع )

## نظم ۱۵۹؛ ويده قام

هغه
يو څو سړي خو ؤ
چې خوا خوږې کې دَ قام
دَ مرګ په غېږه کې
ويده شولو په خلاسو سترګو ،
خو، بلې خواته
دَ دې قام دغه له شمېره وَتې
ککرې
خوږي دَ وخت ځاپېړي ،
لا هم نه وينښېږي

( کوئټه ... ۲۰۰۲ع )

# نظم ۱۶۰؛ ویرجنه آرزو

دَ بابا قبر ته شاوخوا ولاړي
پښتنې پېغلې په سرو سرو اوښکو ژاړي
په سر خاوري بادَوي او ورته وائي
دَ ژوندون کوځې بې تا ښکاري ویجاړي

دلته کور کور دی بې تا لکه جوړ قبر
ژوند لیکلی دی په برخه راته جبر
هله پاسه ...، زیاته نه کېږي نور صبر
سترګه سترګه پښتنه تا رانه غواړي
دَ ژوندون کوځې بې تا ښکاري ویجاړي

بې له ویره په دې خاوره څه شول پاتې
ستا په مرګ شوې دَ پښتون مېنې میراتې
ځکه یُو راغلي تا ته ننواتې
کښېښه .. وخت ستا په بچو ټکوي تاړي
دَ ژوندون کوځې بې تا ښکاري ویجاړي

ستا بچیانو لا شلوَلي نه دي پَړي
مورِ بنګړي دي ستا په څلي ټول مات کړي
بیا بې نه کړو تر هغو په لاس خارمړي
چې را ویښ نه شي تر څو پورې نرګاړي
دَ ژوندون کوځې بې تا ښکاري ویجاړي

( کوئټه ... ۱۹۹۳ع )

## نظم ۱۶۱؛ وینسي مینه

زما او ستا دَکورو ورونه
که څه هم په یَو کوڅه کې
وَ یوبل ته مخامخ دي
زه له خپلې کهړکۍ تا ته
ته له خپلې کهړکۍ ماته
دیدنونه راکوې .... خو
وَ یَو بل ته ورتلې نه شو ،
دا په دې ، چې مورږه دواړه
په دوؤ بېلو ټاپوګانو
ژوند کولو ته جوګه یُو
او تر منځه مې شنې ډَنډې
دَ اوبو دي ډَم ولاړې

(تهیم:- وینس - اټلي... ۱۹۹۶ع / نظم:- کوئټه ... ۱۹۹۹ع)

## نظم ۱۶۲؛ درې هائیکو

۱

سر به مُراد شي
که پښتانه سرې شول
وطن به ښاد شي

۲

زه در پوهېږم
په خُله وئیلی نه شې
خو ، دریاد بېږم

۳

غوټه او چاره
ښکاري په لمسه دَ بل
واره پښتانه

( کوئټه ... ۲۰۰۰ع)

## نظم ۱۶۳ ؛ هر افغانی لکه چاؤدلی پُرهار

دَ شفا په نیت
که هر څو ملهم ږدي پرې
دا پُرهار
دَ رغېدو نه دی طبیبه !
هو .. په دې ، چې
دَ درد څړیکې یې فطرت شوې
او فطرت هم
وایه ... ! چا دی بدل کړی ؟

( سرخاب مهاجر کېمپ پښین دَ بیا آبادَولو په تناظر کې ... ۲۰۰۲ع)

## نظم ۱۶۴ ؛ هر چا دی په زړه کې بل ته غل ساتلی

دا چې سړی
له سړي ځان ساتي
په ځان کې اوسي ،
دَ غرضي فطرت له جوره
ملامت هم نه دی

ځکه چې ...
هر چا دی په زړه کې
بل ته غل ساتلی

( ډائرۍ پاڼه :- دَ برسټل چېنل بریج څخه تېرېدلو ورسته دَ ګلاسټرشائر نامې ښار په لور په سفر کې غوره شوی تهیم او نظم - انګلېنډ ... ۱۹۹۶ع)

## نظم ۱۶۵ ؛ هرڅه هرڅه شته ، خو لا نه شته بیا هم

هغه کوم رنګ دی
چې په دلته نه وي ؟
هغه کوم خوند دی
چې به دلته نه وي ؟
که نه شته ...
بیا هم دَ دې هرڅه پرته
هغه دَ مینه ،
چې دَ مینې په نوم
زړونه هیڅکله نه ...
تش ځُلې ژغوَي

( ډائرۍ پاڼه :- دَ اروپا دَ سېل په ورستۍ ورځ .... ډنکارټ او ډؤر ساحلونو تر منځه په انګلش چېنل کې دَ سمندري سفر په وخت ... ۱۹۹۶ع)

## نظم ۱۶۶ ؛ هسپانۍ سترګې

سترګې څه وې ؟
وې دَ زهرو پیالې
باڼه لړم لړم ،

ککو کې ماران ...
هم ځکه ما به زړه له سوځته کله
چې دَ بنو غشي ور وَتاؤوَل
نو ، هرې پېغلې هسپانۍ به راته
په مُوسکنۍ اشارو وَوئيلو ...
" مه ګوره مورِ ته ،
ګني ته به هم بيا
دَ بنکلاګانو دَ خُمار په اثر
دَ پکاسو په پلونو وَکړې مزل

( بارسلونا - سپېن ... ۱۹۹۶ع)

## نظم ۱۶۷ ؛ هسکه غاړه وَ ائيفل ټاور ته غم شوه

يو ځل لا ما ته هم په زړه کې راغلو
چې دَ ائيفل ټاور له سره ټوپ کړم
او په فضا کې وَ وهمه چيغې
چې اې خالقه !
زما دَ پاته ژوندون
هره ساه وَليکه ... دَ هغو په نوم
چې په نړۍ کې سوکالياني غواړي
دَ سر په بهيه خوشحالياني غواړي،
خو ، زه پښېمانه شو مه بيرته ځکه
چې دَ ائيفل رُوح راته وَنيوله
خپله لمن په دې فرياد ، چې ځوانه !
مه نيسه ما دَ خپل مرګي په الزام
له سره تېر دَ هغو خلکو په شان
چې لا تر اوسه يې دَ مرګ په ګُناه

زه نیول شوی دَ قاتل غوندې یم

( تهیم:- دَ ائیفل ټاور پېرس په دریم پوړ غوره شو ... ۱۹۹۶ع / نظم:- کراچۍ ... ۱۹۹۶ع)

## نظم ۱۶۸؛ هُما

اې په خپل حُسن غاورې !
تا هم کړې دې وزرې
په مثال ،
دَ هُما غوندې
ځکه نه کړې په ما سیوری
داسې نه
چې زه باچا شم
او زړګی دې کړم تر لاسه

( کوالالمپور - ملائیشیا ... ۱۹۹۲ع)

## نظم ۱۶۹؛ هم دې شاعر ... هم سېلاني کړم اشنا !

ګوره چې ستا رینبتونې بنه څه ده؟
چې کله جېن ، کله یُوپا شې راته
کله سارا او نتاشا شې راته
یا ونېسا ، کائیکوّ ، چُويّ او عذرا
ّمُهېش وری ، چانګ او جوئینا په نامه
ما ته اشنایه ! په هر نوي ټاپُو
په نوي نوي بنه ځان رابنئیې ،
هم مې دَ خپل تکمیل په هیلو همېش
په ځان پسې په مزلو ځورَوې

ما کړَوې ... هم پاړَوې په دې کست
چې ته مې نقش نقش صحي کړې نه يې
يا مې دَ خپل اضطراب تنده په تا
دَ خيال په سمه ماته کړې نه وي
نو ، سپلاني غوندې به دغسې تل
ستا په لټون کې ولاتونه غواړم

( کراچۍ ... ۱۹۹۷ع)

## نظم ۱۷۰ ؛ هېر به مې نه شي آستريا... ! ستا ژمی

له خوَرې سپينې پشمي واؤرې پرته
که څه هم
سوړ لمر پټ پُتهانی کوي
او له ساړه باده
ګزُران نه کېږي
خو ، دَ ماحول دَ تقاضو په سمه
دا دَ يورُپ
اور اور فطرته پېغلې ،
ژمی په دوبي بدلوي ... لګيا دي
ما هم بې اوره سوځوَي ... لګيا دي

( دَ انزبروک او ويانا - آستريا تر منځه په زميني سفر کې ... ۱۹۹۶ع)

## نظم ۱۷۱ ؛ هيله دَ سوکالۍ

ياره !
دا ته چې په ما ظلم کوې ،

منمه زه ،
چې زغم يې نه لرمه
خو ، بيا دي هم له مينې
نه اخلم لاس
ځکه ، چې هره طوفاني سيلۍ تل
که څه هم
وړي له ځان سره ډېر څه ، خو
په شاړو مځکو بارانونه راوړي
دَ بيا تعمير
او سوکالۍ په هيله

( کوئټه ... ۱۹۹۴ع )

## نظم ۱۷۲ ؛ يار مې تکميل په مرحلو کې دی اوس

ښکاري دغه
چې مئين شوی يمه ،
لاکن په چا باندي ؟
او څوک ده هغه ؟
چې نن مې نه پرېږدي وَ خوب ته دا سې
لکه ، دَ خيال له جزيرو
چې به اوس ،
راځي زَما په لوري هغه رانۍ
چې لا په سمه تکميل شوې نه ده

( کوئټه ... ۲۰۰۲ع )

## نظم ۱۷۳ ؛ يَو عجيبه اطمينان

نه خو څوک
په خوُی دَ سان فرانسس ؤ هلته ،
نه موسولي ، چرچل ، هټلر په چا کې
دويم جنم ته جوګه شوی ؤ لا ،
خو ، بيا هم
ما دَ هر سړي په تندي ،
يَو عجيبه اطمينان ...
دَ بريتوب دَ احساس ګوُنځو کې ليک
په ړندو سترګو دَ خپل فکر وَليد

( نيفرن ټاؤن - جرمني ... ۱۹۹۶ع )

## نظم ۱۷۴ ؛ يَو مجاهد راته څه وَ وئيل داسې !

ځکه مې لمر ته
خو دا سترګې برېښې
چې ما رڼا کله ليدلې نه ده
که څه هم ، ړوند نه يمه
سترګې لرم ...
خو ، ما دَ ژوند دَ تورتمونو پرته
که څه ليدلي دي ... نو هغه سيوري
چې جنګوي ما
دَ ښار سپيانو سره
لکه لېوه
خو ، انسان وزمه لېوه
او دَ لېوانو

خوښه شپه وي تر ورځ

( پېښور په لور دَ لاچۍ سره نيږدې په سفر کې ... ۲۰۰۲ع)

## نظم ۱۷۵؛ يو مې يار ... خو ، سل يې بڼې

ثوک چې
هرڅه هرڅه ليدل غواړي
په سترګو باندې ،
هغوئ به څه پېژني ؟
زما هغه جانان
چې زه يې ،
له نهه نوي بېلو نومونو پرته هم
لا زړه کې ،
ساتمه هيله دَ وصال
خو ، دَ سلمې بڼې

( کوئټه ... ۲۰۰۲ع)

## نظم ۱۷۶؛ ورستۍ دُعا

دا مې دُعا ده ،
چې خالق دې دَ شېطان په لاره
چې شوي ټول
دَ سرېتوب دُښمنان
يَو په يَوه ...
دَ سپېلنئيو غوندې کړي لوګی
په هغو باندې ...،

څوک چې دَ امن ، سوکالۍ
او دَ رڼا په خاطر
عُمرونه خوري په اند ېښنو
خو ، موسکاګانې وېښې

( کوئټه ... ۲۰۰۲ع )

*****

# غزلونو برخه

## غزل ۱

آشنا مې نه يې ، خو اشنا يادېږې
دغه‌لاډېر دي ، چې په ما يادېږې

دَ سترګو وراندې به نه يې ، منم
خو په وجود کې مې فنا يادېږې

ګُمان مې نه کېږي ، چې مور به مې کړې
ته په فطرت ژونده سارا يادېږې

زه دَ خپل شوق لېونی څه خبروم
چې ته به دُونې هم زما يادېږې

(کوئټه... ۱۹۹۱ع)

## غزل ۲

بې پښتو دي پښتانه په اور پسې شي
مرګ او ژوند دي بې نامه په اور پسې شي

چې منګولې په زړه نه لګوي سترګې
ارزي دا چې يې بانه په اور پسې شي

پېلامه چې دَ امن دَ سيوري نه وي
نو ، دي هغه سپين مارغه په اور پسې شي

ستا دَ شوق دي هم له کسته ، هم په هېره

بې له تا بل ته کاته په اور پسې شي

(لورلائي... ۱۹۹۳ع)

## غزل ۳

په ځان منګولې لګوم ، چې راوَرېږي په زړه
تا په وجود محسوسوم ، چې راوَرېږي په زړه

دلته اروا په ما کې ستا، چې ما په ژوند پارَوي
هلته له ځانه اووځم ، چې راوَرېږي په زړه

ګوره چې څه به کوې ته؟ چې زه په نره لا هم
غم په سګرېټ غلطوَم ، چې راوَرېږي په زړه

لکه دَ ویښو سترګو خوب ، زه دَ خپل شوق لېونی
په مات وزَرو الوځم ، چې راوَرېږي په زړه

(دَ کوئټې په لور په سفر کې ... ۱۹۹۰ع)

## غزل ۴

په سینه کې پراته زړه ته ، دا وړیا مینه لا ډېره
په تراخه ځان هم خوږه ده ، تر دُنیا مینه لا ډېره

ستا دَ بدو په خواب کې درته جارجار وایم ځکه
دَ دروغو تر لباسه ، دَ جفا مینه لا ډېره

بس دی یاره!  نه  لرمه وَس دَ نورو اندېښنو زه
نوره  مه  راکوه  مینه  ، دَ پخوا مینه لا ډېره

څُدائی خبر چې شوقه څنګه، په یَو زړه سل خطاباسې
په تا باندې  خو   والله چې، یو اشنا مینه‌لا ډېره

(کوئټه ... ۱۹۹۱ع)

## غزل ۵

ټول وجودونه  محسوسېږي کاڼي
که وخت‌آخر شو ، چې ژغېږي کاڼي

یو مې تر پښو دلاندې مځکه سوځي
بل له  آسمانه    را ورېږي کاڼي

څوک په غوښین وجود بې حسه دېوال
دَچا په آه  باندې  ویلېږي  کاڼي

شوق دي نازونه سر په سترګو اخلي
ستا په لاسو کې  ښکاره کېږي کاڼي

(سیوی ... ۱۹۹۲ع)

## غزل ۶

حسرتونه دي دَ شوق سَوي سکاره شي
خو، بس ستا  چې ارمانونه پاته نه شي

که په ما دي نیګړتیاوي پوره کېږي
زما وجود دي ستا وَ سترګو ته رانجه شي

چې بې ستړه مې دَ زړه په کور مېلمه شوې
اوس دي زما دَ بدن غوښې ستا خواړه شي

چې په وینښه یې ویده ویده ساتلم
ته هغه یې بله نه ، ښه مې په زړه شي

(کوئټه ... ۱۹۹۴ع)

## غزل ۷

ځان مې خوښ ؤ که مرئیی وای ، خو ستا وای
لا دَ سره لېونی وای ، خو چې ستا وای

بخت به ما سکنی ورور دَ ځان ګڼلی
که عالم ته مېړنی وای ، خو چې ستا وای

ما به لمر سپوږمۍ او ستورې څه کول ، که
زما په برخه یَو زړګی وای ، خو چې ستا وای

شوق به تنده په خپل ژوند در ماتَولی
جوړ دَ خاورو کنډولی وای ، خو چې ستا وای

(پېښین ... ۱۹۹۴ع)

## غزل ۸

دا چې په زړه کې تا له‌کور جوړَوم
دَ خپله لاسه ځان له ګور جوړَوم

لکه‌ماشوم ، زه هم دَ رېګ کور کَیان
مائیګر وران کړم ، سهار نور جوړَوم

تا له به تاج محل له کومه‌راوړم ؟
زه‌چې دَ تن جامې په پور جوړَوم

لا به‌دي کانې زړه‌در موم کړم‌شوقه !
لا به دَ ځانه سَوی سکور جوړَوم

(سنجاوی ... ۱۹۹۵ع)

## غزل ۹

دومره‌له مینې نا آشنا هم نه یُو
که سره یَو نه یُو ، جلا هم نه‌یُو

دلته ځانونه له تیارو هم پېچو
هلته ملګري دَ رڼا هم نه یُو

موږ دَ جنون په لاره‌سم‌لېونیان
که‌دَ ځان‌نه یُو ، دَ دُنیا هم نه‌یُو

که په تندیانو ګوُنځې‌نه هم لرو

شوقه ! په زړونو خو صفا هم نه يُو

( پښين ... ۱۹۹۴ع)

## غزل ۱۰

زړه مې راته وائي ، چې دَ عشق انتها وَغوارړم
تا ته دُنيا پرېږدم ، او په تا کې دُنيا وَغوارړم

ستا نوم به له ما سره ليکلی وي په هر دېوال
هر څو که له سترګو زه دَ خلګو پنا وَغوارړم

سوال که زما او ستا تر ميانه راغی دَ يوه خواهش
دا امکان لري چې زه دَ ځان په ځای تا وَغوارړم

ګوره، چې په ځُله کې يې دا ژبه څله ګونګه شي؟
ستا دَ کور درک چې زه په ښار کې له چا وَغوارړم

(تاند واني ، زيارت ... ۱۹۹۵ع)

## غزل ۱۱

زما او ستا تر منځ دَ مينې وسيله ده ګرانه
په ما تر ځانه ګران يې ته، په تا پيسه ده ګرانه

موسکا په مينه سنجَول ، خطا ايستل دي دَ زړه
حقيقت دا ، چې دَ سرونو فېصله ده ګرانه

غم خو دي غم دی ،خوشحالي دي لاپه غم تمامه
خارمړيه ژونده ! ستا خو هره معامله ده ګرانه

خلګو له زړونو هم حُجرې دَپښتنوجوړې کړې
شوق ته دَمينې مېلمستيا دَيَو ميلمه ده ګرانه

(پښين ... ۱۹۹۵ع)

## غزل ۱۲

ژوند په سر اخيستی لکه مړی یم
زه خومره په خپل ذات کې نيمګړی یم

ځان کې په سوب دَ مُسلسل سفر
تلی نه شم په بله دومره ستړی یم

داسې راته مه ګوره په سپک نظر
زه به هم دَ چا دَ کور يو غړی يم

زه هم دَ پښتون په حېث پښتو لره
خپل ضمير ته شوقه ! پوروړی يم

(کراچۍ ... ۱۹۹۱ع)

## غزل ۱۳

لا مې ژوند په ژوند شمار نه دی ، لا خو شپه دېره اوږده شوه
چې وجود راته خپل ګور شو ...، مقبره راته کوټه شوه

ټوله شپه وه راته ناسته ، نصیبه دَ کټ وَ سرته
خو چې څنګه بیا سهار شو ، زه راویښ شوم دا ویده شوه

هر سړی وَچ شو په ذات کې ، دَ ساړه خلوص له جوره
دَ ژوندئیو انسانانو دُنیا نه شوه ....، بُت خانه شوه

توَکل کړه افضل شوقه ! ارمانونه ګور ته یُو شه
نه خو ته په مینه موړ شوې ، نه دې زړه خپه مړه شوه

( کوئټه ... ۱۹۹۰ع)

## غزل ۱۴

ما خو هر څه ستا په نامه پرېښوَل
وایه ! چې تا راباندې څه پرېښول ؟

دَ هدیرو غوندې مې شا ته په لار
خپل حسرتونه هم ویده پرېښوَل

ستا دَ وړې خُلې په خندا مې قسم
ما دي په عشق کې موُسبِده پرېښوَل

کېدی شي شوق هم خوشحال خان شي درته
مُغل څُوئیونه که دي نه پرېښوَل

(تاند واني ... ۱۹۹۰ع)

## غزل ۱۵

مزل دَ ژوند لنډَوَ ، څو ... نړۍ ميراته پرېږدو
په لويه لار دَ پلونو نخښې هم دُنيا ته پرېږدو

خبره دا نه ده ، چې کډې به وړو چرته دَ ژوند
خبره دا ده ، چې دَ پلار هديره چا ته پرېږدو؟

لمر ته مو شا ده او دَ خپل وجود په سيورې پسې
ځغلو په لورې دَ ماښام ، رڼاوې شاته پرېږدو

موږ دَ خپل اور برخې لا هم شوقه ! په زَد دَ رڼا
دَ مشالونو په سرو باندې هوا ته پرېږدو

(کوئټه ... ۱۹۹۲ع)

## غزل ۱۶

نه خو زه ستا شوم ، نه ته زما وَختې
زه شومه تنده ..... ته سارا وَختې

بيا به ځان غواړې ،ځان به نه کړې پيدا
بس که يو ځل دَ چا په خوا وَختې


چا دَ ښېرې په سترګو نه کړې صحي
دَ حُسن لمره ! څه ځلا وَختې ... ؟

دَ نوې ژوند هيلو خوړليه شوقه !!

خالي لاسونه له دُنيا وَختې

( تاند وانۍ... ۱۹۹۰ع)

*****



افضل شوق

...لهجه او رویه ئې بې حده شاعرانه ده . احساس او شعور ئې دَ فلسفې دے خو نظر او ژبه ئې دَ شاعر ده. سلیم راز

...دَ هغهٔ نظمونه او دَ غزلونو شعرونه دراصل دَ هغهٔ دَ وجدان آواز دے دَ هغهٔ شاعري دَ "از دل خیزد بر دل ریزد" په مصداق ده .

سعید گوهر

...دریابي زړهٔ لري او سره د دې چې ځهٔ ئې په زړهٔ وي ، هغه ئې په خُله وي. اکرام الله گران

...مباغلے افضل دَ ادب دَ لیلا مئین دے او دَ مینې په دښته کې ئې دَ شوق کیږدۍ خوره کړې ده. پیر محمد کاروان

...او دَ هغه تخلیقي جنون او فکري لېونتوب ئې هغه دَ فن په انتها اودروي . حسینه گل

... همدغه انځورګري خو شوق په پښتو شاعري کښې له نورو شاعرانو نه منفرده کوي. فریده هودسیفي